# اروايي ښامار

## د پوهاند سيد بهاالدين مجروح د پښتو آثارو رواني څېړنه

ليکوال: عبدالغفور لېوال

۱۳۸۷ل

Ketabton.com

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

۱.د لارښود استاد نظر:
۲.سریزه
۳.لومړی فصل
- له ادبیاتو سره د ارواپوهنې اړیکې.
۴.ادبیات او اروايي مسالې.
۵.نړیوال معاصر ادبیات او ارواپوهنه.
۶.دویم فصل
- په ځانځاني ښامار کې د ارو پوهنې د نوي علم څرکونه
۷.د ښامار کیسه.
۸.ځانځاني ښامار او د روحي بحران لامل.
۹.د روحي رنځ زیږنځای په ځان کې دی.
۱۰.که له بله ځوریږو بیا هم علت په خپله ځانځانی کې دی
۱۱ . دوزخ ولې زیږي؟
۱۲. اید **Id** یا اماره نفس:
۱۳.سوپر ایگو **super Ego** یا ((د وجدان قاضي))
۱۴.ایگو **Ego** یا منځگړی
۱۵.د ځانځاني ښامار کیسه لکه د خوب لیدل
۱۶.تېرهېر خاطرات
۱۷.ځانځاني ښامار او عشق
۱۸.زړه ناخود آگاه یا ټولیزه ځان ناخبري
۱۹.په ځانځاني ښامار کې هنر ته تمایل
۲۰.په ځانځاني ښامار کې د عقل او فکر دریځ
۲۱.ژورخپگان **( Depression)**
۲۲.له مرگ څخه ویره
۲۳.دریېم فصل
- په ځانځاني ښامارکې شعور او تحت الشعور
۲۴.څلورم فصل
- په ځانځاني ښامار کې ځینې سمبولونه
۲۵.ښار
۲۶.بیابان

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۷.**د ورک سمندر غاړي
**۲۸.**لاروی
**۲۹.**ښامار
**۳۰.**سمڅه
**۳۱.**غرڅنۍ
**۳۲.**شالیلی
**۳۳.**د اژدها ستاینځای
**۳۴.**دوزخیان
**۳۵.**پرښته د ترورېمیو
**۳۶.**پینځم فصل
- په «ناآشنا سندرې» کې د کیسو رواني اړخ
**۳۷.**پایله
**۳۸.*مأخذونه***

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

له محتوایي پلوه ادبي آثار د هغو د بېلا بېلو اړخونو له نظره څېړل کېږي. د بیلګې په توګه یو شمېر ادبي آثار د بلاغت د فنونو او په هغو کې د هنري ارزښتونو له نظره د پام وړ وي، ځینې یې له تاریخي پلوه د اسې اسناد په لاس ورکوي چې د مورخینو لپاره د استناد وړ ګرځي، یو شمېر ادبي متون له ټولنپوهانو سره مرسته کوي چې د یوې ځانګړې بشري ټولنې جوړښت او څرنګوالی معرفي کړي او حتی د انتروپولوژیکو (Anthropology) مطالعاتو لپاره مرستندوی مواد برابروي. همدا راز په نړۍ کې ځینې مهم او تلپاتې ادبي آثار د اروا پوهنې او اروا څېړنې «روانکاوي» له نظره مهم او په زړه پورې وي چې په تېره بیا معاصر کره کتونکي د اسې آثار د اروا څېړنې د میتودونو له مخې ارزوي، چې په اثر کې د لیکوال یا د اثر د داخلي کرکټر «کرکټرونو» رواني خصوصیات را پېژني. ښایي دلته یادونه وکړو، چې د اسې تحلیلونه د ادبي آثارو له فلسفي تحلیل او ارزونو سره توپیر لري او تر یوه بریده د اروا پوهنې د تاکلیو علمي چوکاټونو په داخل کې تر سره کېږي نه د فلسفي تفسیرنو او شرحو له مخې.

د پښتو ادبیاتو په اړه اروا څېړنیز تحلیلونه، نه خو ډېره سابقه لري او نه یې هم د شمېر له مخې ډېر زیات لرو. او که نه له شفاهي او فولکلوریکو آثارو رانیولې تر یو شمېر مدونو «کلاسیکو او معاصرو» ادبي شهکارونو پورې د اسې آثار شته، چې د اروا پوهنې له معیارونو سره سمې په زړه پورې څېړنې پرې وشي؛ لنډۍ، ولسي کیسې، شعرونه، داستانونه او منظومې له همد اسې آثارو څخه ګڼل کید ای شي.

په معاصرو پښتو ادبیاتو کې د اروا ښاد پوهاند دکتور سید بهأ الدین مجروح ځانځاني ښامار هغه ادبي شهکار دی چې د اروا پوهنې له پلوه د تحلیل او تفسیر ډېر مواد په کې شته او که د اروا څېړنې له معیارونو سره سم تحقیق ورباندې وشي نو لږ تر لږه دوه لوېې ګټې به ولري: یوه دا چې د ادبیاتو مینه وال به د دغه اثر له ژورتیا او معنوي ارزښتونو سره لا نور اشنا شي او په یو شمېر هغو رواني واقعیتونو به خبر شي چې په دغه ادبي اثر کې رانغاړل شوي دي، او دوهمه ګټه به یې دا وي چې ځوان لیکوال او شاعران به دا زده کړي، چې څه ډول په یوه ادبي او هنري اثر کې د انسان دروني احساسات او ځانګړنې لکه لا شعوري زیرمې، ښکلا خوښوونه، خوشالي، غم، وسوسې، اضطرابونه، خوبونه، غریزې، پټې ویرې او روحي عذابونه منعکس کید ای شي، او په دې توګه به ځانځاني ښامار په راتلونکو پښتو ادبیاتو کې د نورو په زړه پورې آثارو د تخلیق لپاره یوه ښه پیلامه او موډل شي.

تر هغه بریده چې زما لاس رسیده او له دوستانو مې وپوښتل د استاد مجروح د دغه اثر په اړه د اروا څېړنې پر بنسټ ډېر څه نه دي لیکل شوي، که څه هم د دې کتاب پر دري او پښتو متونو ګڼې فلسفي او ادبي لیکنې شوي خو له دې ځانګړې زاویې څخه لږ څېړل شوی دی. په چاپي لیکنو کې ما یوازې د ښاغلي اسدالله غضنفر هغه لیکنه وموندله چې د ځولۍ مجلې د دویم کال په لومړۍ او دویمه ګڼه کې د «پیغامونه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټې پراته په افسانو کې» تر سرلیک لاندې چاپ شوې ده او الحق چې د دغه اثر په زړه پورې اروا پوهنیز تحلیل یې ګڼلی شو، خو د ښاغلي غضنفر لیکنه د یوې مقالې په حدودو کې یو ازې د اثر پر یو شمېر برخو رڼا اچوي او پوره تفصیل نه لري.

په ناچاپو آثارو کې ما ته د ښاغلي پوهندوی اسد اسمایي یوه لیکنه په یاد ده چې د خپلې علمي ترفیع لپاره یې پر «اژدهای خودی» باندې لیکلې وه، زه نه یم خبر چې هغه لیکنه چاپ شوې ده که نه؟ خو ما یې قلمي بڼه لوستې وه او زما لپاره خورا په زړه پورې وه.

هغه مهال چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې د ماسترۍ دورې په وروستي سمستر کې د تیزس لیکلو بحث راغی زما درونداستاد ښاغلي سرمحقق زلمي هېواد مل ما ته هدایت راکړ چې دغه موضوع (د استاد مجروح د پښتو آثارو رواني مطالعه) غوره کړم او ما د لاندنیو دلایلو پر اساس دا موضوع خوښه کړه:

۱. د استاد مجروح له دغه اثر سره مې له پخوا څخه علاقمندي درلوده او څو څو ځله مې لوستی و، بلکې له پخوا مې غوښتل چې د ځانځاني ښامار په اروایي ځانګړنو څه ولیکم.

۲ـ ما د نړیوالو ادبیاتو یو شمېر بېلګې لوستې وې چې د ادبي مبصرینو او کره کتونکو له خوا وربادې رواني څېړنې شوې وې د بېلګې په توګه زیګموند فروید د هغو نظریاتو مطالعه راته په زړه پورې وه چې د داستایفکسي د آثارو په اړه یې درلودل دا د هغو احساساتو په اړه څرګندونې وې چې ما شومان یې د والدینو په تېره بیا پلار په وړاندې لري او له یوناني سوفوکل څخه را نیولې تر انګریزي شکسپیر او روسي داستایفسکي پورې تولو په سره ورته بڼه په خپلو آثارو کې تمرکز پرې کړی دی. همدا راز د ګویته د فاوست تراژیدي په اړه مې د اروپایي لیکوالو هغه نظریات لوستي وو چې د اروا پوهنې معیارونو له مخې یې څرګند کړي وو، د ایراني لیکوال صادق هدایت د کیسو په تېره بیا «بوف کور» ناول اروا څېړنیز تحلیلونه یې هم د یادونې وړ سیمه ییزې بېلګې دي.

ما ته د استاد محمد صدیق روهي د کتاب «ادبي څېړنې» او د کارل ګوستاو یونګ اثر «انسان او د هغه سمبولونه» مطالعې دا انګیزه را کړه چې کیدای شي د یو شمېر پښتنو لیکوالو او شاعرانو پر آثارو هم د اروا پوهنې له نظره بحث او مطالعه وشي، چې په دې لړ کې راته لومړی مستحق اثر همدا ځانځاني ښامار ښکاره شو.

۳. ما د ښوونځي د وروستیو کلونو له دورې څخه د اروا پوهنې له آزادې مطالعې سره مینه درلوده او په دې کې مې یو شمېر زاړه او نوي آثار لوستي وو خو په دې برخه کې د یو شمېر تخصصي زده کړو چانس مې هغه وخت تر لاسه کړ چې د امریکې د متحده ایالاتو د مریلند په پوهنتون کې د ژورنالیزم په زده کړه بوخت وم. هلته د «عامه ذهنیت» په کورس کې د ټولنیزې اروا پوهنې Social psychology زده کړه لازمي وه، په تېره بیا د David G.Myers کتاب په دې برخه کې ښه روزنیز اثر و چې له اروا پوهنې سره یې زما مینه لا پسې زیاته کړه.

کله چې موضوع د تیزس لپاره وټاکل شوه، تر هر څه وړاندې مې د ماخذونو په راټولو پیل وکړ، د فروید او ګوستاو یونګ مجموعې مې برابرې کړې او د استاد مجروح د ځانځاني ښامار تر څنګ مې د هغه نوره پښتو شاعري هم وپلټله، ځکه لاړښود استاد راته د اروا ښاد مجروح پښتو آثار ښوولي وو، چې په

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو کې له ځانځاني ښامار پرته د هغه له «نا اشنا سندرې» مجموعې څخه هم پخپله د «نا اشنا سندرې» شعر د بحث وړ و ، چې تاسو به يې د همدې رسالې په پای کې ولولئ.

په لومړی ګام کې مې ځانځاني ښامار يو ځل بيا په غور ولوست او هغه برخې مې په نښه کړې چې زما له نظره زما د علاقې وړ موضوعات « د انسان د اروايي ځانګړنو څرنګوالی» په کې تمثيل شوي وو. بيا مې هڅه وکړه چې د خپلې دغې رسالې د تنظيم لپاره ځانته يو کاري ميکانيزم جوړ کړم او د هغه له مخې بېلا - بېل موضوعات طرح او معرفي کړم. زه دې ته متوجه وم، چې استاد مجروح نه دي غوښتلي په ځانځاني ښامار کې د اروا پوهنې تدريس وکړي، بلکې زموږ د دغه استاد غوښتل داسې يو ادبي اثر ايجاد کړي چې له خپل هنري ارزښت سره سره يو شمېر فلسفي افکار هم ارائه کړي او د انسان د پيچلي روحي جوړښت ځينې مشخصات هم معرفي کړي. نو زما کار يوازې له وروستی مسالې سره و او بايد د اثر دغه ځانګړتيا مې تحليل کړې وای. خو تر دې مخکې دا يادونه ضرور وه، چې بايد يو څه توضيحات وړکړل شوي وای، چې څنګه ادبيات د انسان د رواني پېښو د تمثيل لپاره کارول کېږي، د رسالې اول فصل په همدې هکله دی، په دې توګه هيله ده لوستونکي دا ومومي چې ادبيات او اروا پوهنه څه اړيکې سره لري او په نړيوالو ادبياتو کې د داسې اړيکو يو شمېر بېلګې کومې دي.

په دوهم فصل کې چې د بحث موضوع «ځانځاني ښامار» ته ځانګړې شوې، لومړی د دغه اثر د کيسې لنډيز او بيا يې د هرې روحي ځانګړنې په اړه تحليلي بحث راغلی دی.

په دريم فصل کې د نوې اروا پوهنې تر ټولو ستر کشف «د تحت الشعور ساحه» او له شعور سره يې اړيکو ته ځانګړی شوی دی، د يادولو وړ ده چې استاد مجروح په ځانځاني ښامار کې د انسان په روح کې د دغې ساحې په زړه پورې تمثيل راوړی دی. د بشري تاريخ په اوږدو کې او د جمعي شعور د جوړښت په بهير کې د ګڼو انسانانو لپاره يو شمېر نښې په ګډو سمبولونو بدلې شوې دي، يونګ په خپلو ليکنو کې د داسې سمبولونو د اهميت په اړه تفصيلي بحث لري ددغې رسالې په څلورم فصل کې يو شمېر هغه سمبولونه معرفي شوي دي چې په ځانځاني ښامار کې شته، د ښامار ځينې سمبولونه فردي او ځينې يې قراردادي دي.

د رسالې پنځم فصل د استاد مجروح د نا اشنا سندرو هغه اثر ته ځانګړی شوی چې اروا ښاد استاد يې له ځينو لويديځو اسطورو څخه سوژه اخيستې او د انساني خصوصيتونو تمثيل يې د بېلا بېلو کرکټرونو په مرسته کړی دی، په دې بحث کې موږ وينو ، چې انسان څنګه د غريزو او عواطفو په مرسته د خپل روان سفر پيلوي او هلته له کومو پېښو سره مخامخ کېږي. زما په ګومان د استاد مجروح دغه شعر د خپل ادبي ارزښت تر څنګ دا هم ښيي چې اسطورې د بشري ذهن د محصول په توګه تصادفي نه دي رامنځ ته شوې بلکې د ګڼ تفکر په نتيجه کې د انساني روح د بېلا بېلو اړخونو د معرفي لپاره ور څخه کار اخيستل شوی دی.

په دې کتابګوټي کې ما هڅه کړې ده چې د ځانځاني ښامار او ناآشنا سندرو يو شمېر هغه رمزونه او پيچلې مسايل آسانه کړم چې ښايي د ځينو لوستونکيو لپاره په اول ځل لوستلو سره د پوهېدو وړ نه وي، ځکه دغه مسايل په يوه بل مستقل علم «اروا پوهنه» کې ريښې لري، او دا د هرې هغې ليکنې ځانګړنه وي چې په دغسې ادبي آثارو باندې کښل کېږي، په حقيقت کې دا معرفي د تفسير او تحليل ګډوله ده، چې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدای شي یو شمېر تعبیرونه یې زما د قاصر ذهن محصول وي، ځکه خو یې پر حتمي کره والي ټینګار نه لرم، امکان لري له ځینو سمبولونو، تمثیلونو او د پېښو له تصویرونو څخه د شاعر مرام بل څه وي، او دا هم ممکنه ده چې نور لوستونکي ورڅخه بل ډول تعبیر ولري چې له یوه ادبي اثر څخه د بېلا بېلو تعبیرونو د درلودلو حق هر چاته خوندي وي. مګر هغه هڅه چې ما کړې دا ده، چې د امکان تر بریده د ارواپوهنې د ځینو علمي سرچینو پر اساس د استاد مجروح په یادو شویو آثارو کې د رواني پېښو او انګیزو چاپېریال او زمینې معرفي کړم. او هغه کرکټرونه چې له ځینو رواني خصوصیاتو څخه نمایندګي کوي، لکه ایګو، د حتمي مرګ تصور، مینه، عقل، غرایز او نور وڅېړم.

لوی خدای دې وکړي چې په خپله هڅه کې بریالی شوی یم. دلته غواړم د خپل لارښود استاد ښاغلي سرمحقق هېواد مل له ټولو نیکو مشورو لارښوونو او مرستو څخه مننه وکړم او تر ټولو وړاندې د هغه اعتماد یې ځانګړې مننه وی یم چې د داسې ستونزمنې چارې د ترسره کولو لپاره یې پر ما وکړ. ددې سریزې په پای کې دا هم د یادونې وړ بولم چې ددې رسالې له هر لوستونکي څخه زما هیله دا ده چې په دې لیکنه کې زما تېروتنې راته وښيي او ځوان لیکوال او څېړونکي په راتلونکي کې د نورو ممتازو ادبي آثارو ورته تحلیل او ارواڅېړنیزې معرفۍ ته متې بډ وهي.

په درنښت

عبدالغفور لېوال

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

# له ادبیاتو سره د اروا پوهنې اړیکي

له تاریخي پلوه اروا پوهنه د یوې ځانګړې پوهې په توګه نوې پوهنه ده، خو په دغې پوهنې پورې اړوند ځینې بحثونه له پخوا څخه په نورو علومو کې موجود وو. فلسفه، ادبیات او طب هغه علوم دي چې د اروا پوهنې بحثونه یې خوندي کړي وو. په زاړه یونان کې چې فلسفه، د پوهنو او فکرونو د سیستماتیکې مجموعې په حیث، ډیره د پام وړ وه د انسانانو د رفتار او شخصیتي ودې په اړه یو شمیر مهم موضوعات هم په کې شامل وو.

په پخوانیو ادبیاتو کې هم د انساني نړۍ دروني مسایل او هغه څه چې په اروایي انګیزو پورې اړه لري مطرح وو، د نړۍ تر ټولو زړه حماسه ګېل ګمېش په حقیقت کې دایمي ژوند ته د رسیدو لپاره د انسان پټه تلوسه تمثیلوي، چې آن د دغې زړې حماسې رواني اړخ هم خورا جالب دی. د دې حماسې اتل ګېل ګمېش چې وینې ځواکمن ملګری یې (انکیدو) مري نو وسوسه ورته پیدا کیږي چې سبا به دا حال په ده هم راشي، له ځانه سره فکر کوي او په یوه تعبیر خپل روان ته ننوزي. را وروسته د یونان په سترو ډرامو کې پاچا ادیپ هغه ادبي اثر دی چې د پلار په وړاندې د زوی د رقابت پټه عقده په بله بڼه څیړي. هسې چې په نوې اروا پوهنه کې له کورنۍ په تیره بیا له پلار سره په روان کې زیرمه شویو عقدو ته د ادیپ عقدې وایي. موږ به په ادبیاتو کې د اروایي مسئالو او اروا پوهنې د موجودیت نورو بېلګو ته وروسته په تفصیل اشاره وکړو خو دلته غواړو له تاریخي پلوه د اروا پوهنې پخواني بحثونه وپلټو.

طب یو له همداسې علومو څخه و، چې د اروا پوهنې ارګانیکي مسایل یې له پخوا څخه په ځان کې ځای کړي وو. انسانانو له ډېر پخوا څخه د خپلو خوبونو، عادتونو، خپګان، خوشحالۍ او نورو اراوایي انګیرنو په اړه فکر کاوه، په تیره بیا خوبونه چې د اروا پلټنې (روانکاوي) یوه جدي موضوع ده، د پخوانیو انسانانو لپاره هم د پام وړ وو.

خو په نوې زمانه کې اروا پوهنه د یو مستقل علم په توګه هغه وخت رامنځ ته شوه چې جرمني ویلهم - وونت د اروا پوهنې لومړنی ازمېښتځای په ۱۸۷۹م کال د لایپزیک په پوهنتون کې رامنځته کړ. تر ده

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته جي.استنلي او ويليام جيمز په امريکا کې د اروا پوهنې نوي مباحث پيل کړل او د جيمز د اروا پوهنې د آرونو په نامه يو کتاب په ۱۸۹۰م کال کې خپور کړ(-http://ahoo
.( raranioot,blogfa.com/post-3.aspx

خو د اروا پوهنې په هغه برخه کې چې موږ بحث پرې کوو اتريشي اروا پوه زيګموند فرويد او کارل ګوستاو يونګ جدي کارونه کړي چې وروسته به بحث پرې وشي.

خو راځئ وګورو چې اروا پوهنه څه ته وايي؟

اروا پوهنه هغه علم دی چې د انسان کړه وړه او روحي (پديدې) په علمي بڼه څيړي، له کړو وړو څخه هدف د انسان هغه کړنې دي چې پخپله د کوونکي، ليدونکي يا تجربې وسايلو په مرسته د مشاهدې او احساس وړ وي.

(۲-۱)

اروا پوهنه د تجربو او جوړښتونو له مخې په بېلا بېلو مکتبونو ويشل کيږي چې موږ يې دلته په ويش باندې کار نه لرو.

موږ به د دغه اثر په پيل کې د اروا پوهنې اړيکي له ادبياتو سره وڅيړو او بيا به د پوهاند مجروح په آثارو کې اروايي مسايل وڅيړو. په دې بحث کې به د ښوونې او روزنې، طبي، شخصيتي، کړو وړو او اروا پوهنې ته ډير پام نه وي، بلکې د هنر او ادبياتو په وسيله د يو شمير اروا پوهنيزو مسايلو د مطرح کيدو اړخ به وڅيړل شي.

## ادبيات او اروايي مسألې:

انسانانو همدا ، چې فکر کول پيل کړ د طبيعت ( خپل ماحول ) په اړه، د بل (انسان) او د ځان په اړه يې يو شمير حقايق وموندل يعنې دده پوهه د طبيعت، فرد او ځان په هکله له فکر کولو څخه راوزيږيده. انسانان د ژوند له لومړيو زمانو څخه متوجه شوی چې يوازې فزيکي او طبيعي عوامل لکه ساړه، تودوخه، باران او باد دوی پر بدن اغيز نه لري بلکې په دوی کې د ننه هم ځينې عوامل شته چې دوی بايد د هغو په هکله فکر وکړي لومړنيو انسانانو د خوشالۍ او غم عاطفې او کرکې، مينې او خپلوۍ احساس دې ته متوجه کړل چې بايد د ځان په هکله فکر وکړي او بالاخره پوه شي چې د دوی په روح کې څه تېريږي. وروسته بيا انسانان د ښکلا خوښوونې په غريزه پوه شول او د ښکلي او ناښکلي د تشخيص ځواک يې خپل کړ، د ښکلا په اړه دروني احساس هيڅ ډول فزيکي موجوديت نه درلوده خو ښکلا ته تږی انسان له ډېرې پخوا څخه د ښايستونو شوقي و، تردې وروسته په بل ګام کې له ځينو طبيعي پېښو او نورو انسانانو څخه د بېلا بېلو خاطراتو تداعي ته متوجه شو ، خوبونه يې وليدل او پر سمبوليک اهميت يې وپوهېدل د ټول د ځان په اړه د انسان تفکر لا اوږد او پيچلی کړ او په دې توګه د اروا پوهنې لومړني فکري زړي رامنځ ته شول.

له تر ټولو لرغونې معلومې حماسې ( ګېل ګمېش ) څخه نيولې تر نويو آثارو پورې ګڼ ادبي آثار د انسان له وسوسو، ويرو، اضطرابونو، خوبونو، مينې، ښکلا خوښوونې، غم، خوشالۍ، پټو او ښکاره تمايلاتو او غريزو څخه حکايتونه کوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامتو اروا پوه فروید فکر کاوه چې جنسي غریزه له ماشوبتوبه له انسان سره مله وي او د شخصیت د ودې په څرنګوالي کې ونډه لري. (۱۲۵-۷)

ددې فکر یو بل تعبیر مور، په ګېل ګمېش کې هم موندلی شوه. هلته چې انکیدو له ژویو سره یو ځای ځري او کاملاً یو وحشي موجود دی، ارباب الانواع ددې لپاره چې انساني ژوند ته یې راوبولي د معبد یوه ښکلې خدمتګاره ورلیږي او انکیدو کله چې له هغې سره پریوزي، انسانیت، خوند او غریزو ته متوجه کیږي او ورو ورو له ژویو څخه را بیلیږي او مدني ژوند ته مخه کوي. په ګېل ګمېش کې خوبونه ټاکونکی رول لري، پخپله ګېل ګمېش، د هغه مور، انکیدو او ارباب الانواع ډېر څه په خوب کې ویني او د هغو له تعبیرونو سره سم حرکت کوي.

(۳۱، ۳۵-۱۵)

ددغو قهرمانانو او ضد قهرمانانو په خوبونو کې سمبولونه ډېر عجب دي او تر زرګونو کلونو وروسته لا اوس هم دغه سمبولونه په ورته یا لږو ډېر بدلون خپل ځای لري، په دې حماسه کې د مرګ په وړاندې اضطراب، د قدرت ښوونې عقدې او د دوستی، عاطفه، مینه، انتقام او کینه ټول وینو چې څنګه د کرکټرونو پر اروايي حالتونه حکم چلوي.

تر دغې زړې حماسې را وروسته په یونان کې لوی ادبي آثار د هومرله ایلیاد او ادیسې را نیولې د سوفوکل تر پاچا ادیپ او نورو پورې ټول د انساني اروا په بېلا بېلو اړخونو پورې اړوند موضوعات مطرح کوي. اسطوره پوهان (متیالوژیستان) لکه اوید میبرس او نور باور لري چې په دغو آثارو کې اساطیر د انساني اروا د بېلابېلو څواکونو استازیتوب کوي. یو شمېر اساطیر د جنسي غریزو، ځینې د حرص، سخاوت، شرارت، نیکي او داسې نورو عادتونو لپاره سمبول دی. مثلاً هلن د ښځینه فکر، ښکلا، هوس او بې وفايي لپاره ننبه ګڼل شوې ده. یوروپیدیز پخپل نامتو اثر (د ټراي ښځې) کې په ښکاره بڼه د یوناني او تراوايي ښځو رواني ځانګړنې په هنري ژبه څرګندوي. (۱۳۰-۴۰-۳مخونه)

کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي په خپل کتاب (ادبي څېړنې) کې د یورو پیدیز په هکله لیکي:

«د یوروپیدیز آثارو هغه وخت محبوبیت وموند، چې په اروپا کې په کپیټالیزم پورې مربوطې روحي او عصبي ناروغتیاوې خپرې شوې (یوروپیدیز) سایکالوجست و او د انسان د سلوک انګیزې یې په ژوره توګه تحلیل کړې دي». (۴۲۸-۲)

د استاد روهي په وینا د یوروپیدیز بله نامتو ډرامه (میدیا) هم د یوې ښځې روحي عقدې څېړي:

« په لومړي اکټ کې (میدیا) زاري کوي او ښکې تویوي او په وروستي اکټ کې لعنتونه استوي.

(میدیا) یوه تحقیر شوې او ځپل شوې میرمن ده، چې بلاخره د انتقام په فکر کې لویږي...»

(۴۲۹-۲)

موږ وینو چې د سایکالوژي (اروا پوهنه) په ادبیاتو کې څومره لرغوني ریښې لري، استاد روهي داښیي، چې که څه هم د یوروپیدیز په زمانه کې اروا پوهنه د یو مستقل علم په توګه نه وه موجود، خو پخپله یورپیدیز د هغې زمانې یو اروا پوه (سایکالوجست) و ځکه د هغه په آثارو او ډرامو کې د اروا پوهنې مسایل لیدل کیږي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یوازې په لویدیځ کې نه، بلکې د ختیځ لرغوني ادبیات هم ګڼ داسې آثار لري چې په هغو کې د انسان د اروایي ځانګړنو یوه یا څو اړخونو ته ځای ورکول شوی دی. د نامتو هندي ډرامه لیکوال کالیداس په زړه پورې ډرامه شکونتلا یو همداسې ادبي اثر دی. په دې ډرامه کې بیرته (زه) ته راګرځیدل یا د (له لاسه تللي زمان تداعي) مساله خورا عجیبه مطرح شوې ده. انسانان له خپلې ماضي سره روحي اړیکې لري، د ماضي مهمې پېښې او انګیرنې په لار شعور کې رسوب کوي او د هغو بیا فوران د انسان پر اوس او راتلونکې بدلوونکې اغیز درلودای شي.

دوشیانته پاچا چې د زړه له کومې پر شکونتلا عاشق شوی و، د اغیار د ښېرا اله امله خپله مینه هېروي اوتر اوږدو پېښو وروسته په ناخود آګاه بڼه د شکونتلا ماشوم ویني او د خپلې مینې هېر شوی اور یې په زړه کې را تازه کیږي (۴ ـPP) د دغې ډرامې اوج په همدې رواني تداعي کې نغښتی دی، که څه هم هره پېښه خپل عیني وسایل او دلایل لري خو سړی ویلای شي چې ډېرې پېښې د (دوشیانته) په دننه (خود) کې پېښیږي. استاد روهي دغې تداعي ته داسې اشاره کوي:

« څه موده پس د ښېرا وروستۍ ژمنه پوره شوه او د پاچا تر ایرو لاندې خاطرې بیرته تازه شوې؛ خو څه ګټه؟ (شکونتلا) اسمان ته ختلې وه.» (۲-۴۸۴)

زمونږ د هیواد د دواړو ژبو پښتو او دري په کلاسیکو ادبیاتو کې اروا پوهنه، لکه فلسفي افکار په پراګنده ډول شته، د سنایي غزنوي شیخ فریدالدین عطار، مولانا جلال الدین محمد بلخي، خوشال خان خټک، رحمن بابا او نورو په شاعرۍ کې د انسان د رواني پېښو په زړه پورې ننښې لیدلای شو خوشال خان خټک ډېر ځله د خپلو اروایي انګېرنو تر اغیز لاندې دی، کله خوده په خپلو شعرونو کې د خپلو اروایي کشمکشونو شورو شر ته داسې اشاره کړې وګورئ:

چې قانع د زمانې په خشک و تریم
که مې پېژنې بادشاه د بحرو بر یم
په درون کې مې پراته دي ډېر
په معنی کې لکه کان د سیم و زر یم
که مې لاس لکه دریاب خالي لیده
د ټټر دننه ډک په در ګوهر یم
لا یو شور راځنې لاړ نه وي بل
مګر زه پیدا په ورځ د شور او شر یم
زیست روزګار به چې له خلکو سره نه شي
زه خوشال له واړه خلکه مرور یم (۵-۸۸-۸۹)

د خوشال په آثارو کې د Individualism یا فردیت (یوازی توب) احساس ډېر ځله ګورو، یو لامل چې د خان د ژوند په پریکړو کې یې هم اغیز درلود د فردیت همدغه غوټه وه خان د ژوند په وروستیو ورځو کې فکر کاوه چې یوازې دی، ښایي دده د سیاسي پریکړو قاطعیت هم د هغه د یوازیتوب د پټ احساس مولود و، البته دا یوازیتوب رواني اړخ لري نه ټولنیز:

د یار غم به په تنها صورت زغمم

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابې درد عالم به نه را خبروم
آشنايي له جدايي‌ه سره نه ده
د مرهمو قدر داغ څخه ګڼم (۱۲۹-۲)

## نړيوال معاصر ادبيات او اروا پوهنه:

اتريشي اروا پوه زيګموند فرويد (۱۹۳۹-۱۸۵۶م) له خپلو علمي نظرياتو سره په معاصرو ادبياتو ژور اغيز درلوده. فرويد د خود آګاه او ناخود آګاه يا شعور او تحت الشعور پرڅرنګوالي کار وکړ، له بلې خوا يې د انسان د شخصيت پر تکامل د جنسي غريزو اغيز وڅېړه، دغه نامتو اروا پوه د خپلو تيزسونو د بيان لپاره اروپا او امريکا ته سفرونه وکړل او په خپلو مشهورو خطابو کې يې خپل نظريات روښانه کړل. (۵۲-۱۲-۷)

دده نظرياتو په تېره بيا د انسان په لاشعور کې د عقدو د ترسب او بيا فوران او د هغوه د اغيزو په اړه، وروسته بيا د ګڼو لويو ليکوالو په آثارو کې ځان را څرګند کړ.

تردې چې د سورريااليزم د مشهور هنري – ادبي مکتب ريښې دده له نظرياتو څخه رامنځته شوې ګڼل کيږي. استاد روهي ليکي:

« سورريااليزم په معاصر هنر کې يو ذهني ايډياليستي تمايل دی، چې د کپيټاليستي ټولنې د بحرانونو زيږنده دی.

ددې هنري جريان ريښې د ( زيګموند فرويد ) اتريشي اروا پوه په نظريو کې ليدل کيږي. (۴۰۳-۲)
سورريالستانو فکر کاوه چې د انسان د تمايلاتو او غوښتنو لويه برخه په لاشعور کې ده، له بلې خوا دوی هم د رومانتيسيسم د مکتب د پلويانو په څېر له تخيلي، غير عقلي او اريانوونکو پېښو سره علاقه درلوده که څه هم اجتماعي، سياسي او اقتصادي شرايطو له هغې ډلې څخه لومړی نړيوالې جګړې د سورريالستانو د نظرياتو او افکارو په شکل موندنه کې لاس درلود خو د فرويد نويو اروا پوهنيزو نظرياتو د تخيل او تفکر لپاره نوي مواد چمتو کړل استاد روهي بل ځای ليکي:

« د اروا پوهنې په ساحه کې سورريالستان د ( فرويد ) لمنې ته لاس اچوي او ګومان کوي، چې د انسان د هلو ځلو لمسوونکی د شعور نه لاندې ذهني جهان دی. دوی وايي، چې د انسان د عمل او سلوک محرک دده تحت الشعور دی». (۴۰۵-۲)

ددغه مکتب له نامتو ليکوالانو څخه اندره برتون و چې فکر يې کاوه: د انسان ډېر ژور احساسات هغه وخت په ټوله معنی تجلی کوي، چې موهوم تصورات ټولو ذهني شيانو ته لاربښوونه وکړي او د انساني منطق او برهان واګې له لاسه ووزي. د سورريالستانو په آثارو کې خوبونو او د بې خودی تخيلاتو لوی ځای درلود. دوی د ذهن سيال جريان ته ډېر اهميت ورکاوه او له ځان سانسوری څخه به يې ځان ساته.

پخپله زيګموند فرويد له ادبياتو سره کلکه علاقه درلوده، ده د آلماني ژبې له ادبياتو پرته د فرانسوي او انګريزي ادبياتو پوره مطالعه درلوده او په ايتاليايي او اسپانوي هم پوهيده. (۴۵-۷)

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روسي ادبیاتو کې یې د داستایفسکي له آثارو سره مینه درلوده. حتی له ده څخه نقل قول شوی چې فروید ویل ما د ارواپوهنې ډېر مسایل د داستایفسکي له آثارو څخه زده کړي دي. فروید د ( پلار وژنه ) په نامه یو لیکنه لري او هلته پر داستایفسکي خبرې کوي نوموړي پخپله د لیکوال پر ارواییي ژوند د هغه په فکرونو او آثارو خبرې کوي. د فروید له نظره د داستایفسکي تر ټولو لوی شهکار ( د کارامازوف ورونه ) تر ټولو مهم رومان دی چې تر هغه وخته لیکول شوی و.

( د کارامازوف ورونه ) په رومان کې مشر ورور خپل پلار وژني، دوهم ورور یې بې عقیدې دی او دریيم یې یو کلک مسیحي، ارواپوهان عقیده لري چې د دغه رومان هر کرکټر په حقیقت کې د انسان د یوه رواني خصوصیت سمبول دی او په بله وینا دا د انسان د رواني ځانګړنو د کشمکش کیسه ده. فروید فکر کوي چې درې ادبي شهکارونه یو له بل سره رواني اړیکې لري، د سوفوکل په پاچا ادیپ کې ادیپ خپل پلار وژني، خو ناخبره وي چې هغه یې پلار دی، دا د لاشعور عمل دی، د شکسپیر په هاملت ډرامه کې هاملت تقریباً په نیمه خبرۍ حالت کې خپل پلندر وژني چې دا د نیمه آګاه ذهن عمل دی (کارامازوف ورونه) رومان کې مشر ورور خپل پلار په لوی لاس وژني چې دا د شعور عمل دی، خو د فروید له نظره ټول د یوه رواني میلان ننبه ده: (زوی د پلار په وړاند )فروید وایي، داستایفسکي پخپله د ژور خفګان په ناورغۍ اخته و، لا ډېر کشرو، چې پلار یې مړ شو، ده به عجیب و غریب خوبونه لیدل، تردې چې د داستایفسکي ورور (اندري) ویلي و، چې ورور یې په یوه یادانبت کې غوښتنه کړې وه چې کیدای شي د مرګ په څېر په کوم اوږده خوب ویده شي ځکه خو که داسې وشول تر پنځو ورځو پورې دې یې نه خښوي. (۸-۲۵۳-۲۷۲)

فروید نتیجه اخلي چې دلیکوال شخصي رواني حالتونه د هغه د آثارو اتلانو ته ورلیږدي، کله کله د ځینو آثارو قهرمانان په یوه یا بله بڼه د لیکوال د رواني شخصیت څرګندوی وي، له همدې امله خو په ادبي آثارو کې د لیکوال ارواپوهنې ته خیال ساتل کیږي.

د داستایفسکي ګڼ آثار لکه:

تش لاسي- جنایات او مکافات، قمارباز، بېړا (ابله)،د مړیو د کور خاطرات، تسخیر شوي، خام ځوان، د یوه لیکوال د یادښت کتابچه، تحقیر شوي، او سپینې شپې د داسې رواني کرکټرونو پر اعمالو تمرکز کوي چې له رواني پلوه له بېلا بېلو عقدو څخه ځوریږي دا یوازې داستایفسکي نه دی، بلکې د نوي عصر ګڼ اروپایي امریکایي او ختیځ لیکوال او شاعران شته چې د نوي ارواپوهنې په رڼا کې یې آثار د پام وړ ارواپوهنیز مسایل لري او موږ دلته یوازې څو بېلګو ته اشاره وکړه. د بېلګې په توګه د پل الوار شعرونه په دې برخه کې خورا په زړه پورې آثار دي. ددغه شاعر اصلي نوم اوژن ګرندلEugen Grindel و، په پاریس کې پر ۱۸۹۵ وزیږید او په ۱۹۵۲کې ومړ.

د نوي ارواپوهنې بحثونه یوازې د سورریالستانو په آثارو کې نه، بلکې د نورو مکتبونو او سبکونو پیروانو په ادبي آثارو کې هم ځانګړی ځای لري، چې د ټولو یادول زموږ له دې بحث څخه وتلی کار دی.

زموږ ددغه بحث لنډه پایله داسې کیدای شي چې ارواپوهنه له ادبیاتو سره نږدې اړیکې لري. د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې د ارواپوهنې مسألو ډېر پخوا لا ادبیاتو ته لار موندلې وه، خو همدا چې د علومو د ودې او تکامل په نتیجه کې ارواپوهنه د یوه مستقل علم په توګه رامنځ ته شوه نو ددغې پوهنې یو شمېر

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه پوري بحثونه نويو ادبياتو په پراخه پيمانه را واخيستل، ترڅو چې کله کله يو د بل متمم شول مانا دا چې اروا پوهنې له ادبياتو او ادبياتو له اروا پوهنې څخه ډېر څه زده کړل او يو د بل د پرمختګ، ودې او رنګارنګۍ لامل شول.

اوس به راشو د خپل هيواد يو نامتو ليکوال، شاعر او فيلسوف ته چې ده په خپلو تلپاتې آثارو کې د اروايي مسايلو کوم اړخونه څېړلي او يا يې مطرح کړي دي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل

# په ځانځاني ښامارکې د اروا پوهنې د نوي علم ځرکونه

### پیلامه:

ځانځاني ښامار د اروا ښاد پوهاند بهاألدین مجروح هغه ادبي اثر دی چې د هنري ارزښتونو ترڅنګ د اروا پوهنې، فلسفې، ټولنپوهنې، او انسانپوهنې د مباحثو یوه تمثیلي ګډوله یې هم ګڼلی شو.

پخپله استاد مجروح د دغه اثر په سریزه کې کاږي:

«ځانځاني ښامار د انساني ژور طبیعت د تمرد او عصیان بیان دی او دا واقعیت درې جلا اړخونه لري. یو یې نفسي انفرادي اړخ دی او بل یې اجتماعي او سیاسي اړخ دی او دریېم د دې دواړو اړخونو ترکیب دی او هغه د انساني موجودیت فلسفي معنی ده.»

موږ په دې کتاب کې غواړو د ځانځاني ښامار پر اروایي psychological اړخ خبرې وکړو چې خامخا به د اثر فلسفي philosophic مسایلو ته هم اشارې په کې وي ځکه چې په داسې ادبي آثارو کې د فلسفې او اروا پوهنې قلمرو یو وي او ډېر ځله یو بحث هم اروا پوهنیز وي هم فلسفي.

زموږ په بحثونو کې به د ټولنیزې اروا پوهنې Socio-psychology ځینې اړخونو ته هم کتنه وشي ځکه وګړنۍ (فردي) اروا پوهنه د ټولنیزې اروا پوهنې ګڼې ځانګړنې له ځانه سره لري، چې پوهاند مجروح هم په خپل اثر کې په زړه پورې اشارې ورته کړې دي. خو تر هر څه وړاندې:

### د ښامار کیسه:

ځانځاني ښامار په پرولوګ (لومړنۍ خبرې) پیل کیږي، راوي د یوه فیلسوف یادونه کوي چې له ډېر فکر او سوچ وروسته دې پایلې ته رسیدلی چې: (ترکوم وخته چې دا زمکه او آسمان وي – تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي) اشاره نامتو وجودي فیلسوف ژان پل سارتر ته ده، چې ویل یې: انسان د انسان دوزخ دی، خو د ځانځاني ښامار راوي دا نه مني، بلکې د ختیځو عارفانو په څېر دوزخ په ځان کې خپل نفس ګڼي او خپله خبره له همدې ځایه پیل کوي. لاروی د نیمو شپو چې د اثر اصلي کرکټر دی د خپل سفر کیسه کوي چې څنګه د ژوند د واقعي مانا موندلو لپاره د وجود له ښاره ووزي، هغه ښار چې لا ودان و خو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاروی ورځخه د دښتو او بیابانونو خواته ولاړه، د انساني روح له راز راز پړاوونو څخه تیریږي او په خپله کیسه کې هغه را پیژني. تر پرولوګ وروسته لومړی ځرخ پیلیږي، لاروی لا هم د لاشعور د توري سمځې خولې ته ناست دی خو ګوري چې ښار نور په ویرانه بدل شوی او د ښامار (ایګو - قهرمان) راتلو ته لاره څاري، په همدې ځرخ کې قهرمان (له نفس، ښامار، ایګو څخه مراد) راځي او پر ښار خپله قهر جنه واکمني پیلوي، په اوله ورځ د میني غرځه د ټولو ښاریانو په وړاندې په غشي ولي او خپله ویره پر زړونو کینوي. اژدها حکم کوي چې دده لمانځني ته دې معبد جوړ شي او خلک دې دده عبادت کوي زوړ راهب په هر څه پوهیږي او د حاکم اصلیت ورته معلوم دی خو د خپلې ګټې لپاره د ښامار عبادت ته تبلیغ کوي او ښاریان د حاکم له قهره ویر وي، ښار د حاکم د قهر جنې واکمنۍ تر جبر لاندې ورو ورو شاړیږي او خلک د نیکمرغه ژوند ورځې هېروي، ویره، ناهیلي او اژدها ته اطاعت پر ټولو وزرغوړ وي.

د اول ځرخ په دوهم پړاو کې ښار له ښاریانو څخه خالي کیږي، ښامار ناڅاپه متوجه کیږي چې د ښار په لویه او ښکلې ماڼۍ کې یوازې دی، ښاریان څه مړه دي، څه دده په لاس د ماڼۍ په زیرخانو کې زنځیر تړلي بندیان دي او څه هم په نامالومه لوري تللي دي. قهار حاکم چې په ماڼۍ کې یوازې پاتې دی ویریږي، ناآشنا غږونه اوري، کله فکر کوي چې ځمکه ریږدي کله کله یې موهوم اشباح ویروي، قهرمان د ښار د آبادۍ وختونه ور په یادوي او د هغه تیارې مغارې په اړه فکر کوي چې دی یې خولې ته ناست دې کله کله د عشق او مینې ښاپیرۍ ور په یادیږي، د هغې ښکلا او مستي او د هغې په قلمرو کې د ژوند ننبې. ده ته ور یاد شو چې څنګه یوه ورځ په توند سیلاو او باران کې، چې سیند په ځپو ځپو بهیده او هر څه اوبو په سر اخیستي وو، (د مارانو ستر واکمنه) چې د ښیرازۍ، مینې او عشق ښاپیرۍ ده، د یوه آبي مار په څیرېې کوړۍ کوړۍ پر یوه غټه ګرګه کولچه وهلې د اوبو پر مخ له ملکه وځي، ددغې مار ښاپیرۍ پر سر یو تاج دی او په تاج کې یو لال ځلیږي، خلک چې د هغې وتل ویني خواشیني کیږي او همدا ورځ د خپل غمځپلي تاریخ مبدا ټاکي. لاروی په فکرونو کې ډوب ده او دا هر څه را یادوي، خو په دې وخت کې یوه بدرنګه، مرموزه، سیاهپوشه بوډۍ د یوازې پاتې شوي قهرجن حاکم ماڼۍ ته ورځي، پرته له دې چې ور وټکوي یا له چا پوښتنه وکړي مخامخ له دهلیزونو تیریږي او د ایګو قهرمان ملاقات ته ځان وررسوي، دغه بوډۍ د مرګ او فنا استازې ده.

د اول ځرخ په دریېم پړاو کې پېښې د نفس د دوزخ له درشل څخه د اخوا پیښیږي چې د شعور او عقل ساحه ده، په دې پړاو کې راوي یو ځل بیا د هغې زمانې کیسه کوي چې ښار د آبادۍ په حال کې و، او د عشق او مینې الهې پرې حکومت کاوه هر څه شنه زرغون وو، خو ناڅاپه پر همدې ودان ښار باندې ښامار ورننوت او خلک یې د خپلې حکمرانۍ له پیل څخه خبر کړل او ځان یې ور معرفي کړ چې:

زه خـــــو (زه) یـــــــم!
زه (ایـــــګو) یـــــــم!
زه فاتح د لـــوی جنګونو د جهان یم
قهرمان یـــــم بـــــې مثالــه
ستاسو ښار زمـــــا تابــع دی
تاسې ټول زمـــــا مریان یاست

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل د دغه قهرمان يوه بله ځانگړنه هم را پيژني چې د هغه ځانځاني او پر ځان مينتوب دی.

دغه پر ځان مين ښامار په ټوله مانۍ کې پر هر څه خپل نوم ليکي او د خپل ژوند ځای ټول له هند ارو ښخه جوړوي چې هره شيبه ځان ويني، هرې خوا ته چې سترگې اړوي نو خپل ځان وليدلای شي. قهرمان دومره په ځان کې ډوب شي چې ماضي، حال او مستقبل ټول ترې ورک او هېر شي. دا ځل قهرمان د مرگ په اړه فکر کوي، که څه هم په دې اړه فکر کول يې نه خوښيږي خو غواړي له مرگه د خلاصون او ابدي ژوند ته د رسيدو لاره ومومي. مگر يوازيتوب! يوازيتوب لوی درد دی، په يوازيتوب کې قهرمان يوه مرموزه ويره په سر اخلي، چې پخپله يې هم نه پيژني. قهرمان ويريږي چې زمانه ونه دريږي، دی په خپل ځان کې ننوځي او سفر کوي، له ډېرو سختو لارو ښخه تيريږي دی گوري چې ټولې لارې يې پخپله په لوی لاس ورانې کړې دي او ځکه خوله خپل يوازيتوبه هيڅ لوري ته تيښته نه شي کولای. يو ځل يې خپکۍ (خپسکه) نيسي، فکر کوي نيمه تنه يې په ځمکه کې ښخه شوې ده، بيا خپل سيوری ورښخه ورکيږي او بل ځل د داسې تندې احساس کوي چې که د ځمکې ټول رودونه هم وڅښي تنده به يې ماته نه شي. قهرمان د ژوند په پوچۍ باور پيدا کوي او په همدې سرگردانيو کې را چورلي.

داول څرخ څلورم پړاو هم د قهرمان د دردونو، ويرې او اضطراب په تمثيل پېل کيږي او راښيي چې قهرمان څه ډول خوبونه ويني، بلاخره خپل يوازيتوب مني او باوري کيږي چې په فنا محکوم دی.

هغه شاته تمبول شوي عواطف چې قهرمان په زيرخانو کې زنداني کړي دي وخت نا وخت غريو را پورته کوي او د خپلو زنځيرونو په شرنگولو سره ښامار گواښي، يو پټ باطني توپان له قهرمان سره مونو لوگ کوي او ملامتوي يې، دی ورته وايي چې يوازې دوه غلامان تاته صادق وو، يو عقل او بل فکر، دوی غواړه مار او ستا ستايونکي وو. خو ددوی ټول دلايل، چې ستا د ستاينې لپاره يې جوړول، ناسم او فاني وختل، تا د خپل شاته تگ ټولې لارې وتړلې او بيړۍ دې تر شاو سيزلې او دادی چې اضطراب دې رامنځ ته کړ. قهرمان په همدې کشمکش کې دی چې د تربړميو پربښته (د مرگ استازې) بوډۍ راځي چې هر څه يې تور دي، مخامخ مانۍ ته ورخيژي او پرته له دې چې ورو ټکوي ځان يوازې شوي قهرمان ته رسوي. بوډۍ خپل کوربه ته په مهربانۍ وايي چې د تلو وخت دی، قهرمان ويريږي او وايي: زه خو لا د ژوند په خوند نه يم پوهيدلی او همدلته خوښ يم، خو بوډۍ ورته وايي نه اوس ډېره ناوخته ده او بايد ولاړ شو، ښامار د مقاومت هڅه کوي خو چې ويني بې فايدې دی زړه او نا زړه ورسره روانيږي او د ماښام په خړه کې د يوه نامالوم لوري ورک سفر پيلوي.

دوهم څرخ: د ښامار دوهمه برخه (څرخ) د اپلاتوني سمڅې په تمثيل پيليږي، او د مثل د نظر يې پيژندنه کوي. د يونان نامتو فيلسوف اپلاتون په دې دنيا هر څه د هغو د اصل سيوری گاڼه او د ژوند مثال يې په يوه غار کې د هغو انسانانو حالت ته ورته گاڼه چې مخونه يې د مغارې ديوال او شاتونه يې د هغې خولې ته وي، دی وايي فکر وکړئ بهر اور بل دی او ترمخ يې ژوندي موجودات تيريږي په مغاره کې تړلي خلک يوازې پر مخامخ ديوال د هغو سيورې ويني او له دې نه دې خبر چې اصل حقيقت څه دی. د اپلاتون په مشهور کتاب (جمهور) کې دغه تمثيل په اووم کتاب کې راغلی دی (۹-۳۹۲)*.

* (که څه هم اروانباد پوهاند مجروح د ښامار په لمن ليک کې هغه د جمهور پنځم کتاب ښودلی دی).

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځانځاني ښامار راوي د اپلاتون دغه نظر نه مني، بلکې وايي چې که د غار زندانيان له غاره ووزي نو هر څه به تياره او خړ ويني، شاعر تر همدې نظره وروسته د نيمو شپو د لاروي د سفر کيسه پيلوي. چې دده دتمې پر خلاف هيڅوک په مخه نه ورځي، چې ښه راغلاست ورته ووايي يا يې له هغې شين کميسې شاليلا سره ملاقات وشي چې د ژوند د ورک سمندر غاړې يې په سترګو کې پټې کړې دي. د لاروي هغه تېر وختونه پر زړه ور ګرځي چې څنګه يو ځل شاليلا په زړو جامو کې مخې ته ورغلې وه او له خپل منګي څخه يې اوبه ورکړې وې، يو ځل لاروي له خپل نابلد ملګري څخه يادونه کوي چې ده ته يې د بلدوالي لاپې کړې وې خو په نيمه لاره کې يې همداسې لارورکی پرېښود او مرسته يې ورسره نه وه کړې دده دغه دروغجن ملګری دده (زه) و. نو ده هم ورسره مخه ښه کړې وه او هغه يې خپلې ځانځانۍ ته پرېښی و. لاروی خپل سفر ته دوام ورکوي، ستړی دی، غمجن دی او حيران هم. ډول ډول پيښې او احساسات ورپيدا کيږي خو پرمخ ځي، لاروی د ژوند د ورک سمندر غاړې لټوي. خو يو ځل پريوه توره مغاره (د لاشعور ساحه) ورپيښيږي، نه پوهيږي څنګه خو ور ننوزي هلته د ښامارانو زيږنځای ويني چې څنګه په يوه تور مردار ډنډ کې چينجي يو بل خوري او غټيږي بلاخره يو چينجي د نورو په خوراک دومره غټيږي چې ښامار ورڅخه جوړيږي او بيا دغه ويرووونکی ځناور د لاوري د سترګو په وړاندې له مغارې څخه وځي، لاروی دده پيښې په ليدو حيران دی، خپل مزل ته دوام ورکوي خو نه پوهيږي چې چيرې روان دی. ده ته اوس، ماضي او راتلونکی ټول سره ګډ شوي او زمان خپل مفهوم له لاسه ورکړی دی. په همدې بې مانا حالت کې دی يو لوی راز کشفوي او پردې پوهيږي:

چـــــې عـــــــالم او هستي واړه
بــــې معنی دي بــــــې مفهومه
لټول د کوم معنی اوکوم مفهوم هم

د دوهم ځرخ په بله برخه (شپږم پړاو) کې لاروی د وجود ښار تـه ورننږدې کيږي خو مخکې لـه دې چې ښار ته ورسيږي له ځان سر پريکړه کوي چې بايد په بيړه ځان ښار تـه ورسوي او خلک د ښامار لـه راتللو څخه خبر کړي، ځکه ده په مغاره کې د ښامار زيږيدل وليدل او پردې پوه شو چې ښامار لـه مغارې څخه ووت او ښايي د ښار په لوري راروان وي، د ښار په درشل کې په دښته کې د لارې پرسر خپله ورکه شاليلا ويني چې شليدلی کميس د يخو اوبو منګی ترځنګ دده په تمه ده، لاروی يې سترګو تـه ځېر کيږي او پوهيږي چې اوږد انتظار يې ايستلی دی ډېر اوږد ان د عالم له پيدا ښته راهيسې. دغه پيغله نازنينه خپل ورک لاروی ته اوبه ورکوي او پر خپلې مينې يې ستړيا ورمينځي. لاروی ددې تر کتنې وروسته ښار تـه ننوځي که څه ګوري چې ښامار ترده وړاندې راغلی او د ښار پـه مانۍ کې ناست دی، خلک يې تر خپلې سختې واکمنۍ لاندې زموللي دي. لاروی چې د اوږدو سفرونو له املـه ببر شوی او لوڅ لپړ دی خلکو تـه د ښامار د حقيقي څېرې پـه وراپيژندلو پيل کوي او خلک د شاليلا لـه حضوره خبروي خو ښاريان يې چې څېرې، لغړوالي او نا اشنا خبر وتـه ګوري د مجنون او ليوني نوم پرې ږدي او ورپورې خاندي. مجنون لاروی ګوښه کيږي او د ښاريانو پـه هکلـه فکر کوي، يـوه شپـه يې د مستو خيالونو او غوښتنو پـر پټ خرابات پيښـه کيـږي چې ګوري هلتـه ځوانان او پيغلې غـاړه پـر غـاړه او پرشراب و شباب و ربـاب وخت تيروي. ليوني لاروی ته هر کلی وايي او دی هم هغوی ملامتوي چې په داسې پټه مستي به هيڅ هم تر لاسه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کړي، مستې پيغلې او ځوانان ورځخه پوښتي چې واقعي مستې او حقيقت څه دی، لاروی ورته ټول حقايق بيانوي او هغوی دهستی او مستی پر راز خبروي.

ها خوا لاروی پر يوه مړي پيښيږي او خلک د ژوند او مرگ په رموز وپوهوي او دا ورته زباد وي چې دوی پر ژوندوني هم مړه دي ځکه د ( زه ) ښامار پرې حاکم دی. خلک ور پورې خاندي چې:

(( دا سړی چور ليونی ربښتيا مجنون دی. ))

د رندو په دغه ښار کې لاروی او د هغه معشوقه ( شين کميسې ليلا ) په ليونتوب مشهوريږي او خلک يې خبره جدي نه گڼي خو دومره پوهيږي چې د هغوی خبرې عادي او بې مانا نه دي او شاته يې کوم څه شته خو د دوی سرنه پرې خلاصيږي، لاروی خلک د شاليلا لمانځنې ته را بولي او د ښامار له عبادته يې منع کوي خو مه دې شه.

يو ازې بوډا راهب دده په خبرو پوهيږي او حيران دی چې لاروی څنگه په ټولو پټو حقايقو خبر دی؟ د لاروی خبرې د حاکم تر درباره هم رسيږي، ښامار هغه جدي نه گڼي خو يوه ورځ لاروی او شاليلا خپل دربار ته وربولي چې وگوري خبره څه ده ښامار په تمسخر له لاروی ځخه پوښتنه کوي چې ته او دا گدا ايي گره معشوقه دې څه غواړئ او ولې خلک له لارې باسئ. لاروی د خلکو د بې خبری او د ځانځاني ښامار د ظلم او ناروا کيسه ټوله ورته کوي او د ډېرو پټو حقايقو له مخې پرده لرې کوي.

ښامار هم غوسه کيږي خو له بلې خوا فکر کوي چې څه دا خو ليونی دی خلک يې خبره نه مني، لاروی ښامار ته د هغه د مرگ او سقوط وړاندوېينه هم کوي او ښامار دواړه له درباره شړي. مجنون لاروی د خپل يوازيتوب کونج ته ورستنيږي او شاليلا دښتې ته ځي چې له خپل ډک منگي سره د حقيقت لارويو ته اوبه ورکړي.

خو ښامار چې نور په خپله ماڼۍ کې يوازې شوی دی هره ورځ د خپل مرگ شيبې شماري. زړه بوډۍ، چې تورې جامې يې اغوستي له کومې خوا ځخه ښار ته راځي او مخامخ د ښامار ماڼۍ ته ځان رسوي، پرته له دې چې دروازه وټکوي يا يې څوک مخه ونيسي د ښامار تر مخ دريږي او په مهربانۍ سره ورته وايي چې نور نو د تگ وخت دی. د ښامار زړه نه کيږي چې له بوډۍ سره ولاړ شي خو بله چاره نه شته او زړه نا زړه په بوډۍ پسې روانيږي او په يوه تياره ماښام کې په نامعلومه لوري روانيږي.

لاروی يو ځل بيا سر راپورته کوي او گوري چې هرې خوا ته ښيرازي ده. سيند بهيږي، چمنونه او گلونه ښکلي دي ماشومان مستي کا او نا آشنا پيغله، هماغه زوړ کميسې څېرې گريوانه شاليلا لکه غرځنۍ گرځي او بې پروا د مينې حکومت کوي، نو:

لاروی د نيمو شپو چې دا حال وليد
بې اختياره په خندا شو
ځکه پوه شو
چې له سره بيا شروع شو، يو ځل بيا بيا
زوړ داستان د قهرمان ستر پهلوان ستر
او د ښکلې رب النوعې آلهې د عشق او مينې
يو ځل بيا له سره پيل شوه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسانه لویه اوږده د تور ښامار مار

* * *

## ځانځاني ښامار او د روحي بحران لامل:

د ښامار کیسه د نامتو فرانسوي فیلسوف ژان پل سارتر له هغې خبرې څخه پېل کیږي چې وایي ((انسان د انسان دوزخ دی)) د سارتر یوه مشهوره ډارمه چې فرانسوي نوم یې Hui-clos دی او مانا یې ده ور تړلی (دربسته) او کیسه یې د دریو کرکټرونو ((ګارسین))، ((انیز)) او ((استل)) په هکله ده چې که څه هم یو بل ته اړتیا لري او په یوه کوټه کې پر ګډ ژوند محکوم دي خو یو له بله تنګ دي له دوی څخه یو نارینه او دوه ښځې دي چې یو د بل په وړاندې په ظاهر او باطن کې متفاوت لیدلوري لري. دغه ننداره لیک په ۱۹۴۴ میلادي کې نندارې ته وړاندې شو.

په دې ډرامه کې سارتر د انسانانو اړیکو ته اشاره کوي، او د انسانانو ترمنځ اړیکې د بې باورۍ او تړلتیا یوه ګډوله ګڼي، دده له نظره موږ پخپله ځانونه سم نه شو پیژندلی او د ځان پېژندنې لپاره د نورو نظر ته اړتیا لرو، ګواکې انسان د انسان هنداره ده او بالاخره انسان د انسان دوزخ هم.

د ښامار لاروی چې په ځان کې ننوتی او ډېر مزلونه یې کړي دانه مني او دوزخ دننه په ځان (خود) کې پټ شوی ګڼي او دا چې ولې دې پایلې ته رسیږي؟ ښایي په لاندې دلایلو.

### ۱ـ د روحي رنځ زیږنځای په ځان کې دی:

ځانپالی (خودپرست) شعور چې په منظومه کې د ښامار په بڼه را څرګندیږي د ګڼو اروایي غوټو (عقدو)، شاته وهل شویو غوښتنو او ځپل شویو غریزو له امله په تحت الشعور کې زیږي او بالاخره همدغه ځانپالی شعور د وګړي د شخصیت د سالمې ودې مخه نیسي، که څه هم په ځینو مواردو کې د یو شمېر پټو استعدادونو د غوړېد باعث هم ګرځي او د یو شمېر اروا پوهانو په نظر په شخصیت کې جسارت، زړه ورتیا او اعتماد پر نفس روزي خو په مجموع کې د یوه ژور روحي بحران په رامنځ ته کولو کې ونډه لري. د ښامار لاروی په ځان کې ننوزي او له ځانه بهر دنیا هېروي، د سارتر پاملرنه (بل) ته ده حال دا چې پوهاند مجروح د خپل کرکټر روحي دنیا ته ننوزي او د هغو پټو بلاوو په اړه څرګندونې کوي چې په موږ کې دننه زیږي.

### ۲ـ که له بله ځوریږو بیا هم علت په خپله ځانځانۍ کې دی:

نرسیسیزم Narcissism (یوزاې پر ځان مینتوب) ډېر ځله د داسې افعالو د صدور لامل ګرځي چې د (بل) فرد د اذیت یا لږ تر لږه هېرېدو باعث کیږي. په منفي نرسیسیزم اخته انسان د نورو وجود هېروي یا په بله ژبه د نورو موجودیت یې نه خوښیږي، دا یو ځل بیا د سارتر خبرې ته موږ ورنږدې کوي چې پر ځان مین انسان د بل وجود ځانته عذاب او دوزخ ګڼي ځکه دومره په ځان کې ورک وي چې له ځانه پرته بل نه شي لیدی. دلته علت ځانځاني او ځانغوښتنه ده ځکه نو پوهاند مجروح د ستونزې اصلي لامل پر ځان مین والی ګڼي نه د بل موجودیت ځکه نو دا پایله مومي چې دوزخ په خپل نفس کې دی.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳.دوزخ ولې زیږي؟

لویه ګناه بل ته زیان اړول وي، او بل ته زیان اړول د هغې عقدې محصول دی چې انسان یې د ځان د لوړتیا د زبادولو لپاره لري. موږ هغه وخت ځان ځواکمن ګڼو چې بل راوپرځوو ، نو له همدې امله پر نورو بلوسو ، دوزخ چې د ګناهونو لپاره رامنځ ته شوی دلیل یې دلته په انسان کې دی، ځکه خو د پوهاند مجروح له نظره باید دوزخ په ځان کې ولټول شي نه په بل کې.

د داسې سره ورته دلایلو د ثبوت او تمثیل لپاره د نیمو شپو لاروی خپل سفر پیلوي او کیسه پرمخ ځي، که څه هم ژان پل سارتر د ( ورتړلی ) ډرام په اوږدو کې داسې فضا تمثیلوي چې خپل تز « انسان د بل انسان دوزخ دی» پرې زباد کړي، په هر صورت دلته به ښه وي چې د ځانځاني ښامار په اوږدو کې د هرې اروایي فرضیې طرح، ثبوت او علمي څرنګوالی وڅېړو.که غواړو ځانځاني ښامار د فروید یسم له نظره وڅېړو نو ددې ترڅنګ چې د فروید موندنو او نظریاتو ته به لنډه اشاره کوو د هغه له خوا د یو شمېر رامنځ ته شویو اصطلاحاتو پېژندنه به هم کوو البته هغه شمېر اصطلاحات چې په دې بحث کې مطرح کیږي.

د فروید له نظره د انسان شخصیت له درېیو برخو څخه رغېدلی:

۱.اید (Id)

۲.سوپر ایګو(super-Ego )

۳.ایګو (Ego)

## ۱.اید Id یا اماره نفس:

((اید )) په ځان ناخبري(ناخودآګاه) ضمیر کې ځای لري او له حیواني غریزو څخه جوړدی. اید د خوند اخیستلو پر اصل ولاړ دی په ((اید )) کې دوه ډوله غریزې شته چې یوه یې د ژوند غریزه یا اروس Eros نومیږي او بله یې د مرګ غریزه یا تاناتوس Thanatos . د ژوند غریزه د جنسي ځواک چلوونکې ده او د مرګ غریزه د تاوتریخوالي د ځواک چلوونکې. اید هماغه څه دی چې په عرفان کې یې اماره نفس بولي او په عرفاني ادبیاتو کې یې شیطاني وسوسې ګڼي. صوفیان او عارفان د Id له دواړو غریزو (جنسي او تاوتریخوالي) سره دښمني کوي او ځپي یې.

## ۲.سوپر ایګو super Ego یا (( د وجدان قاضي ))

سوپرایګو د ټولنیزو او اخلاقي قوانینو د منلو هغه شعور دی چې له بهر څخه د انسان ذهن ته راننوزي. سوپرایګو حیواني غریزې کنترولوي او سانسوروي یې، چې وګړی په ټولنه کې د ژوند کولو وړتیا ومومي. د سوپرایګو لویه برخه په ځان خبري ( خودآګاه) ضمیر کې ځای لري خو یوه برخه یې په ځان ناخبري ضمیر کې هم ورننوتې ده او همدا برخه ددې لامل ګرځي چې انسان په ناخود آګاه توګه د خپلو یو شمېر کړنو په وړاندې د ګناه احساس وکړي او ځان ملامت کړي. ((اید )) ددې لپاره چې له سوپرایګو څخه وتښتي ډېرې هلې ځلې کوي آن تردې چې د خپلو غوښتنو او امیالو ښه بد لوي او غریزي هوسونو ته د رسیدو لپاره د سوپرایګو د تېرایستلو چلونه سنجوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ـ ایګو Ego یا منځګړی:*

ایګـو هغـه ځـواک دی چـې د Id (امـاره نفـس) او سـوپر ایګو (د وجـدان قاضـي) تـر مـنځ د منځګړېتوب دنده ترسره کوي او هڅه کوي چې حیواني غریزې او شهواني غوښتنې داسې خړوب (ارضا) کړي چې اخلاقي قوانینو او ټولنیزو پریکړو ته هم زیان ونه رسیږي او په یو ډول یې رعایت وشي. د ایګو لویه برخه په ځانخبري ضمیر کې ځای لري. ایګو لانجمنه دنده لري له یوې خوا له شیطاني وسوسو او غوښتنو سره ډغرې وهي او د غریزي غوښتنو تر فشار لاندې دی او له بلې خوا د اخلاقي حکمونو او ټولنیزو ټاکل شویو حدودو په چارچېر کې راګیر دی.

د فروید له نظره د انسان دننه تل د ((سوپر ایګو)) او ((اید)) ترمنځ یو پټه جګړه روانه ده او ایګو هڅه کوي دغه روحي جګړه اداره کړي. فروید وایي په هوښیارۍ او ویښتیا کې ایګو کولای شي اید یو څه کنټرول کړي خو همدا چې انسان ویده شي یا هوښیاري له لاسه ورکړي نو ((اید)) سر را پورته کړي، ځان له سوپر ایګو څخه پټ کړي او په بشپړه آزادۍ سره ځان را څرګند کړي.

د ځانځاني ښامار اصلي کرکټر له درې واړو جوړښتي ځواکونو سره ملاقات کوي؛ ښامار د لاشعور په ساحه کې زیږي بیا د وجود په ښار کې حکومت ترلاسه کوي یعنې د ایګو پر تخت کیني، له یوې خوا د سوپر ایګو د احکامو د رعایت لپاره ټولې عاطفي غوښتنې (مشروع او غیر مشروع) د لاشعور په سمڅو او زندانونو کې بندي کوي او له بلې خوا د نرسیسیزم (پر ځان مین والي) له امله هر بل حس او استعداد داسې ځپي چې سر را پورته نه شي کړای. عقل چې د ایګو اصلي ملګری او لارښود دی له عواطفو او غریزو سره نه جوړیږي او ایګو په ورکو او ړندو لارو بیایي.

اوس نو پوښتنه رامنځ ته کیږي، چې د ایګو د منځګړیتوب او تعادل ساتنې رول ته په کتو سره ولې صوفیانو تل ملامت کړی، په عرفاني ادبیاتو کې یې غندنه شوې او پوهاند مجروح ورته ښامار وایي؟ ایګو د عقل په مرسته د انساني شخصیت حکومت ترلاسه کوي او تقریباً ټول ژوند پر وجود حاکمیت چلوي. ایګو او عقل د اجتماعي ژوند په داسې سیالیو کې بوختیږي او د ځان غوښتنې په داسې لومو کې نښلي چې د پیدا ایښت موخه، معنوي ارزښتونه، ځان پیژندنه، مینه او معرفت له انسانه هېروي.

ایګو د عقل په مرسته هڅه کوي ځان مطرح کړي، آن که دغه مطرح کول او برلاسی د نورو په ځپلو او خوارولو کې هم وي، د بشري تاریخ اوږده کیسه له ډېرو داسې پېښو ډکه ده چې ځواکمنو انسانانو

---

* wikipedia انسایکلوپیډیا د فروید له نظره Ego داسې را پیژني:

In Freud's theory the ego mediates among the id, the super-ego and the internal world. Its task is to find a balance between primitive drives, morals, and reality while satisfying the id and super –ego. Its main concern is with the individual's safety and allows some of the id's desires to be expressed, but only when consequences of these actions are marginal.

ژباړه: د فروید د تیوري له مخې په دروني جهان کې ایګو د اید او سوپر ایګو منځګړی دی، چې د لومړنیو تحرکاتو او اخلاقو ترمنځ تعادل ومومي او د وجدان او غریزي غوښتنو رېښتینې سرچینې وپېژني. د ایګو ډېر پام دې ته وي چې څنګه فرد خوندي پاتې شي او هم یې غریزي غوښتنې تر کنټرول لاندې راولي. ددې هڅو حاصل د غریزو او اعمالو حاشیې ته ټیل وهل دي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل شهرت او برلاسۍ لپاره څه ناروا وې چې نه دي کړي! وينې يې بهولي، تيري يې کړي، غلا – غدۍ، شوکماري ظلم او ناروا هر څه د خپل ځان د برلاسۍ لپاره، په حقيقت کې دا هر څه د ځانځانۍ او انانيت لپاره کيږي. ايګو له عقل سره ملګرى دى او پر انسان حکومت کوي، ټول عمر جنګيږي ځان لويوي او نور تر پښو لاندې کوي، سره له دې چې دننه په وجود کې له ايډ او سوپر ايګو سره لاس او ګريوان دى، بلکې دا دواړه ځواکونه هم کنټرولوي خو په حقيقت کې همدا هم د ځانښوونې لپاره کوي، له سياسي حاکميت سره د وجود تشبيه د ځانځاني ښامار سياسي اړخ دى. موږ ګورو چې ښامار د وجود پر ښار حکومت پيلوي، غريزې او هيجانات (Id) زنداني کوي او راهبان (ښايي سوپر ايګو) دې ته اړ کوي چې خلک دده لمانځنې ته راوبولي د ځانځاني ښامار کيسه د فرويد د رواني نظريو دقيق ادبي تمثيل دى.

او لنډ پيام يې دادى چې خودي او انانيت (چې د ايګو له خوا اعماليږي) ورو ورو د انسان پر شخصيت داسې حاکميت ترلاسه کوي چې يو مهال په خپله د انساني شخصيت په اصلي ځواک بدليږي او د «انسان يعنې (زه)» تعبير ثابتوي، استاد مجروح وايي:

تاسو وايا ست زه به څوک يم؟

زه خو «زه» يم، زه «ايګو» يم (۸-۳۰)

د استاد مجروح اثر يوازې دده قضيې ثبوت نه دى، بلکې د کيسې نور اړخونه هم په کې تمثيل شوي دي «زه» يا ايګو چې خپلو کړنو ته غره دى او بيخياله پاچاهي کوي يو مهال ځان يوازې ګڼي، ګوري چې په وجود کې هيڅ ملګرى نه دى ورپاتې، آن عقل (د هغه پخوانې خو ناځوانه او دروغجن ملګرى) هم ورڅخه بيليږي، دا نور د ايګو لپاره تر ټولو وحشتناکه پړاو دى، ايګو چې ځان له مرګ سره مخامخ ويني د ژوند پر پوچۍ او بې ماناتوب يې باور راځي او فکر کوي چې ټولې هڅې، ټول قدرتونه ځانځاني او حاکميت، برلاسي او تفوق بې مانا وو او کاشکې يې داسې او هسې نه وای کړې، يو ځل هيله کوي چې که بيا ژوند پيل کړي نو کړې تيروتنې به بيا نه تکراروي خو د مرګ بوډۍ ورته خاندي چې نه! ته به بيا هم همداسې وکړې ځکه د ځانځاني شعور ځانګړنه همدا ده، سيالي او د برلاسۍ تنده به دې بيا دې اعمالو ته مجبور کړي:

په دې هر څه کې معلوم يو حقيقت راته ښکاره شو

د زمان د درياب پورې پورې غاړه

هر څه هيڅ دي

د مکان له درشل ها خوا

هر څه تش هر څه خالي دي

دا عالم او هستۍ واړه

بې معنى دي بې مفهومه

بې معنى او بې مفهومه

لټول د کوم معنى د کوم مفهوم هم. (۱۰-۱۵۵)

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځانځاني ښامار په کيسه کې د ايګو د ودې څو پړاوونه ياد شوي، يو شمېر نور اروا پوهنيز مفاهيم، لکه يوازيتوب، خوبونه، نرسيسيزم ( پرځان مينتوب ) مينه، غرايز، هيجانات، زاړه خاطرات، ځپل شوي عواطف، اوهام، روحي آزادي، د ماناوو راګرځيدنه (تداعی معاني )، ماشوم شعور، ټولنيز (جمعي ) شعور، کهن الګو (Archetype) او نور په سمبوليکه ژبه د اسې تمثيل شوي چې د انساني وجود په قلمرو کې يې تړون او ارتباط په زړه پورې دی.

## د ځانځاني ښامار کيسه، لکه د خوب ليدل:

فرويد وايي: « خوب ليدل د اروا پوهنې تر ټولو مطمئن اصل دی او هر څوک چې غواړي د اروا پوهنې په برخه کې زده کړه وکړي، دې ته اړ دی چې د خوب ليدلو په اړه پوهه ترلاسه کړي.»
(۷ـ۱۰۵)

فرويد د خوبونو پر تعبير تکيه کوي او هغه له وجود څخه د بهرنيو پېښو په اړه د انساني شخصيت تر ټولو دقيق غبرګون ښيي.

په ادبياتو کې ګڼ هغه آثار چې له اروا پوهنې يا د انسان له روحي مسايلو سره سروکار لري خامخا خوب ليدلو ته ورته حالت په کې انځور شوی دی، د هنري آثارو کره کتونکي شعرونه خوبونو ته ډېر نږدې ګڼي او فکر کوي چې هم په خوب او هم په شعر کې عادي منطق، د زمان او مکان دقيق مراعات او متناوب طرز فکر نه ځايېږي، موږ کله چې خوب وينو ؛ نه پوهېږو چې دا به حقيقت نه وي، او همدا راز په شعر کې هره تخييلي مفکوره په هماغه جديت سره مطرح کوو . لکه د ساينس کومه قضيه چې غواړو ثبوت کړو ، شعر د عادي منطق او فزيکي عمليو له بنده خلاص دی او د خوب ليدلو حالت هم هيڅ ډول التزام نه مني.

د ځانځاني ښامار کيسه خوب ليدو ته ورته ده ، هلته لاروی اوږدې او سختې لارې وهي خو له فزيکي پلوه ستړی نه دی، په کيسه کې سمبولونه ، په خوب کې اشياوو ته ورته دي، حوادث او پېښې د راوي له بدن څخه بهر خو د هغه په ذهن کې دننه پيښيږي، د ښامار په کيسه کې وخت او مکان بدليږي، ځواني، ماشومتوب او زړښت، لکه د عادي ژوند په څېر منظم نه دي، راوي کله ماشوم دی کله ځوان او کله بوډا ، ښامار زيږي، حکومت کوي مري، خو بيا راځي، بيا يوازې کيږي او بيا مري د نيمو شپو لاروی کله د مغارې پر غاړه، کله په ښار او کله په بيابان کې دی. هر پېښه، لکه يو خوب بدليږي. پوهاند مجروح د خپلې ليکنې سبک همداسې ټاکلی چې وکړای شي د هغه په مرسته خپلې رواني فرضيې تمثيل کړي.

په خوب کې پېښې او اشيا خپلې سمبوليکې ماناوې لري، د ښامار په کيسه کې هم هر څوک، شی، پېښه، مفکوره او ځای سمبوليک بار لري يعنې د يوه فکري موقعيت استازيتوب کوي، ښامار د ايګو «زه»، لاروی د حقيقت موندنې د شعور، شاليلا د مينې او محبت، بيابان د بې مانا او سرګردانه خو چوپ لټون او ښار د وجود د قلمرو سبمولونه دي چې کيدای شي پر څو څو نورو ماناوو هم دلالت وکړي. د نامتو فلسفي شاعر ايټاليوی دانتې (Dante) مشهور اثر ( انساني کميډي ) هم دې ته ورته دی هلته ټولې پېښې، سفرونه او موقعيتونه د خوب ليدلو په شان سمبوليک او رمزي دي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوبونو سره د ځانځاني ښامار اړیکه هغه د استاد روهي په وینا « خوب نمایي» ده، یعنې له دغه اسلوب څخه کار اخیستل د موضوع د شرح کولو لپاره یوه وسیله ده، استاد روهي لیکي: ((د شاعر د خوبونو دربیمه معنا «خوب نمایي» ده یعنې له خوب څخه د وسیلې په توګه کار اخیستل کیږي او شاعر غواړي، چې د رمز او کنایې له لارې خپل هدف بیان کړي.)) (۲-۱۰۷)

موږ کله چې ځانځاني ښامار لولو دا سې راته ایسي، لکه د خپل ځان تړول قلمرو چې په خوب وینو، دغه خوب ستړی کوونکی دی خو د حقیقت دا سې پاړکي په کې دي چې موږ یې په ویښه نه شو لیدلای، د «زه» په اړه تړول هغه واقعیتونه چې موږ یې د ویښ شعور د حاکمیت پرمهال نه شو لمس کولای په دغه خوب کې یې لولو، موږ وینو چې د ښامار د حاکمیت تر څنګه د وجود په ښار کې څه روان دي، لاروی، شالیلا، راهب، زنداني ځوانان او پیغلې، رندان، ماشومان، هوسۍ او نور کرکټرونه څه دي او څه کوي؟ ځکه خو هره هغه روحي انګیزه چې وړاندې به معرفي شي ددغه اوږده خوب یوه برخه ده یا په بله ژبه د انسان د شخصیت یوه اروایي برخه ده چې ښایي وپېژندل شي.

## تېر هېر خاطرات:

په ځانځاني ښامارکې څو ځله د پخوانیو هېرو شویو خاطراتو له Review یا بیا کتنې سره مخامخ کیږو، ځینې دا سې خاطرات فردي دي چې یو شخص یې په خپل ژوند کې تجربه کوي او بیا یې را یادوي، ځینې دا سې خاطرات د بشریت ګډ خاطرات دي چې کیدا ی شي په زرګونه کاله پخوا پېښو پورې اړه ولري او موږ یې د ګډ شعور په وسیله له خپلو نیکونو څخه په ارثي توګه را خپلوو او کله کله مو له لاشعور څخه سر را پورته کوي او په شعور کې مورا تداعي کیږي. ځینې خاطرات په دا سې ثابتو موډلونو بدلیږي چې هغه هم زموږ په جمعي ذهنیتونو کې د لومړنیو قالبونو په بڼه را څرګندیږي، « کارل ګوستا ویونګ دا موډلونه Archetypes بولي، ایرانیانو «کهن الګو» بللې موږ به ورته هماغه ارکیټایپونه وایو چې په ټولنیز شعور کې د منل شویو قالبونو مانا لري» هره خاطره چې په دريو وارو ډولونو پورې اړه لري زموږ د راوایې جوړښت یوه لویه برخه جوړوي، په بله ژبه زموږ عواطف، احساسات، انګیرنې او رواني لوړې ژورې په دغو خاطرو او یادونو کې ژورې ریښې لري، او بیا تداعي یې پر موږ کاري اغیز ښندي. استاد مجروح په ښامار کې وایي:

بیابـــان و، تروږمې وه، تـوره شپه وه
خوله مـــا سره د ننه یوه ډیوه وه بلیدلـه
دا ډیــوه د تیـر وختونــو خــاطره وه
انسانـان مې لا لیدل د خیال په سترګو
د غمجنــو فریـــادونه، ډک لـــه قهره
غــږ د مـینې محبت مې لا تـــر غوږ و
مــــاشومان مې لـــه نظره تیریدل چې،
دکمر پـه سر روان وو
د سیند غاړې منډوګي ته کوزیدل ټول

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډول يې سيند ني ځــلانده كــانې
لو ړ بـــــرجونه يې د شګو جوړول بيـــا
هی ټوپونه لاندې كول وو
تښتيدل وو ځغليدل وو

دلته تېر خاطرات هم د فردي ماشومتوب او هم د بشريت د تاريخ لومړنيو پړاوونو ته اشاره ده « هغه مهال چې مدني قوانينو او ټولنيزو قراردادونو د انسان خپلواكي نه وه محدوده كړې».

د تېرو خاطراتو تداعي په كيسه كې مهم ځای لري، كله چې ايګو « پرځان مين شعور » پر شخصيت « د وجود ښار» حاكم شي نو د عقل په مرسته د «اوس» په زماني مقطع باندې حكومت كوي او هر څه د اوس لپاره غواړي په دوهم ګام كې راتلونكې مهم دی ځكه د ډېر ځله د برلاسي لپاره هڅه د راتلونكي حاكميت ګټلو په نمت كيږي، د ايګو لپاره تېرې خاطرې كوم اهميت نه لري، ځكه ماضي د كمزورۍ، مساوات او تر لاس لاندې والي پېردی، ماشوم د مور او پلار ساتنې «مواظبت» ته اړتيا لري، لومړنيو انسانانو ډله ييز ژوند كاوه او د تفوق عقده يې نه درلوده، د هستۍ اصلي مفهوم «په ښامار كې د ورك سمندر غاړې» هغه وخت څرګند و ، ماشومان به آزاد ګرځيدل او هوسۍ چا نه ښكار كولې، په ښامار كې هغه مهال خودي «ځانځاني» يا انانيت لا د وجود پر ښار حاكميت نه درلود ، او د ژوند اصلي څېره څرګنده وه، ښامار يا خود پرسته شعور د دغې دورې له يادولو څخه ويره لري او هڅه كوي چې د ښار خلك د دغه عصر هېر كړي، يو ځل چې لاروی او د هغه معشوقه «ګريوان څېرې شاليلا» غواړي، د هغه عصر يادونه وكړي نو ښامار غوسه كيږي. لاروی ښامار ته تېر وختونه ور يادوي ورته وايي: ستا معبد خونوی جوړ شوی، ډېر پخوا خلكو د مينې د الهی لمانځنه كوله، هغه وخت آزادي، مينې او رښتينولی حكومت كاوه، ماشومان آزاد ګرځيدل او پيغلو به له ځوانانو سره په خپل واك مينه كوله د ښامار دغه خاطرات نه خوښيږي او ليونی لاروی او د هغه ګريوان څېرې معشوقه له خپل درباره شړي.

تېرو خاطراتو ته ورګرځيدل يا د هغو بيا را په يادول په ښامار كې څو څو ځله تكراريږي او دا د انساني شخصيت په وده كې د درې ګونو روحي بحرانونو په هر پړاو كې په تېروا وزړو خاطرو كې د انسان يو روحي سير ته نغوته ده چې هر انسان ورسره مخامخيږي.

فرويد به د خپلو رواني ناروغانو د تداوي پر مهال هڅه كوله هغوی وهڅوي چې خپل تېر خاطرات ورته تكرار كړي، فرويد عقيده درلوده چې د ټولو په ياد كې پاتې شويو خاطرو په منځ كې د ناروغۍ لامل خاطرې هم د لاشعور له ساحې څخه د شعور برخې ته راتلای شي او دا مسأله د خاطراتو د تداعي په مرسته ترسره كيدای شي، نوموړي وايي: « هغه عقده چې د تداوۍ پرمهال د ناروغ په ذهن كې راڅرګنديږي بايد له اصلي خاطرې يا شاته وهل شوې غوښتنې سره اړيكې ولري». (۹۸-۷)

فرويد فكر كوي چې له تېرو خاطراتو سره – چې په لاشعور كې يې رسوب كړی دی – د بيا تداعي پرمهال « چې د شعور ساحې ته د هغوی د راوستلو هڅه ده» يو شمېر هغه خاطرات هم را په يادېدای شي چې په يوه ټاكلي پړاو كې د روحي بحران لامل يا يو له لاملونو څخه وي. پخپله استاد مجروح د اژدهای خودي «د ځانځاني ښامار درې متن» په شروحو كې ليكي، چې د دغه كيسه د ژوند په درېيم

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواني بحران پورې اړه لري چې د عمر په څلویښتمو کلونو کې پیښیږي، هغه مهال چې تېر خاطرات یو ځانګړی اهمیت لري، استاد لیکي: «د ژوند بحران په اوج کې «زه» یا ځانپالی شعور له ځانه پوښتي چې ژوند ولې وچ او بې خونده دی؟ دی پوهیږي چې د ژوند یو مهم توکی ورڅخه تللی دی، ناڅاپه یې پام کیږي چې دغه «غوره غائب» یا ورک شوی «مینه» ده، د مینې نشتوالی په روحي ژوند کې یوه لویه تشه رامنځ ته کوي ځکه نو د «زه» ټول فکر تېرو خاطرو ته ورګرځي، د ماشومتوب او ځوانۍ خاطراتو ته چې د کیسې په ژبه «د ورک سمندر غاړې» او «د ژوند سرچینې» په لټون پسې راوزي.                (۱۰-۱۴۲)

د رواني ستونزو یا ناروغیو یو عامل داوي چې ناروغ له یوې هېرې شوې روحي غوټې «عقدې» څخه ځوریږي، پرته له دې چې خپله پرې وپوهیږي د همدې لپاره اروا څېړونکي غواړي ټولې هېرې خاطرې راڅرګندې کړي، چې د غوټې لامل بیا مومي د فروید د شاګردانو له نظره د رواني غوټې د عامل موندل د ناروغۍ نیم علاج دی، په اروایي درملنه کې تشخیص د تداوي اصلي او غوره برخه ده له همدې امله د هر رواني بحران د څېړنو لپاره تېرو خاطرو ته مراجعه کیږي، په ځانځاني ښامار کې هم وینو چې ښامار د عشق خاطرات له ښاره شړلي دي، غریزې او د ښکلا خوښوونې تمایلات یې په زیرخانو کې زنداني کړي او د مینې شالیلا یې بیابان ته شړلې ده، ښامار یا پرځان مین شعور فکر کوي چې ددغو عاطفي غوښتنو په ځپلو به خپل حکومت ټینګ کړي او له ښاریانو څخه به دا هېره کړي چې پرته له ده څخه بل واقعیت هم وجود لري، مګر کله چې د وجود ښار ورو ورو ړنګیږي، کوڅې شاړیږي، طراوت او ښېرازي له منځه ځي دلته نو زنداني عواطف، تېر هېر خاطرات او د عشق رښتیني تمایلات سر را پورته کوي آن تردې چې په ماڼۍ کې ناست ښامار یې هم شورو ځوړ اوري.

## ځانځاني ښامار او عشق:

عشق هغه غریزي تمایل دی چې انسان یې معمولاً له ځانه بهر له بل «شخص یا پدیدې – شي» سره لري البته له ځانه بهر ځکه وایو چې له خپل ځان سره عشق «نرسیسیزم» هغه څه دی چې دلته په ځانځاني ښامار کې یې په ځان مین شعور هم ورته ویلي، په دې بحث کې عشق معمولاً له بل سره د مینې او په تېره بیا مخالف جنس سره هماغه عشق دی چې سرچینه یې جنسي غریزه ده، ډېر ځله په عرفاني آثارو او عرفاني حماسو کې د سالک «د حقیقت پلټونکی - په ځانځاني ښامار کې د نیمو شپو لاروی» لارښود داسې څوک دی چې لاروی له هغه سره د مینې اړیکې لري د دانته په الهی کمیدي کې بیا تریسه «د دانته معشوقه» د راوي لاس نیسي او هغه د بلې نړۍ سیر ته بیایي، مولانا جلال الدین محمد بلخي په شمس تبریز پسې روانیږي او خپلې معنوي نغمې د هغه په فراق کې غږوي، ګویته د «فاوست تراژیدي» کې هلن بیا را ژوندۍ کوي او فاوست یې په مینه کې لیونی کوي، استاد مجروح هم په ښامار کې شالیلا د عشق د سمبول په توګه را پېژني. په ځانځاني ښامار کې عشق څو جلوې لري:

سر به یې کېښود په زنګون
په خپل سوچ کې به ډوب ناست و

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ګريوان ته به يې لاس کړو
بيا به يې ووې
زه شړلی، فراری يمه له عشقه
دا غايبه هستي څه ده؛
هغه عشق دی
نامعلومه ورکه څه ده
هغه مينه
ور په ياد بيا هغه وخت شو
چې څه شانتې فراري شو
الهی د محبت په هغې ورځې، اغوستلی شين کميس و،
دی يې ونيوه له لاسه
بيا يې وښوده له ورايه
هلته دورې يو افق و نامعلوم
نو يې وويې
ځه چې ځو اوس... (۱۰ـ ۵۷)

له بل سره مينه مخامخ د نرسيسيزم «پر ځان مينتوب» په وړاندې درېږي. د همدې لپاره عارفان په دې ګروهه دي چې:

تو ګمان مبر که مفتی به خدا رسيده باشي
تو زخود نرفته بيرون به کجا رسيده باشي

له مقابل جنس سره مينه د فرويد له نظره له جنسي غريزې څخه رازيږي، دغه ارواپوه فکر کوي، چې دې ډول مينې ته معنوي دلايل تراشل هغه څه دي چې موږ يې د ټولنيزو اخلاقي قراردادونو تر فشار لاندې جوړوو او د خپلو غريزي غوښتنو د پټولو لپاره يې کاروو او که نه، ايډ له مقابل جنس سره د اړيکو تلوسه را منځ ته کوي او سوپر ايګو يې شاته تمبوي، ايګو په همدغه منځ کې منځګړيتوب کوي. دلته به د فرويد له خپلې وينا څخه دا څو کرښې راوژباړو:

«جنسي غوښتنو ته لاسبری زموږ د نننی مدنيت له ګڼو آرونو سره تضاد لري او دا ګڼې ستونزې رامنځ ته کوي، د تمدن دا آرونه او معيارونه چې د فرد له جنسي غوښتنو سره تضاد لري د ګڼو عصبي ناروغيو لامل ګرځي، موږ نه ښايي له دې امله خوشاله او سو چې خپلې غريزي غوښتنې مو ځپلې يا مو بيخي له منځه وړي دي» (۷ ـ ۱۵۳)

پوهاند مجروح د ځانځاني ښامار په يوه برخه کې همدغې ناروغۍ او د هغو احساساتو او غوښتنو د ځپلو له امله رامنځ ته شويو عقدو او اضطرابونو ته، چې له عشقه رازيږي، دا سې اشاره کوي:

کوم قدرت چې نوم يې «مينه محبت» و
اوس يې نوم د «تنفر» دی غوره کړی

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرونی قدرت د «عشق د جذباتو»
نن هغه ځانته «روحي اضطراب» وايي (۱۰-۹۲)

زموږ فيلسوف شاعر ددې پلوي دی چې په تورتمو سمڅو کې زنداني شوي ځوانان او پيغلې چې هلته پټ يو له بل سره په مينه او پيالو پورته کولو بوخت دي بايد آزاد شي او همدوی د چارو واګې په لاس کې ونيسي.

پوښتنه را منځ ته کيږي چې آيا په ځانځاني ښامار کې د عشق هغه معنوي مفهوم، چې صوفيان او عارفان پرې ګروهمن دي، د ځانځاني «ايګو» په وړاندې دريږي او يا هم يوازې غرايز او جنسي غوښتنې؟ د ښامار په کيسه کې د دواړو لپاره بيل بيل ځايونه شته، زه فکر کوم چې شين کميسې ليلا د معنوي عشق سمبول ده ځکه په بيابان کې او سيږي او يوازې لارويو ته سپينې او رڼې اوبه ورکوي.

هغه د ليوني «مجنون» او د نيمو شپو د لاروی مانيزه څېره ده او لوستونکی کولای شي د لاروی عظمت او مانيز ستروالی د هغې په سترګو کې وګوري. مجروح وايي:

او زه وايم
د هستۍ معنا ليلی ده
که باور نه کړئ نو ورشئ ورته ځير شئ !
نو به پوه شئ
چې زما په معنا څرنګ د ليلی لبان رنګين دي
بيا زما د ارزښتونو رڼاګانې
په څه شانې
د هغو آبي چشمانو په افق کې تل ځليږي... (۱۰ـ۱۵۲)

خو د هستۍ خرابات، هغه ځای چې ځوانان او پيغلې نيمه بربنډ په کې پراته دي او يو د بل له غيږو څخه خوندونه اخلي، شراب څښي او سندرې بولي دا د بې بندوباره زورورو جنسي غوښتنو سمبول کيدای شي:

لاروی چې ښه کتلې، هرې خواته يې ليدل چې
ځوانان پيغلې يو له بل سره غيږ په غيږ وو
ځينې پټ ځينې لغړ نيمه بربنډ هلته پراته وو
او د ټولو په لاسونو کې جامونه... (۱۰ـ۱۷۱)

شاعر دغه غريزي غوښتنې د ښامار بې ګناه قربانيان ګڼي او فکر کوي چې دوی به يو مهال د وجود ښار په لړزان راولي.

شاعر حکم نه کوي چې د ايګو «ځانځاني ښامار»، جنسي غوښتنو او يا معنوي عشق ترمنځ کوم يو ښايي بريالي شي او انسان بايد د کوم يوه ومني.

ايګو دومره پرځان مين دی چې هره غوښتنه او د ژوند هره رنګيني د ځان تابع کوي او ټول عمر يوازې د ځان په هکله فکر کوي، جنسي غوښتنې که همداسې ياغي پريښودل شي خبره رسوايي ته رسيږي او د فرويد په ژبه: «له انسان څخه د شهوت ديو جوړوي.» (۷ـ۱۵۴)

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که یوزاې د معنوي عشق شالیلا ته پناه وړي نو د صوفیانو په څېر به یې ځای د انزوا بیابان وي.

صوفیان فکر کوي چې نفس یا ځانځاني ښامار یوازې د عشق له معنوي قوت څخه ویرېږي او هیڅ کله نه شي ورسره مخامخ کیدای، په ځانځاني ښامار کې کله چې د عشق الهه قهرمان ته بلنه ورکوي چې له هغې سره دعشق او مینې رښتینی سفر پیل کړي نو هغه ویرېږي او ورته وایي چې نه زه همدلته خوشاله یم او نه غواړم له تاسره ولاړ شم.

د هنر کار دا نه دی چې اخلاق تدریس کړي او یا هم حکم وکړي، ځانځاني ښامار د هرې اروایي پېښې تمثیل کوي او د هرې غوښتنې ځای او څرنګوالی را پېژني، ښایي عشق، ماهیت یې او معنوي دریځ یې لاهم نه وي پېژندل شوی.

## زړه ناخود آګاه یا ټولیزه ځان ناخبري:

دا پوښتنه وه، پوښتنه آخرینه

ځکه، ځکه دا سوال خو

د زاړه زاړه شعور د وروسته پاتې ګرد او خاورې نه راغلی پورته شوی بیرته کښیناسته فنا شوه په ایرو کې. (۱۰ـ۱۳۵)

کارل ګوستاو یونګ زوړ یا ټولیز «جمعي» شعور داسې را پېژني: ټولیزه ځان ناخبري د هغو پوهنو مجموعه ده چې پخوانیو انسانانو د خپلې شهودي پېژندنې په مرسته د طبیعت له «پدیدو» څخه درلوده.

د یونګ له نظره د زړو یادونو، نښو او پېښو بیا تداعي د انسانانو په رواني رغښت کې غوره برخه لري او کله خو دا پېښې د اروایي ځوریدنو لامل ګرځي.

ټولیز شعور تر اوسه د خوب او اساطیری شهود په مرسته زموږ ویښ یا خود آګاه شعور ته خپل پیغامونه راستوي، دغه پیغامونه د رازونو او سمبولونو په مرسته تداعي کیږي. یونګ ددغې سمبولیکې ژبې زړو رمزونو ته ارکېټېپونه Archetypes وایي،آرکېټېپونه یا زړېبلګې «کهن الګو» څه دي؟

یونګ یې تر ټولو بدوي انځورونه ګڼي چې د انسان په ځانخبري شعور کې د سمبولونو یا بیلګه یې ښکارندو په توګه ځای نیسي، دی یې داسې تعریفوي: «هغه پدیدې چې له خپل اصلي موډل څخه مایه اخلي او پرته له دې چې خپله اصلي الګو له لاسه ورکړي د بېلا بېلو جزئیاتو په بڼه را څرګندیږي». (یونګ ـ ۱۰۱)

لږ وړاندې یې له غرایزو سره د اړیکو په هکله لیکي:

«هغه څه چې موږ ورته غریزه وایو فزیولوژیکې راکاړنې دي چې د حواسو په وسیله درک کیږي، خو په همدې وخت کې زموږ په خیالونو کې هم ځان را څرګندوي او غالباً خپل شتون په سمبولیکو نښو کې زبادوي همدې ته زړېبلګه Archetype وایم». (۱۰ـ۱۰۲)

ارکېټېپونه په رواني هستی کې خورا مهم دي ځکه د انسان د ټولو تصوراتو، غریزو، غوښتنو، ځوریدنو او روحي بحرانونو پر زړي «هسته» اغیز لري.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یونګ یو شاګرد آنتونیو مورنو فکر کوي چې ارکېټېپونه د اوږدو مودو په تېریدو سره په ټولیز شعور کې ځای نیسي، ارکېټېپونه د افرادو، نسلونو او قومي تږاوونو د همرنګه، هم بڼه او سره ورته ځانګړنو له ورته والي او اوږدمهالي تکرار څخه جوړیږي، د پدیدو په وړاندې که قدیم وي یا نوی خو چې زموږ پر کړو وړو اغیز ولري او سره ورته یا مشابه ځانګړنې ولري په جمعي ضمیر کې د سمبولونو په مرسته ځان را څرګندوي. (۸-۷-۱۳)

ددې بېلګې ډېرې بښوول شوي، چې څنګه زاړه یادونه آن وروسته له سلګونو کلونو څخه په وروستیو نسلونو کې ځان څرګندوي، د بېلګې په توګه داسې ماشومان لیدل شوي چې د سلګونو کاله پخوا پېښې په خوب کې ویني یا هم د خپلو زرکلنو نیکونو مذهبي مراسم ور په یادیږي، حال دا چې د دوی نسل نور نو په هاغه ګروهونه وي ګروهمن. موږ به د نوح (ع) توپان، د حضرت ابراهیم (ع) په اور کې غورځول، د حضرت اسماعیل (ع) قرباني او نور داسې حوادث یا په خوب وینو یا به په خپلو خیالاتو کې د هغو لپاره تصورات لرو، آن کیدای شي له هغو څېرو څخه کومه نښه په یاد لرو چې د چنګیز خان په یرغلونو کې یې زموږ نیکونه او اناګانې وژلي دي.

په ناخود آګاه کې درې روحي حوزې د درییو پوړونو «قشرونو» په توګه فرض کړئ.

۱.د بشري تاریخ ګډ روحي پوړ، چې له ټول انساني تاریخ سره اړیکي لري.

۲.د قومي تاریخ ګډ روحي پوړ، چې زموږ د نیکونو «هغو نسلونو څخه چې له موږ سره د وینې او وراثت اړیکي لري» له ژوند سره اړه لري یعنې هغه روحي ګرومونه، اخیستنې، اغیزې، انګیرنې او تصورات چې موږ ته له جنیتیکي پلوه په مېراث را رسیږي او کیدای شي زرګونه کلونو ته ورسیږي.

۳.زموږ د وګړني «فردي» تاریخ روحي پوړ چې له زوکړې څخه بیا تر مرګه د برسېرن پوړ په توګه رامنځ ته کیږي او په هغو پېښو او تصوراتو پورې اړه لري چې د فرد په ژوند کې تجربه کېږي، ویني یې او احساسوي یې.

دغه زړې رواني انګیزې زموږ په روحي شخصیت باندې ژور اغیز لري آن ویلی شو چې زموږ روحي شخصیت له همدغو څخه جوړ دی، ځکه خو پوهاند مجروح په ځانځاني ښامار کې دې ته ځانګړی ځای ورکوي:

لاروی د نیمو شپو وم
هلته ناست د سمڅې خولې ته
هک حیران وم
نږدې هلته
ښکاریده رنګ دیوالونه
کنډوالې وې د کوم زوړ لرغوني ښار دا
رواقونه ځوړند ځوړند مرمري ستنې ولاړې ځنې ملاستې
داسې فکر مې کولو:
آخر څوک به را پیدا شي
زمانې به وریادیږي تېرې تېرې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ورکې آبادۍ
خبر به وا خلي (۱۰ـ۲۵)

د ښامار قهرمان ته څو څو ځله تاريخ تکراريږي، هغه د يوې پيچلې کړۍ په منځ کې را ايسار دی هر ځل عذاب، مرګ او روحي بحران، کله کله داسې پېښې او کيسې ورته تکراريږي چې ده ته اشنا وي خو په سرچينه او وخت يې نه وي خبر:

لاروي چې دا حال وليد
بې اختياره په خندا شو
څکه ځکه دا داستان هسې داستان و
چې ده چېرته اوريدلی په بل ځای کې مکررو څو څو واره (۱۰ـ۱۴۹)

او يا:

بيابان و، تر ورږمۍ وه، توره شپه وه
خو له ماسره دننه يوه ډيوه وه بليدله
دا ډيوه د تېرو وختونو خاطره وه
انسانان مې لا ليدل د خيال په سترګو
د غمجنو فريادونه، ډک له قهره اوازونه
غږ د مينې محبت مې لا تر غوږو... (۱۳-۱۰)

زړه او ټوليزه ناخودآګاه د ځانځاني ښامار په کيسه کې مهم ځای لري، په کيسه کې څو ځله د ښامار واکمن، لاروی او يا هم د کيسې د راوي ليد لوري سره ګډيږي او د پېښو تکرار په اوبو کې د کړيو په څېر تکميليږي، ښار څوځله شاړيږي او ورانيږي څو ځله د ښيرازۍ وختونه را په ياديږي، قهرمان ښار ته راځي، واکمني کوي او مري، ښامار د چينجيو په ډنډ کې زيږي او لوييږي او ښار ته ځي، يو ځل مخکې له لاروي څخه رارسيږي، دواړه تصوره اخيستل کيدای شي يا خود پېښو استمرار او تکرار او يا هم د يوې پېښې بيا بيا انځورول له مختلفو ليد لوريو څخه، کيسه يوه ده، موږ په خپله زړه ناخود آګاه کې څو څو ځله ژوند کړی دی.

اروا پوهان فکر کوي چې د تناسخيانو د بيلا بېلو معادونو ژوند هم تر يو بريده په ټوليزه ناخودآګاه کې د هغوی په تېرو خاطراتو پورې اړه لري چې د مذهبي ځانګړتيا او اهميت له مخې هغوی ته ډېره د پام وړ دی.

يو ځل کله چې د مرګ استازې بوډۍ قهرمان ته ورځي او له ځان سره تللو ته يې بولي خو قهرمان ورته وايي چې ما ته موقع راکړه چې بيا ژوند وکړم او دا ځل به هغه تېروتنې نه کوم چې تېر ځل مې کړې خو بوډۍ ورته وايي چې نه ته به بيا هم همدغه څه وکړې، ځکه دا هر څه به ستا هېروي، د جمعي ناخودآګاه د ټوليز ځان ناخبري شعور، ځانګړنه همدا ده چې ټول تېر ژوندونونه يا خاطرات يې هېروي يوازې د ځينو سمبولونو او رمزونو په څېر په خوب يا کله هم ويښ شعور ته راځي. له زړو اساطيرو سره زموږ مينه – سره له دې چې پرې عقلي باورنه لرو – له همدې ځايه ده، چې زموږ په زړو يادونو کې ځای لري او په لرغوني شعور کې بلاخره خپل عقلي ځای ته ځان رسوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ځانځاني ښامار کې هنر ته تمایل:

ایمانویل کانت فکر کاوه چې هنر د ښکلا خوښوونې له غریزې سره مخامخ اړیکې لري استاد روهي هنر ته دغه تعریف غوره بللی: «هنر د ټولنیز شعور او بشري فعالیت یو ټاکلی شکل دی، چې واقعیت (Reality) په هنري ایماژونو کې منعکسوي او په استتیک ډول سره د نړۍ د پېژندنې او انځورونې وسیله ده.» (۱–۲۲)

دا د هنر تر ټولو عقلي تعریف دي خو بیا هم په کې د منځ ټکی استتیک «ښکلا خوښوونه» ده، انسان ښکلا ته د رسیدو لپاره هنر رامنځ ته کوي او له هغه ځایه، چې ښکلا خوښوونه د یوې غریزې په توګه د بشر همزولې ده، هنر هم، چې د دغې غریزې ممثل دی، له بشر سره ګډ نړۍ ته راغلی. هنر له ښکلا او تخیل څخه زیږې او د انسان د روحي تندې د خړوبولو چاره ترسره کوي. موږ ولې هنر ته اړیو، ځکه په شعور کې مو ځینې شا ته تمبول شوي ګرومونه (عقدې) غواړي له دې لارې څخه ځان آزاد کړي.

ښامار که څه هم پخپله په یوه ښکلي قصر کې اوسي خو ښکلا یې نه خوښیږي په ښار کې د ښکلا هر مظهر نابودوي. په لومړۍ ورځ کله چې ښار ته ننوځي نو د ښکلا نښه «غرځنۍ» په غشي ولي:

په دې وخت کې نژدې هلته
غرځنۍ وه ګرځیده له مستې مستې
ساده زړې، بې خبره، وه معصومه پاکه پاکه
قهرمان ژر په لینده کې غشی کېښود
په یو کش غشی روان شو
غرځنۍ زړګی شو څیرې... (۳۱-۱۰)

خو د ښکلا پر عکس ښامار د بت پرستۍ ګروهې ته اهمیت ورکوي او غواړي په خپله ګټه یې وکاروي. ښامار د ښار راهبانو ته دنده ورکوي، چې دده د هسکې ماڼۍ خوا ته یو معبد جوړ کړي، چې دده «ښامار» مجسمه پکې ایښې وي چې نیم انسان او نیمه اژدها وي، بوډا راهب د ښامار په استازیتوب خلکو ته امرو نهي کوي او د ښامار قرباني او نذرونه مني.

خپل ځان ته پرستش د ځانځاني ګروم «عقدې» نښه ده همدغه ګروم د هنر او ښکلا پر ضد دریږي. په ځانځاني ښامار کې له ځانغوښتنې او ځانځانۍ څخه را زیږیدلې ګروهه او عقیدوي تمایل د ښکلا او هنر پر خلاف ده استاد مجروح لیکي:

د معبد د ګنبد لاندې
یو بوډا به ستر راهب و
جامې ژیړې، کمیس اوږد
سرسرتور هم
د بت پښو ته به تل ناست و
بیا به ده د بت له خولې کړه بیانونه...
... ټول ښایسته ښکلي شیان چې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر چاوو په کورو کې
ټول راتوی خرې خرې شول
دبت پښو ته
زيبايي له ښاره ولاړه
په معبد کې زنداني شوه (۱۰ـ۳۴-۳۳)

د نوې ارواپوهنې له نظره شاته تمبول شوي غرایز او عواطف که د هنري استعداد له مجرا څخه فوران وکړي نو د هنري پنځوونو «تخلیق» لامل ګرځي او Ego «ځانځاني» چې ددغو غریزو او عواطفو د فوران مخالفت کوي له هنر او ښکلا خوښونې سره هم مخالفت کوي، د هنري استعداد د ودې مخه نیسي، د خود پرستۍ شعور هڅه کوي د ګروهیزو دلایلو او خنډونو په مرسته د هنر او ښکلا مخه ونیسي.

داسې ادعاوې ډېرې دي چې د ښکلا خوښوونې غریزه د انسان په حیواني روان پورې اړه لري، حال دا چې د انسان Super Ego له حیواني غرایزو څخه کرکه لري، خودپرست شعور غواړي انسان له ټولو حیواني غریزو څخه لرې کړي. داروین فکر کاوه، چې:

« د ښکلا پېژندنې حس له پوهې سره اړیکې لري او آن ژوي هم د ښکلا پېژندنې حس لري». (۱۴ – ۱۲۵)

جیرین Girin همدا خبره په بله بڼه داسې کوي:

«د ښکلا د پېژندلو لپاره له غریزي ځواک پرته په بل څه فکر نه شو کولای».(۱۲۷-۱۴)

د ځانځاني بت د لمانځونکي ځواک او د ښکلا خوښوونې د غریزي ترمنځ شخړه او رواني جګړه په ځانځاني ښامار کې ځو ځایه په تفصیل راغلې چې ډېره په زړه پورې ده.

## په ځانځاني ښامار کې د عقل او فکر دریځ:

د استاد مجروح له متن څخه ښکاري چې عقل او فکر د احساساتو او غریزو په مقابل کې ځای لري. پر ځان مین شعور عقل او فکر د خپلو غلامانو په څېر استخداموي او خپله پاچاهي د همدوی په زور ټینګوي.

په نوې اروا پوهنه کې عقلي ځواک او فکر د وسایلو په توګه د وینښ شعور لپاره کار کوي. دغه ځواکونه پرځان مین شعور ته لاره هواروي چې د ځانستاینې، ځانولۍ او ځانښونې لپاره منطقي لارې پیدا کړي؛ غریزي او عاطفي ځواکونه په شا وتمبوي، استاد مجروح لیکي:

غریزې او عاطفې او هیجانونه
وو ددې هېواد لرغوني اوسیدونکي
بې پروا به ګرځیدل آزاد سرمسته
په ځوانۍ او په ښکلا کې
تل بهار وو
تا کړه دغه اوسیدونکي، له ځان دورې
یا پابند تا په قیدو په دسپلین کړل...
... تاد وی واستول زندان ته

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې لاندې
زنداني د تل د پاره ابدي شول
تا مونده کړه، فقط دوه شيان
غلامان بس
يو و عقل، بل و فکر
دواړه ستا مشاورين شول...

د انسان روحي بدلونونه غير ارادي او نامرئي لاملونه لري، ځکه چې له تحت الشعور سره مخامخ اړيکي لري، عقل او فکر د انسان د ذهني فعاليت ارادي ځواکونه دي او د شعوري فعاليت عمده وسايل دي، له علمي پلوه هم د استاد مجروح دغه سمبوليک تمثيل د منلو وړ دی.

## ژورخپګان (Depression ):

دا تر ټولو ملموسه او جدي رواني ستونزه ده چې انسانان ورسره مخامخ وي. ډېر ځله د ژور خپګان يا ديپريشن لامل نه وي معلوم، اروا پوهان فکر کوي چې د ژورخپګان د علاج پيل همدا وي چې لامل يې وپېژندل شي. يوه رواني فرضيه دا سې هم ده چې ژورخپګان هغه مهال رامنځ ته کېږي چې انسان له خپل ځانه ناهيلی شي. پر ځان بی حده باور او بيا د ناتوانۍ له امله ددغه باور ماتيدل ديپريشن رامنځ ته کوي.

د شکست او ماتې احساس له خپګان سره مل وي «ځانځاني ښامار» وايي چې ستر فاتح «خودي ښامار» يعنې پر ځان مين شعور ددغې ناروغۍ راوړونکی دی:

ستر فاتح د ټول عالم خو
ډېر راوړي وو له ځان سره ميکروبونه د ساري ساري امراضو
يو مهلک زهر قاتل يې
د وجوده خپريدو هم
ده راوړي و دې ښار ته
درې مرضه:
يو مرض غم او خپګان و
بل مرض قهر و عضب و
دريم ډار او واهمه وه...
... زيات شمېر ښځې، ماشومان او بوډايان به
په مرض د غم خپګان اخته کيدل...                    (۱۰_۴۱)

اروا پوهان کله کله له خپلو ناروغانو سره د خبرو اترو، مصنوعي خوب ورکولو يا هيپنوتيزم (Hypnotism) او نورو طريقو په وسيله غواړي د هغوی تحت الشعور ته لاره وکړي او د ګڼو هېرو شويو عقدو په منځ کې د ناروغ د خپګان لامل وپېژني بيا نو د دوی په نظر درملنه اسانه وي. راځئ وګورو د ځانځاني ښامار اتل څنګه هڅه کوي د خپل خپګان لامل وپېژني.

... بله ورځ، چې دا توپان سخت چليدلو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ، هستي يې لړزوله
ناڅاپي ورته ښکاره شو ، ددې هسې پريشانۍ
علت سبب لوی
ده ګومان کړلو يو وختی
چې په ژوند او په هستۍ کې
يو لوی درد خو ، تېرېدل د زمانې دي
اوس يې پام شو چې عظيم درد
د زمان تېرېدل نه دي
هيبتناکه وحشتناکه درد خو بل دی
درېدل د زمانې دي

د شعور واکمن سره له دې چې پر ښار حکومت کوي، په ښکلې مانۍ کې اوسي، بې قيد و شرطه واکمن دی خو بيا هم له ژور خپګان سره مخامخ دی. تل ځورېږي او وېرېږي، د خپل خپګان، ځور او وېرې په لامل هم نه پوهېږي، په داستان کې شاعر نتيجه اخلي چې بالاخره قهرمان د خپل خپګان لامل مومي او هغه د مرګ حتمي راتلل دي.

په دې اړه د ښامار له روايت څخه دا پايله هم ترلاسه کېږي چې ژور خپګان که ونه سپړل شي په روح کې ګواښمن ګرومونه «عقدې» رامنځ ته کوي چې دغه ګرومونه بيا د جنايت او جرم لاملونه ګرځي او د انسان په نهاد کې جنايت کولو ته ميلان رامنځ ته کوي:

زلمو تل شخړې جګړې کړې دښمنۍ کړې
مرګ قتلونه به يې کول
تو يولې به يې وينې يو د بل تل
ډېر کوچنيان به د ځوانۍ له عمره مخکې
د خپګان په نرۍ تبه رنځېدل او مړه کېدل

ژور خپګان د قهر، وېرې، اضطراب او بې باورۍ لامل هم ګرځي، بې باورې د يوې رواني نيمګړتيا په توګه ټولنيزې ستونزې هم را زېږوي:

که مرض د غم خپګان به لږ قلار شو
که د قهر او د غضب تبه به لاړه
واهمه او ډار هېڅ وخت نه ورکېدلو
ساري بد مرض خود او
چې جاري تل شامدام و
نور به خلکو يو پر بل اعتماد نه کړو
نه باور د چا په مينه محبت و
نه دوستي وه، نه اخلاص و ، نه رېښتيا رېښتيا خبرې
ډاريدل خلک يو بل نه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مرګ څخه ویره:

«د ژوند تلپاتې اضطراب دادی چې ژوند تلپاتې نه دی!»

لومړني انسانان چې وپوهیدل مرګ حتمي دی او له مړینې چاره نشته نو له تلپاتې اضطراب سره مخامخ شول، له مرګ څخه ویره د ناځانخبري شعور په درې واړه پوړونو «تاریخي»، «قومي» او «فردي» کې پټه ده او هر انسان د موریانې په څېر له دننه څخه خوري. د تلپاتې ژوند لپاره هڅه د انسان یوه داسې تلوسه ده چې تل یې دغه عجیب موجود کړولی دی او تقریباً همیشه په خپل دې کړاو او هڅه کې ناکام پاتې شوی.

زړې اسطورې، بېلا بیلې مذهبي کیسې، افسانې، شعرونه، انځورګري او تاریخي روایات ددې شاهدان دي چې انسانانو تلپاتې ژوند ته د رسیدو لپاره څومره کړاوونه ګاللي دي.

تر نورو د زړې موندل شوې حماسې ګېل ګمېش یوه لویه برخه په دې هکله ده چې ددې حماسې اتـل ګېل ګمېش له مرګ څخه د تېښتې او تلپاتې ژوند ته د رسیدو لپاره اوږده سفرونه کوي. هغه چې ویني د ډېر نږدې دوست یې «انکیدو» چې غورا غښتلی او ځواکمن و، مړي نو پخپله فنا یې باور راځي، دا نو د ګېل ګمېش په څېر متکبر او غښتلي پهلوان ته تر ټولو لویه غمیزه «تراژیدي» ده چې پر خپل مرګ باور وکړي. ګېل ګمېش ددی لپاره چې د تلپاتې ژوند راز ومومي د بلې دنیا سفر پیلوي او د نوح (ع) چې په منظومه کې د «اوته نه پیش تیم» په نامه یاد شوی ملاقات ته ورځي. له دغې مشهورې او زړې حماسې څخه به دا څو کرښې راوژباړو!

اووه شپې او ورځې مې د هغه «انکیدو» مړی وساته!
نه مې پرېښوده چې خښ یې کړي
آن چې له پزې څخه یې چینجي راولویدل
د هغه تر مړینې وروسته مې ژوند ته ونه شو کتلای
او لکه د بیابانونو غل، ورڅخه پټ ګرځمه
اوس اې میرمنې!
ای «سی دوري سابیت»* چې درته ګورمه!
آیا کولای شم چې له مرګ سره مخامخ نه شم
او له دې ویرې څخه ځان لرې کړم؟
سي دوري سابیت ګېل ګمېش ته وویل:
«ګېل ګمېشه! خو شې هڅه کوې؟
هغه تلپاتې ژوند چې ته یې لټوې
هیڅکله به یې تر لاسه نه کړې

---

* سی دوري سابیت snider sabit هغه پوهه ښځه چې ګېل ګمېش ته په یوه مزله کې مخې ته ورځي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې آدم یې هستاوه
مرګ یې هم په نصیب کړ... (۱۰-۱۴۳)

له مرګ څخه ویره دومره د انسانانو پر شعور، حواسو او خوبونو حاکمه ده چې د روحي اضطرابونو، خپګانونو، ناهیلیو او د پوچۍ د احساس لامل ګرځي.

انسان فکر کوي، دا هر څه ولې کیږي، یعنې څه؟ او بالاخره مرګ !!!

د یونان، روم او هند په زړو افسانو کې لسګونه پېښې داسې موندلی شئ چې یو څوک د ابدي ژوند په لټه کې خپل هر څه پریږدي او له ځانه بهر وزي. د حضرت خضر (ع) چینه، د آب حیات اصطلاح، د کلپسو وصال، د لمرد زوی – یا د لمرد رب النوع – طلایي ویښته او داسې نور هغه اساطیري سمبولونه دي چې د تلپاتې ژوند هیلې انځوروي.

کره کتونکي وایي، چې «اودیسوس» ځکه د یونانیانو په نظر استثنایي قهرمان دی چې خپلې میرمنې او هېواد ته د وفادارۍ لپاره له ابدي ژوند څخه تېر شو، هغه مهال چې د «اوجیجیه» ټاپو ته ورسید او د کلپسو په نامه یوه ښاپیرۍ پرې مینه شوه، دغې ښاپیرۍ اودیسوس اته کاله په ډول ډول بهانو له ځان سره وساته او بالاخره یې چې خپل کور ته د هغه د ستنیدو تنده ولیده ورته یې وویل، چې که له ما سره پاتې شې نو ابدي ژوند به دې په برخه شي، خو اودیسوس ونه منله او په پای کې زئیوس له کلپسو څخه غوښتنه وکړه چې اودیسوس ته اجازه ورکړي چې ولاړ شي.

څومره لوی قیمت! ښایي اودیسوس هم ځکه داریسک منلی و، ډاډه و، چې ابدي ژوند نشته او بالاخره به مري، خو په هر صورت ظاهراً یې د خپلې وفادارۍ لپاره لوی تاوان په ځان منلی و.

ګویته د فاوست په تراژیدي کې همدې ته اشاره کوي، فاوست د یوه تلپاتې ژوندون لپاره خپل روح په شیطان پلوري.

د شرقي صوفیانو په آثارو کې پر معنوي ابدي ژوند ټینګار کیږي، دلته هم د فنا او مرګ له ویرې څخه تېښته شته، عرفان یوه لاره په ګوته کوي او هغه د عرفاني سلوک او درجو په تېرولو سره حق ته رسیدل دي، دوی باور لري چې د ریاضت، تقوا او نفس سره د مبارزې له لارې د وصلت او وحدت درجو ته د سالک رسیدل هغه ته جاوید او ابدي ژوند او فلاح ور په برخه کوي. مونږ ګورو، چې د تصوف له نظره د ابدي ژوند یو لوی خنډ نفس دی، هغه نفس چې مونږ ورته ځانځاني ښامار یا ایګو هم وایو.

استاد مجروح کټ مټ همدا خبره تمثیلوي او ددې پېښې رواني اړخونه انځوروي، هغه اضطراب او ویره چې انسان یې له مرګ څخه لري په ځانځاني ښامار کې څو ځله انځور شوې ده:

پرښته د تروږمو
بله ورځ، دا زموږه قهرمان ستر،
شو را پورته له درانه خوبه ناوخته
د همیش په شان یې وکتل خپل ځانته آئینې کې
خو هر څومره چې به ځیر شو ائینې ته
یوه څېره ناشنا ناشنا ورته ښکاره شوه
ده ونه پېژاند ځان هیڅ

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه ځکه،
دده عکس په آئینه کې ډېر مغشوش و
او عجبه خو لا دا وه
په آئینې کې دا څېره ورو ورو روانه ورکیدله
* * *
هم په دې ورځ، چې ماښام شو توره خړه
را پیدا شوه له کوم ځایه
را روانه، پټه پټه، غلې غلې
یوه ناشنا زړه بوډۍ وه
د ښار لویې دروازې ته ودریدله
څېره بده، هم مرموزه
تور کمیس تور یې پرتوګ تور یې زړوکی د لوګي وو
د ښار لویه دروازه شوله برسېره،
په خپل سر له خپل ځانه
بوډۍ ننوته ښار ته
د هغې هسکې ماڼۍ په لوري لاړه
خو ناشنا شانتې بوډۍ وه،
بې له دې نه چې قدم په ځمکه کښېږدي
د ښایسته زینونه وختله پورته
بې له دې نه چې کوم مکث یا توقف کړي
د مرمرو جګو ستنو نه شوه تېره
د ښایسته ځلانده قصر دروازې ته ودریدله
دې بوډۍ بیا،
نه زنځیر د دروازې وشرنګولو،
نه یې ور وټکولو،
ور برسیره په خپل سر شوه
بوډۍ لاړه، شوه په قصر کې دننه
دا ناشنا زړه بوډۍ خو
څېره بده هم مرموزه
ستر واکمنه پرښته د ترورمو وه
دا راغلې وه د ستر واکمن دیدار ته
خو لا اوس هم
تیار نه و ملاقات ته قهرمان ستر

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرښته وه ور روانه، ورنژدې شوه
قهرمان ستر یې له لاسه ونیولو
بیا موسکۍ موسکۍ کیدله
څېره بده هم مرموزه
بیا یې وکړو اشارت ناشنا افق ته
هلته دورې قهرمان ته
څه چې ځو اوس
قهرمان زموږ وډار شو
له دې هسې نااشنا مسافرت نه
نو یې دا شانتې ځواب کړو :
زه خو دلته میشته خوښ یم
ددې ښار په دیوالو کې
د ښاریانو د څراغ په پلوشو کې
ستر واکمنې پرښتې ورته په نرمه ژبه ووې
خبر نه یې؟ چې اوس دلته خو څوک نشته
نه کوم ښار شته، نه ښاریان نه څراغونه !
قهرمان په زارۍ ووې
اخر زه خو، لا تر اوسه،
په خپل ژوند پوه شوی نه یم !
نه لذت ما کوم میندلی ! نه لیدلې خوشالې ما
لاتر ننه، لاتر اوسه
حتی نه دی پیدا کړی، ما خپل ځان هم
لږ نوبت راکړه چې لاړ شم،
یو ځل شاته،
تېرو شو پړاوو ته بېرته ستون شم
خپله ورکه، نامعلومه، خو پیدا کړم !
بیا یې ووې:
خبر نه یې؟
اوس خو وخت ناوخته شوی دی بې شانه
په شاتګ هم بې فایدې دی، ستا د پاره
څکه ته به بیا تکرار کړې
کړې کړې ګناهونه
بیا به دورمې، ځغلې ځغلې،

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانځاني پسې د ځان خپل
هم په دې سراب پسې به بیا روان شې
په اخر کې، یو ځل بیا به،
ته را ورسیږې دلته، دې صحرا ته
قهرمان په زارۍ ووې
ته غوږ کښېږده...
زه خو اورم یو اواز له لرې ځایه
زه یقین لرم چې هلته په بېدیا کې
ما څوک غواړي، ماته غږ کړي
څوک زما په انتظار دي
اجازت را کړه چې ورشم
تپوس وکړم چې څه وایي؟
زه باور کړم، کوم مهم پیغام لري زما دپاره
بوډۍ بیا وموسکېدله، په خندا شوه
نو یې ووې:
دا خو زه یم چې راوړې مې پیغام دی، ستا دپاره
یو پیغام د پیغامونو !
ته پخپله ښه پوهیږې،
چې په سراسر نړۍ کې
اوس څوک نشته غیر له مانه
چې اواز در باندې وکړي
انتظار وي ستا راتګ ته
یا پیغام کوم درته راوړي
کوم آواز
چې اوس ته اورې
بل څه نه دي
د خزان بې رحمه باد دی
زما دوست زما ملګری
چې را الوزي په غنو په اغزو کې
قهرمان یو ځلې بیا پېل په زارۍ کړو
اخر دومره خو فرصت لږ شانتې را کړه،
چې یو ځلې، د دریاب غاړې ته لاړ شم
یو وار بیا تماشه وکړم،

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسمان د آبي رنګه کنارو زه
د سیند پورې غاړه تېر شم دورې دورې
دا خپل ځان لږ شانتې هېر کړم
 څو شېبې لنډې خو وکړمه ژوندون زه
لکه څوک چې هڅه کاندي
کوم بدخویه، ناکلاره کوچنی په خوب باندې بیده کړي
په دې شانتې، دا بوډۍ هم
مهربانه وه بې شانه
په پسته ژبه لګیاوه، نرمه نرمه
په ورو ورو یې ورته ووې
اې زما د زړه واکمنه
هر څه تېر دي
اوس خو ډېر ناوخته شوی دی ناوخته
د زړه سره ! ستا یادیږي؟
په هر لار چې تا ګوزر کړو
پل معبر دې ورانولو
په هر سیند چې تېرېدلې
نو بېړۍ به دې سېځلې، خپلې شاته
تا ګومان کړو.
چې په دې شان د غلیم لاره شوه بنده
هیڅ دښمن به په تا ونه کاندي برید نور
په واقع کې ته خو هغه قهرمان یې
چې دې خپلو فتوحاتو یې مات کړی مغلوب کړی
اوس نه پل شته، نه معبر شته، چې پرې تېر شې
نه کښتۍ شته، نه زورقه چې په سیند دې پورې باسي
لارې نشته
ټولې بندې دي تړلې
یګانه لار د خپل ځان د هېرولو،
هغه لار ده، چې یې زه درته درښایم
یګانه پړاو چې هلته
د خپل ځان له جهنمه خپل ځان خلاص کړې
هغه ځای دی،
چې زه اوس تا له خپل ځان سره هلته بیایم

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

د لومړي کرت د پاره
په خپل ژوند کې
قهرمان په حساب پوه شو
بینایي ورته پیدا شوه
چې هیڅکله، په عالم کې
تبنتېدلی هیڅوک نه شي له قسمته
که هر څو مره نن سبا کړي
سرنوشت ته
بیا سبا دی، بیا انجام دی، خاتمه ده
قهرمان په ژور تل کې د هستۍ خپل
احساس وکړو
چې مطلق یوازې پاتې دی یوازې
او فقط یوه لاره پاتې بله نشته
هغه لار چې تللې، د ناشنا منزل په لوري
په تورتمو تروږمو کې
نامعلومه، بې انجامه
نو را پاڅیدو ولاړ شو
د تورتم په پرښتې پسې روان شو
بیا را ووتل دوی دواړه
د ماڼۍ له کنډوالونه
د لوی ښار له خرابونه. بیا روان شول
لاړل لاړل کومې خواته نامعلومه...

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریېیم فصل

## په ځانځاني ښامارکې شعور او تحت الشعور

ښایي پوهاند بهاؤالدین مجروح لومړی افغان معاصر شاعر و ،چې په خپل شعر کې یې دنوې اروا پوهنې یوه موندنه ( تحت الشعور ) تمثیل کړې ده. او هغه هم په ډېره په زړه پورې بڼه ، ځانځاني ښامار په حقیقت کې د ځانځاني نړۍ د لاروی سفر له شعور څخه و تحت الشعور ته تمثیلوي او دا ښیي ، چې څنګه د تحت الشعور په تورو سمڅو کې د انسان ډېره برخه هستي پټه ده ؟

پخپله استاد مجروح د اژدهای خودي (فارسي متن ) په پایلیکونو کې کاږي:

«ځان خبری شعور هغې سمڅې ته ورته دی ، چې ژورتیا یې ځانپرسته شعور ته دلیدو وړ نه ده ، خو په یوه بحراني دوره کې وګړی خپل چاپیریال تش ، وران او وچ ویني ، نو فکر کوي ، چې د ژوند انګیزې ښایي په تحت الشعور کې پټې وي. یا په بله ژبه د ژوند سرچینه د سمڅې په ژورو کې ورکه ده او بهرته له بهیدو څخه پاتې ده. انسان مجبور دی ، چې د ذهن له بې ژونده برخې تیر شي یا د اثر په ژبه (د وچ بیابان او دښتې سفر پیلوي ) او د تحت الشعور درشل ته رسېږي ، مګر... ځانپرسته شعور په تحت الشعوري منځپانګه کې ورکېږي او ( ځانځاني ) او ( انانیت ) یا ځانولي له لاسه ورکوي ، په عامه ژبه دې حالت ته لیونتوب وایي.» ( ۱۱ـ۱۴۲ )

استاد مجروح یو بل ځای د تحت الشعور په اړه لیکي:

« د تحت الشعور غبرګون د شعوري کړنو جبران دی ، په دې مانا ، چې شعور بهر پلوی دی ، او هڅه یې داده ، چې د بهرنۍ نړۍ له حالاتو سره جوړ جاړی وکړي ، خو پر عکس د بنیادمانو ګډې تجربې ښیي ، چې تحت الشعور دروني غبرګون ښیي.» (۱۱ـ ۱۵۹)

تحت الشعور (ناخوداګاه ) یا ځان ناخبری شعور Unconscious د The skeptic's Dictionary - انلاین سیند -

دا سې تعریف کړې:

The Unconscious or Subconscious mind, according to classical fieudian psychoanalysis is a part of the mind that stores Repressed memories .

ژباړه:

ناخوداګاه یاتحت الشعور دفروید دکلاسیکی اروا پوهنې له مخې د شعور هغه برخه ده ،چې شاته تمبول شې خاطرې او غرایز پکې خوندي (زیرمه ) شوي وي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکیپټکیس ډیکشنري د ناخوداګاه یا تحت الشعور دواړه انګریزي معادلات: Unconscious او Subconscious رااخېستي. (Un) د (لا) یا (نا) او Sub د (تحت) او conscious د شعور په مانا دي. عربي معادل یې لاشعور او تحت الشعور کېږي او پښتو یې پوهاند زیار ځانخبري او ځان ناخبري بولي.

دا تر شعور ورها خوا دانسان دهغو شاته وهل شویو ، هېرو شویو او ځپل شویو غریزو ، تخیلاتو ، خوبونو ، غوښتنو ، او عقدو زیرمه ده ، چې د فردي ، قومي او ګډ بشري ژوند په اوږدو کې له شعوري ساحې څخه تحت الشعوري برخې ته رسوب کوي. اوس مهالي اروا پوهان فکر کوي ، چې هیڅ عاطفي – فکري – تخییلي – ذهني او استدراکي پېښه کاملا نه ورکېږي او لکه ماده یوازې خپله بڼه بدلوي ، ښایي ګڼې پېښې تحت الشعور ته ننوزي. دفروید کشف دا و ، چې دغه تحت الشعوري پدیدې هڅه کوي په بیلابیلو بڼو بېرته د شعور ساحې ته راشي نوموړی په دې اړه په زړه پورې مثال هم ورکوي ، چې وروسته به په تفصیل راشي خو اوس به تحت الشعور د پیژندلو لپاره یو څه نور تفصیل هم ورکړو.

ددې لپاره ، چې تحت الشعور وپېژنو او د شعور له ساحې څخه یې په توپیر وپوهېږو اول به د شعور تعریف وګورو. دځانځاني ښامار شاعر پوهاند مجروح په خپل یو بل اثر « دجبر او اختیار دیالکتیک» کې دشعور ساحه دهاملتون او بالدوین له نظره رامعرفي کوي:

« شعور conscious هغه نسبتا کامله، نسبتاً رڼه پوهه ، چې روح یې په خپلو حالاتو او خپلو اعمالو لري. موږ دشعور تعریف نه شو کولای. موږ پخپله ښه پوهیدای شو ، چې شعور څه شی دی ؟ مګر موږ نه شو کولای ، چې غیر له کومې اشتباه دا رڼه پوهه ، چې موږ یې په ځان لرو ، نوروته دتعریف په شکل وپوهولای شو. ددې علت بسیط دی. شعور دهرې پوهې په ریښه کې پروت دی. (هاملتون)

هغه حالت ، چې موږ ورو ورو په یو بې رویا خوب کې له ځانه بې ځانه کیږو ... هغه حالت په کوم کې ، چې موږ ورو ورو دیو آواز په وسیله راویښیږو او په ځان پوهه پیدا کوو دا هغه څه دی ، چې شعور ورته وایي» (بالدوین)

استاد مجروح وړاندې داخلاقي شعور پېژندنه هم کوي ، چې پر اعمالو دقضاوت قوه ده. (۱۱ـ۱۷۳)

له تحت الشعور سره موږ هیڅ راز ارادي تماس نه لرو. شعور زموږ دوېښې پوهې ساحه ده ، چې کاروویې. استاد مجروح لیکي ، چې « فکر پخپله دتحت الشعوري قواوو دتاثیر لاندې دی.» (۱۱ـ۷۰)

دفروید له نظره تحت الشعور په یو بل ځای کې داسې راپیژني:

« دفروید په عقیده تحت الشعور د روح هغه منطقه ده ، چې دانسان ابتدایي او حیواني غرایز پکې په مجادله کې دي ، عقل ، فکر ، تخییل ، اخلاق ، صنعت ، اونور انساني صفات او مظاهر که موږ په دقت تحلیل کړو ، نو په تهداب کې به یې دغه حیواني غرایز بیا مومو .... دفروید په فکر د انسان اساسي غریزه جنسي او شهواني غریزه ده ، چې دآرټ( شعر ) مجسمه تراشي ، نقاشي ، تمدن... په راز راز رنګینو جامو کې ځان راښکاره کوي. (۱۱ـ۷۱)

که څه هم تحت الشعوري فعالیتونو یا د شاته وهل شویو عقدو فوران ، ځان ناخبری (ناخوداګاهي)تمایلاتو ته بشر له پخوا هم متوجه و ، د یونان ، هند ، مصر او بین النهرین زاړه آثار ، دنړۍ

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني لرغوني مذهبي متون او لرغوني ادب ددې شاهد دی ،چې انسان خپلو ځانځاني الهامونو ته متوجه و . او ډېر ځله يې په خپلو هنري –ادبي پنځونو کې دغه الهامونو ته اشاره کړې ده .

له ډېر پخوا څخه خوبونو ، تخيیلي سمبولونو او په اساطيرو او حماسو کې د کرکټرونو غير شعوري انګيرنې په تحت الشعور کې غريزي غوښتنې ناپيژندل شوې تداعي ګانې موږ دې حقيقت ته متوجه کوي ،چې د تحت الشعور ساحې ته ورته يو پټ راز و سواسي بشر ته ځان ورښوولی دی .

حماسه پيژندونکي فکر کوي ، چې ګېل ګميش يوازې ددې لپاره د هوم ببه (درس د ځنګل پاچا ) جګړې ته ملا ونه تړله ، چې تر ځان بل ځواکمن يې نه غوښت ، چې ژوندی دې وي ، بلکې د اساطيرو پوهان فکر کوي ، چې ښايي له تاريخي پلوه ګيل ګمېش له هوم ببه څخه په قومي ناخوداګاه کې ګروم (روحي عقده ) درلوده او کله يې چې دهغه وژل وليدل دغه ګروم پرانېستل شو . د پاچا اديپ په حماسه کې دفرويد پلويان په ناخوداګاه کې هغې پټې عقدې ته اشاره کوي ، چې ګواکې زامن يې د پلرونو په وړاندې لري ، د دوی په نظر پاچا اديپ خپل پلار يوازې د تصادف له مخې نه و وژلی ، بلکې په تحت الشعور کې يې له هغه سره کرکه وه . نوي ارواپوهان يو ګام وړاندې ځي او په دغې تراژيدي ډرامه کې ابو الهول او دهغه معما له پلارولۍ سره د کرکې سمبولونه ګڼي ، چې په عيني توګه نه بلکې د اديپ په ذهن کې به پېښې شوي وي . په ارواپوهنه کې د اديپ عقده مشهوره ده او داهغه عقده ده ،چې زامن يې له پلرونو سره لري .

خو زيګموند فرويد کولای شول په روح کې د تحت الشعوري پديدو او پر شعور دهغوی اغيز راوپيژني ، که څه هم استاد مجروح دفرويد کشف بشپړ نه ګڼي اووايي :

« د تحت الشعور کشف د اهميت له مخې د کريستوف کولومب د کشف په څېر و ، نوموړی ، چې امريکا ته ورسيد فکر يې وکړ هندوستان ته رسيدلی دی او په دې پوه نه شو ،چې يوه نوې لويه وچه يې موندلې ده . په همدې توګه فرويد د ناخوداګاه شعور قلمرو وموند خو هغومره ، چې نن ددې امر ( تحت الشعور ) په اهميت خبرې کېږي ، فرويد په خپل وخت کې نه و ورته متوجه شوی .

وروسته بيا دده د لارې نامتو لاروی يونګ C.G.Tung د تحت الشعور په اړه خلک وپوهول . »
(٩ـ١٥٥)

فرويد د تحت الشعور په معرفۍ کې شاته وهل شويو احساساتو ته اهميت ورکوي او فکر کوي ، چې هېر کړای شوي او ځپل شوي غرايز ، عواطف ، غوښتنې او احساسات دي ، چې تحت الشعور ورڅخه جوړېږي ،دی دغې پروسې ته Repression وايي . راځئ هغه تمثيل ،چې دغه نامتو ارواپوه يې د شعور او تحت الشعور په اړه لري دلته رانقل کړو ، فرويد دغه څرګندونې دامريکې په متحده ايالاتو کې د يوې علمي وينا په ترڅ کې کړې دي : « اجازه راکړئ داسې وګڼو ، چې د کنفرانس په همدغه کوټه کې ،چې ټول اوريدونکي يې باادبه او پوهنپاله خلک دي - او زه ترې مننه کوم –خو فکر وکړئ دلته داسې څوک هم وي ، چې له رواني پلوه ناروغه وي او ناسم رفتار لري فکر وکړئ دغه سړی په خندا وو ، پرله پسې خبرو او پر زمکه د پښو په کشولو زما فکر له اصلي موضوع څخه اړوي او د خبرو خنډ مې ګرځي . زه به ناچار د خبرو له دوامه لاس اخلم او ښېنه به غواړم ، بيا به نو څلور ښاغلي ، چې ښه ځواکمن هم دي، راپاڅيږي او دغه مزاحم سړی به تر يو څه ټيل مټيل وروسته له دغه ځايه وباسي . شړل شوی سړی به بېرته د راتلو اجازه نه لري او زه به خپلو خبرو ته دوام ورکوم . خو ددې لپاره ، چې خنډ بيا رامنځته نه شي او مزاحم سړی بېرته

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخبرو تالار ته رانه شي څلور متهور ښاغلي به خپلې څوکۍ له دروازې سره کېږدي او مزاحم به راننوتلو ته نه پرېږدي. يعنې تر ممنوعيت وروسته دهغه له راننوتو سره مقاومت هم کېږي. اوس که دغه ساده مثال له رواني لاملونو سره پرتله کړو د شاته وهل کېدو Repression ښه مثال ګرځېدای شي. (۷ـ ۸۷، ۸۸)

تردې وروسته فرويد دشعور او لاشعور ترمنځ هغو درزونو او منفذونو ته اشاره کوي، چې ښايي دشاته وهل شويو پديدو دنفوذ لپاره رامنځته کېږي.

فرويد دخبرو تالار خوداګاه (دشعور ساحه) او بهر دتحت الشعور ساحه ګڼي، شړل شوی سړی دشاته وهل شويو غوښتنو مثال بولي او فرضيه وړاندې کوي، چې دغه غوښتنې او تمايلات نه يوازې داچې بهرته شړل کېږي، بلکې دشعور ساحې ته دراګرځيدو مخه يې هم نيول کېږي.

د فلسفې دتاريخ يو نامتو ليکوال يوستين ګوردر په خپل کتاب (دسوفي دنيا) کې دفرويد همدغه تمثيل رانقلوي او په تفسير کې يې ليکي:

« هغه افکار، چې دځانخبري ضمير (شعور) له نظره ممنوع او نامطلوب دي. د شعور له ساحې څخه شړل کېږي خو دهغو بې حده ځپل د رواني ناروغيو لامل ګرځي». (۱۷ـ ۵۰۸)

تر فرويد را وروسته اروا پوهانو دتحت الشعور ساحه ډېره لويه ګڼلې او پريکړې ته رسيدلي، چې دانسان رواني اضطرابونه، حرکات، غبرګونونه، انګيزې او انګيرنې تر ډېره بريده له تحت الشعور څخه اغيز مني نظر شعور ته. دوی وايي دشعور مثال دکنګل د هغه لوی غره په څير ده، چې يوازې د څوکې يوه وړه برخه يې له اوبو څخه راوتلې وي. همدغه وړه برخه، چې ښکاري دشعور برخه ده او تر اوبو لاندې دغره لويه برخه، چې نه ښکاري، تحت الشعور دی.

پردې دپوهيدو لپاره پيچلي استدلال ته اړتيا نه شته موږ يوازې د عمر يوه وړه برخه په شعوري ويښتيا کې ژوند کوو، دخوب، بې خودۍ او هېرتيا شيبې مو له لا شعور سره دي دناخوداګاه قومي او ګډه بشري برخه ټوله په لا شعور کې پټه وي او دفردي روان لويه برخه هم هره شيبه په تحت الشعور کې رسوب کوي. هره شيبه، چې تېرېږي خاطره يې لاشعور ته سپارل کېږي.

کارل ګوستاو يونګ دخپل کتاب (انسان او د هغه سمبولونه) په لومړي فصل کې دتحت الشعور په اړه مفصلې خبرې کوي، دغه نامتو اروا پوه دکتاب همدغه فصل پخپل قلم ليکلی او نوم يې دی (د انسان له ناخوداګاه سره اشنايي) يونګ په پيل کې دناخوداګاه په اړه کښلي:

« داسې وقايع شته، چې موږ په ځان خبرۍ کې ورته پام نه دی کړی يا په بله مانا دغه پېښې زموږ دځانخبرۍ درشل ته نه دي وررسيدلي، دا وقايع پيښې شوي دي خو موږ په نيمه ځانخبرۍ کې پرته له دې، چې په ځانخبرې بڼه يې وپيژنو هغه مو جذب کړې دي. موږ يوازې هغه وخت ددې پېښو دشتون په اړه خبرېږو، چې ديوې شيبې شهود Intuition ته ورسيږو يا د ژور تفکر پر مهال ددغو پېښو لورته ورنږدې شو. امکان لري موږ ددغو وقايعو هيجاني او حياتي اهميت ته پام نه وي کړی، خو وروسته ديو ډول تر اند وروسته (پس انديشه After thought) په توګه زموږ له تحت الشعور څخه سر راپورته کړي.»

(۱۲ـ ۲۲)

يونګ د تحت الشعور دپيژندلو لپاره دانسان پر خوبونو کار کوي او دخپلو ناروغانو بيلګې ارائيه کوي، چې څنګه يې خوبونو له تحت الشعور څخه دځپل شويو او هېرو شويو رواني پېښو استازيتوب

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاوه ، یونګ دخوبونو او تحت الشعوري سمبولونو پېژندنه وړاندې کوي او له زړو خاطراتو څخه دنوي نسل دیادونو اونښو ذکر کوي ، چې دوی ته په میراث پاتې دي. یونګ زړو افسانو ، اساطیرو او کیسو ته اشاره کوي او دانسانانو ګډ سمبولیک او ناخوداګاهي واقعیتونه معرفي کوي؛ مثلا یونګ وایي: هغه څوک ، چې تر خپل وس لوی کارونه کول غواړي یا له خپل توان او دریځ اوچت خیالونه لري ښایي په خوب کې ځان دالوتلو یاهم رالویدلو په حالت کې وویني.

دیونګ له همدې اشارې څخه ښکاري ، چې ځانځاني یاځانولي ( خودي ) یا Egoism په تحت الشعور کې ژورې ریښې لري ، چې ډېر ځله زموږ له ارادې څخه بهر وي ، اوس به راشو او وبه ګورو ،چې دانساني روح دغه پیچلې او مغلقه برخه زموږ استاد مجروح څه ډول تمثیل کړې ده:

په دویم څرخ کې دځانځاني ښامار لاروی ،چې د واقعیتونو او ژوند دماناوو په لټون پسې وتلی دځان مونډنې په نیت دخپل شعور بریدونه ماتوي او دلاشعور مغارې ته ننوزي ،استاد دغه برخه داسې تمثیلوي:

لاروی دنیمو شپو نور خبر نه شو
چې په څه شانتې روان شو ،
دتور تمې مغارې دخولې په لورې.
دماښام ښاپیرکو ځلانده سترګې بې حسابه ورته ځیروې.
دتور تم پهره داران وو ، هلته ناست ده ته یې کتلې.
غټوغټو هرې خواته وو جالونه اوار کړي.
تنابونه راښکودلي کلک تړلي.
لاروی په ځان پوه نه شو ، چې له دوی نه څنګه تېر شو.
لاړو لاړو ...
فقط دومره په ځان پوه و .
چې احساس دبیرې ډار هېڅ ورسره نشته
بیا لیدل ده ،
چې روان قدم قدم و ، کوزېدلو له زینو نه ،
په نرمۍ په آرامۍ ډېر
دا زینې وې هم آوارې هم پراخې.
د زینو رنګ معلوم نه و
هم احساس کړولاروی ، چې ،
دقدم لاندې څه نشته
نه ډېره کومه ځمکه کلکه سخته.
تابه وې ، چې هرې خواته هر څه موم دي.
یوه ماده پسته سیاله هم بېرنګه
ده ګومان کړو وزن یې نشته

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبنګکې په شان سپک دی.
په لړزه لړزه روان دی
په ورو ورو ښکته سقوط کړي
دغه ځای يو هسې ځای و
چې نه تود و اونه سوړ و
نه رڼا وه نه تورتم و
دېوالونه ښکاره نه وو
شاوخواته هر څه ورک پناه پناه وو
په مغشوش خړ پړ منظر کې
خوېوازې هلته دورې په يو ځای کې
دتورتم په ژور پای کې
يوه کوچنۍ شانتې رڼا وه ځليدله
دبنګکې په شان سپک سپک
هغه ټولې غلغلې ټول شورماشور چې ،
پاس دسمڅې په مدخل کې اوريدلو
دهغو کوم اثر نه و
نه غړمباوه ددېوانو ، نه شرنګار دزنځيرونو
نه دربا دځغليدو وه دوحشي مست مست اسونو
نه خو هلته سمندر و ، نه درياب نه يې بستر و
چې به کله په کلار غلی خاموش و
بيا به کله توپاني شو له غضبه غرېدلو
هلته چوپه چوپيايي وه
بل څه نه وو
ارامي وه ، نااشنا سکوت سکون و
هر قدم چې لاروی ښکته کېدلو
سپين غبار ترې تاويدلو ، خړې لړې زياتېدلې
په دې لړو په غبار کې
نا شنا شبحې جوړېدلې ، خوځيدلې هرې خواته
بيا به تار په تار کېدې محوه کېدلې
بيا به دورې هلته نورې نوې بڼې د اشباحو راوتلې
خوځېدلې ، هم به تللې هم راتللې ، جوړېدلې ورکېدلې
دغه سمڅه ژوندی روح وه لاشعوره
په سکوت په آرامۍ کې يې ژوندۍ دخيال دنيا وه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هی لګیاوه څه خوبونه ورسره وو رویاګانې یې لېدلې
دخیالونو تصویرو په جوړولو کلکه بوخته
مودې ډېرې تېرېدلې
په دې هسې ښکته تللو
لاروی ښکته روان و ، سپک بې وزنه
ژور تل ناشنا غبار و ، خړې لړې
ډوبېدلو ډوبېدلو

دانساني روح پټو برخو ته داسې سفر پخوا هم تمثیل شوی دی ، په لویدیځ کې دانته په الهي کمیدي کې او په یوناني اساطیرو کې اورفیوس پخپلې معشوقې اوریدیسیه پسې داروا حو دنیا ته سفر کړی دی. دفلسفي دتاریخ ځینې پوهان فکر کوي ، چې معاصرو غربیانو هم دغه تمثیل له ختیزو صوفیانو څخه اخیستی ، اسدآسمایي فکر کوي ، چې د نیشاپوري عطار منطق الطیر او دغزنوي سنایي سیر العباد الی المعاد همداسې سفرنامې دي ، چې انسان یې دخپلو روحي وسوسو له مخې د شعور ساحې ته کوي.

د استادمجروح کار تو پیر لري او هغه ځکه ، چې په شلمه پیړۍ کې خپل افغان مخاطب ته دختیزو عرفاني تمثیلونو او لویدیځونو اروا پوهنیزو علمي موندنو یوه ګډوله دشعر په ژبه داسې تمثیلوي ، چې فکري موندنې نوې خود تمثیل زمان – مکان، پرسوناژونه او کرکټرونه اشنا او محلي دي. که تر استاد مجروح وړاندې پښتو ادب وکتل شي ،نوې اروا پوهنې په تېره بیا دتحت الشعور داسې روڼ – علمي او شاعرانه تمثیل نه دی شوی. که څه هم استادمجروح نه غواړي د لاشعور ساحه معرفي کړي، بلکې دی هڅه کوي وښيي ، چې څنګه ځانځاني او پر ځان مین شعور دځان ناخبري شعور په برخه کې زیږي ، وده کوي او بالاخره د انساني روح ټول قلمرو نیسي. د لاشعور دبرخې اهمیت له همدې ځایه څرګندیږي ، ځکه دانساني شخصیت اصلي ماهیت په همدې ځای کې جوړیږي استادمجروح غواړي وواېي ، چې تحت الشعوري غریزې موږ بدلوي او هغه څه رانه جوړوي ، چې یو . اروا پوهان - له هغو څخه استاد په ځانځاني ښامار کې – فکر کوي ، چې له تحت الشعوري اغیزو څخه رازیږېدلی شخصیت که څه هم له ځان سره په کشمکش کې وي اونه غواړي هغه منفي ځانګړنې ولري ، چې لري یې مګر دتحت الشعور ژور اغیز یې اصلاح ته نه پرېږدي ، دا کشمکش په تېره بیا دجنایت کولو پر مهال خپل اوج ته رسیږي ، د داستایفسکي (جنایات او مکافات ) رمان دهمداسې یوه روحي کشمکش په زړه پوري تمثیل دی.

د استادمجروح یو پیغام دادی ، چې انسان په خپل محیط او ټولنیز ژوند کې –له فلسفي پلوه له بل او طبیعت سره په اړیکو کې – دومره بوخت شي ، چې ځان ، خپل روحي حقایق او په تحت الشعور کې زیرمه شوي حوادث بیخي هېر کړي. ځکه خو د تحت الشعور محتوا ورته پردۍ او نااشنا ښکاري. یوازې دانه، بلکې انسان غواړي په لوی لاس په خپل تحت الشعور کې زیرمه شوي عواطف او غرایز هېر کړي او سترګې ورڅخه پټې کړي. کله انسان داسې شي ، چې ددغو غریزو ، غوښتنو او تمایلاتو له رایادولو څخه ویریږي ، پر ځان مین شعور ویره لري ، چې په لاشعور کې له زیرمه شویو یادونو سره مخامخ شي ، دا چې ولې انسان له دې حقایقو څخه ویریږي استاد مجروح مخامخ ځواب نه وایي خو د متن له تفسیر او تحلیل

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه په اروا پوهنه پوه لوستونکی کولای شي د ځانځاني ښامار له سمبولونو څخه ځانته ګڼ دلایل استخراج کړي ، د دغې پېښې او له لا شعور څخه ویره د استاد مجروح په شعر کې داسې راغلې ده:

چې شپه تېره شوه سهار شو
نو د ښار له شورماشوره
ومه دورې دورې تللی
نه اواز نه انعکاس و
تپه تپه چپیایي وه
شپه که توره ترورږمۍ وه
خومزل رڼا رڼا و
سبا يې چې روښنايي شوه
رسېدلی ومه زه بیا
د یوې تورې نا اشنا مغارې خولې ته
چې خپره شوه د سهار رڼا هرخواته
ګیر چاپیر دنیا بې شانه نا اشنا وه ،
رامعلومه شوه ، چې ډېر وم لرې تللی
انسانانو له جهانه چېرته دورې پرېوتلی
یوه سوزانه داغزو ډکه صحرا وه
غوړیدلې داسمان تر کنارو خپره لمنه
له کوم وخته ، چې جهان راپیدا شوی
په ډبرو کې وچ شوی
دیو خوړ کوږووږ بسترو
لوی لوی غرونه تور دیوان وو
ساه نیولې په خپل ځای باندې کلک شوي
پټه خوله ساکت خاموشه
یو دبل تر شا ولاړ وو منتظره
ښکارېدله ،کومه لویه حادثه وه را روانه
وحشتناکه ، لړزوونکې ، ناخبره ، نابېره ، نا انسانه
نږدې ما وته د سمڅې توره خوله وه
ننوتې چېرته لرې
نا پایابه ، ورکه ورکه په ناشنا ناشنا تورتم کې
داعجیبه تماشه وه
ناڅاپي مې شوه له سترګو پرده پورته
د ښاریانو د ژوند رمز شو رابرسېره

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان ولې استوګنه په ښار وکړي ؟
په برجونو ، ماڼۍ ګانو ، پخو پلنو دیوالو کې ؟
آدمزاتي جوړوي لوی لوی ښارونه
له ښارونه تاووي لوی دیوالونه
بیا دننه په کورو کې اقامت کړي
بیا یو بل سره په شخړو په جنګونو
په نېکمرغه ژوندون شپې سبا کوینه
له دې ژوند څخه مراد دانسان څه دی ؟
هغه دا دی:
له دې دښت څخه ډېر لرې او سېدل دي ،
له دې تورو غرونو سترګې پټول دي
د تیارې تروږمۍ سمڅې هیرول دي
انسانان یو ازې یو څه نه ډاریږي
چې کوم وخت چېرته بهر لاړ شي له ښاره
بیا ناوخته شي ستانه د ښار په لوري
توره شپه وي ، تروږمۍ وي
دروازې د ښار تړلې کلکې پورې
د ښار هیڅ یو اوسیدونکی جرآت نه کړي
چې د ښار له دروازونه دورې لاړ شي
خو ،چې کله شي ستومانه له جنګو ، له ستېزونه
نو دشپې سره راغونډ شي د کوچنۍ ډېوې رڼا ته
بیا له دې ناشنا دښتونونه کیسې کړي
وایي وایي
« یو لوی غار دی چېرته پټ پروت
توره خوله یې هیبتناکه ، ننوتې ځمکې تل ته
رسیدلی د دوزخ ناشنا درشل ته
نیمه شپه ترې ډاروونکې اروا ګانې راوزي ، ځي ،
غرو غونډو کې ننوځي
ژوندي کېږي لوی کنډونه ګړنګونه ،
تور دیوان ترې نه جوړیږي
د وچ رود کوږ ووږ بستر هم
راژوندی شي اژدها شي
بیا روان د دښت په لور شي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله هم نږدې ځي ، د ښار پورې دروازې ته
دا کيسې ټول ما شومان په دقت اوري
ځکه ځکه په معنی يې ښه پوهيږي
او لويان وربانديې خاندې مسخرې کړي
خو په زړه کې ښه ښېريږي پټ لړزيږي
مګر زه ومه له هغه بيابانه
راتېر شوی بې خبره له خطره
د سهار په پلوشو کې
چې ښه ځير شوم دې دنيا ته
نو يوبل راز حقيقت راته ښکاره شو
د ښار خلک يو پر بل دومره اخته دي
يو دبل په ښو او بدو دومره بوخت دي
چې بهر له ځايه نه ځي
هيڅ نظر په جهان نه کړي
خبر نه دي
چې د دوی ښايسته ښار خو
لوړ برجونه ، دېوالو سره ،
په دې دښت او بيابان کې ډېر کوچنی دی
ډېر ناڅيزه ،
يوه واحه ده په صحرا کې نامحدوده
جزيره ده په درياب کې نا پايابه
خبر نه دي
که توپان له ريګستانه راولاړ شي
که دا بحر ناڅاپي متلاطم شي
نو دستر ګو په يو رپ کې
ښار حصار به پاتې نه وي
هست او بود نيست او نابوده
زما ېېره وه له دې بې خبری نه
له دې هسې بې غمی نه
ډار ېدمه
چې يوه شپه د شپو به مړه وي چراغونه
انسانان به ډوب پراته په خوب بيده وي
د دې غار له ژورتل نه به راووځي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تور تمو اروا ګانې
په دښتو باندې لښکرې
او تر څو چې سبا کېږي
ښار به نه وي
ترې به پاتې کنډوالې وي ، ويرانې وي.

مګر شعور conscience د استاد مجروح په نزد د يو خوږ کوږووږ بستر ته ورته دی ، چې د لاشعور له سمڅې بهر پروت دی.

شعور د انساني روح دوينې ذهن هغه برخه ده ، چې له عقلي پلوه زموږ ورځنی ژوند تنظيموي. ډېر ځله شعور په عقلاني ځواک تکيه کوي. که مجرد عقل بيل وګڼو نو پوښتنه رامنځته کېږي ، چې آيا دا د انسان دهستۍ يوه خورا کوچنۍ برخه نه ده ؟

ځکه هر څه په وينې شعور کې نه شي محدوديدلای ، احساسات ، عواطف ، غريزې ، د ښکلاخوښونې ذوق ، تخييل او نور داسې ارزښتونه يا خو له شعوره بهر او يا يې هم يوه برخه په شعور پورې اړه لري ځکه خوويلای شو ، چې د انسان پر ځان مين شعور تيروزي که فکر وکړي ، چې هر څه (دی) دی او يا (دی) هر څه دی.

د استاد مجروح اصلي پيغام په ځانځاني ښامار کې همدا دی چې پر ځان مين شعور موږ ته دروغ وايي ځکه فکر کوي ،چې ټوله هستي ، هرڅه او ټول ځواک له ده سره دی. نوې اروا پوهنه د شعور له داسې ځانولۍ څخه رازيږيدلي مفاهيم ځانولي Selfishness او ځان مرکزيت Egocentrism بولي. دا د شعور احساساتي حکم نه دی، بلکې دا يې له هستۍ څخه پوهه ده ، شعور دا ګڼي ، چې پر هر څه حاوي دی يعنې له ټولې هستۍ څخه خبر دی ، حال دا ، چې هستي ډېره تر ده لويه ده آن چې په انسان کې د ننه پټه شوې دنيا تر دې ډېره لويه ، پيچلې ، ناپيژندل شوې او مبهمه ده چې زموږ وينې شعور دې پرې اګاه او سي.

موږ کله ،چې ويده يو او خوب وينو ،نو فکر نه کوو ، چې د خوب محتوا دې واقعي نه اوسي ځکه هغه مهال موږ دا هېره کړې ، چې ويده يو موږ په خوب کې د خپل خوب غير منطقي پيښې هم جدي او رينښتيانۍ ګڼو يوازې هغه مهال دهغو په غير واقعي توب پوهيږو ، چې راويښ شو ، ويښ شعور هم فکر کوي ، په هرڅه خبر دی ځکه خو ځان ټول څه ګڼي او پر ځان مين وي ، استاد مجروح وايي ، چې ( عقل ) د پر ځان مين شعور کلک ملګری هم بالاخره له هغه څخه بيليږي او يوازې يې پريږدي ځکه خو پر ځان مين شعور يوازې او لالهانده د حقيقت په لټه کې ورک ګرځي ، ددې لپاره د نابلد ملګري تر سرليک لاندې برخه کتلای شئ.

د ځانځاني ښامار پېښې د شعور او تحت الشعور د ساحو تر منځ په حقيقت پسې د ورک لاروی برخليک دی ، چې په نړيوالو ادبياتو کې بيلابيلې جلوې او تمثيلونه لري خوزموږ استاد مجروح دلومړي ځل لپاره په پښتو ادب کې د خپل دغه شهکار په مرسته پر دغو مفاهيمو پوهيدلو ته لاره هواره کړې ،چې خورا په زړه پورې ده.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم فصل

### په ځانځاني ښامار کې ځينې سمبولونه

تر هر څه وړاندې راځئ وګورو چې سمبول څه شی دی؟ د سمبول لغوي مانا ده نښه، ښکارندوی «مظهر»، نماد يا رمز او په مانا کې ديوې انتزاعي مفکورې عيني او محسوسه ښوونه ده. په بله ژبه سمبول د شيانو د مادي، هيئت او د هغو د فکري او انتزاعي ماهيت ترمنځ داسې استدراکي پول دی چې د يوې ذهني پروسې «بهير» په ترڅ کې رامنځ ته کيږي.

کارل ګوستاو يونګ سمبول داسې را پېژني:

هغه څه چې موږ سمبول بولو يوه اصطلاح يا نوم حتی يو تصوير، چې کيدای شي زموږ په ورځني ژوند کې د يوه مانوس شي ښکارندوی وي خو له خپلې معمولې او ښکاره مانا څخه پرته يوه تلويحي ځانګړې مانا هم ولري. سمبول د يو مبهم، ناپېژندل شوي يا له موږ څخه د کوم پټ څه نښه ده... نو يوه کلمه يا شکل هغه مهال سمبوليک ګڼلای شو چې له خپلې ښکاره او مخامخ مانا څخه پرته په بل څه هم دلالت وکړي. سمبول ناخودآګاهي اړخونه لري چې هيڅکله په دقيقه توګه تعريف شوي نه دي». (۱۴، ۲۲-۱۲)

د هغه اهميت له مخې چې سمبول يې په ادبياتو او هنر کې لري د سمبوليزم په نامه ځانګړی هنري – ادبي جريان يا مکتب رامنځ ته شوی چې د نړۍ د ادب په تاريخ کې د پام وړ ځای لري. استاد روهي د سمبوليزم لپاره دغه تعريف غوره کړی دی:

« سمبوليزم په سادګۍ سره دې ته ويل کيږي کله چې څوک د يوه ذهني حالت د څرګندولو لپاره يو تصور «ايماژ» ترلاسه کړي او هغه په داسې ډول افاده کړي، چې د ذهني حالت د څرګندولو پر ځای د هغه په باره کې ترلاسه شوی تصور مجسم کړي». (۲ ـ ۴۱۸)

د سمبوليزم د مکتب د را منځ ته کيدو کال ۱۸۸۶ ښوول شوی چې د سمبوليزم اعلاميه د فيګارو « Le Figaro» په ادبي ضميمه کې خپره شوه. د دغه مکتب مخکښان بودلر، مالارمه او ورلن ګڼل شوي دي.

خو په ادبياتو کې د سمبول کارونه د دغه مکتب په څېر نوې نه ده په ډېرو زړو ادبي آثارو کې سمبولونه کارول شوي، انسانان د سمبول له مفهوم او کارولو سره زرګونه کاله پخوا آشنا وو، مذهبي هنري او کاري سمبولونه يې کارول. په زاړه هند کې د «بيدپا» فيلسوف «کرينکا دمنکا» چې زموږ په فرهنګي حوزه کې د «کليله ودمنه» په نامه پېژندل کيږي د سمبوليزم غوره نمونه ده. په شرقي فرهنګ کې د سمبوليزم لپاره د «محاکات» اصطلاح کارول شوې ده.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ادبیاتو او هنر پرته په ارواپوهنه کې هم سمبولونه ځانګړی اهمیت لري دفروید او یونګ له نظره د انسانانو خوبونه او رویاګانې له سمبولونو څخه ډک دي. موږ چې څه په خوب کې وینو خامخا زموږ له ناخودآګاه سره اړیکي لري.

ناخودآګاه په خوب کې د سمبولونو په مرسته حضور مومي، د خوبونو تحلیل د سمبولونو په مرسته کیږي او ارواپوهان ددغو سمبولیکو تحلیلونو په مرسته د ناروغ اروایي ستونزې تشخیصوي او درملنه یې کوي. یونګ فکر کوي چې په خوب کې د ناخودآګاه سمبولیک حضور له ارواپوه سره مرسته کوي. چې د ناروغ ستونزه وپیژني نو دا ښکاري چې سمبول په ارواپوهنه – ادب او هنر کې مهم حضور لري.

ځانځاني ښامار چې هم ارواپوهنیز اهمیت لري او هم یو غوره ادبي اثر دی له نویو او قراردادي سمبولونو څخه ډک دی. موږ به دلته ددغه اثر یو شمېر سمبولونه معرفي کړو او د هغو رواني موقعیت ته به اشاره وکړو. خو د سمبولونو تر معرفي مخکې ښایي هېره نه کړو چې له یو سمبولیک مفهوم څخه تعبیر کیدای شي متفاوت وي او د شاعر او هنرمند له خوا کارول شوی سمبول به د هر لوستونکي لپاره بیل یا په یو څه توپیر مفهوم ولري، ځکه خو که دلته له ځینو سمبولونو څخه زموږ تفسیر او تعبیر د درنو لوستونکیو په اند سم نه وو دلیل به یې د تعبیرونو همدا تفاوت وي، همدا راز دا یادونه هم اړینه ده چې موږ دلته یوازې څو ټاکلي سمبولونه معرفي کوو، ځکه دا اثر د ټولو سمبولونو پېژندل به زموږ د لیکنې له حوصلې بهر وي.

ښار:

ښار د یو شمېر داسې خلکو د اوسیدو ځای دی چې د یوه اقتصادي – سیاسي لامل لپاره سره ګډ ژوند ته اړ کیږي، پخوانیو خلکو هغه مهال ښارونه رامنځ ته کړل چې کرنیز تولیدات به یې بازارونو ته راوړل، د لومړنیو اقتصادي او ولسي چارو د سمون لپاره دغو بازارونو یو سیستم وموند، همدا سیستم په حکومت بدل شو، ښارونه له حکومتونو سره همزولي دي، ځکه خو ښار د طبقاتو، بیلا بیلو قومونو او ټولنیزو متفاوتو ځانګړنو لرونکو خلکو استوګنځای دی. معمولاً د ښار خلک د یوه خاص قوم یا کورنۍ خلک نه وي، له فلسفي پلوه ښارونه «له بل [فرد] سره» د ارتباط چاپیریال دی. قانونمندي او اقتصادي فعالیت د ښارونو خاصه ده، په پخواني یونان کې ښار دولتونه بیل وو، یعنې هر ښار خپل حکومت درلوده، آتن او سپارتا یې لوی ښارونه وو د همدې لپاره په پخواني یونان کې ښار د اجتماعي ژوند خپل ځانګړی مفهوم درلوده «ښاري» د تبعه په مانا هغه مهال د یو شمېر ځانګړو حقونو او مسئولیتونو خاوند و، دغو حقونو او مسئولیتونو پر ښاریانو د اجتماعي ژوند یو شمېر محدودیتونه تحمیلول نو په دې پار د ښار ژوند د مقید ژوند نښه ده، په ځانځاني ښامار کې استاد مجروح د ښار لپاره لیکلي: «ښار یعنې ګډ اجتماعي ژوند» په ښامار کې ښار د وجود د شعوري برخې سمبول هم دی، د انسان د وجود نښه ده، ځکه ښامار پر ښار واکمني کوي، استاد مجروح لیکي:

یوه ورځ د ورځ ماښام خړه تیاره وه
زه را ووتم د ښار له شور ما شوره
دروازې د ښار شوې پورې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم روان د دښت په لوري
حال ویجاړی
لټولې مې د ورک سمندر غاړې (۱۰ ـ ۱۳)

ښار د بوخت ژوند ، اړیکو او له نورو سره د همېشني تماس سمبول دی د استاد مجروح فرضیه داده چې انسان هغه وخت ځانته متوجه کیږي چې د ښار له شور ماشوره را ووزي او په چوپتیا او یوازیتوب کې د خپلو سوچونو په مرسته خپل لاشعور وپلټي هله به پوه شي چې پر نفس یې څومره لوی ښامار حاکم دی.

په زړو افسانو کې ډېر ځله داسې حالت وینو چې یو کرکټر د لویې پریکړې یا اوږده سفر لپاره له ښار څخه بهر را ووزي او د یو مستقل شخصیت په توګه خپله اراده تمثیلوي. بودا له ښاره ووت، دربار یې پرېښود او ځنګله ته ولاړ، هلته یې د ژوند حقیقت بیاموند.

## بیابان:

بیابان د ښار پر عکس د یوازیتوب، خپلواکۍ او له ځان سره د اوسیدو سمبول دی. پخوا به چې خلک له یوه ښاره بل ته تلل نو له بیابانونو به اوښتل، په بیابان کې سفرونو انسانانو ته د فکر کولو موقع برابروله، بیابان د اشراق او شهود لپاره ښه ځای دی، په بیابان کې یوازې انسان ځانته متوجه کیږي او له «بل» سره یې اړیکه پرې کیږي. په بیابان کې انسان ویریږي او خپلې کمزورۍ ته یې پام اوړي. په بیابان کې انسان فکر کوي چې یوازې هست شوی، یوازې ژوند کوي او یوازې مري، د فردیت یا (Individualism) احساس په بیابان کې پر انساني اروا حاکمیت کوي. مجنون هغه وخت مشهور شو چې له ښار څخه بیابان ته ولاړ، د هغه په اړه یوه افسانه داسې ده، چې مجنون ادعا کوله، چې په بیابان کې مې هغه وخت لیلا وپېژنده چې په ځان کې مې د هغې روح ولیده. مانا دا چې مجنون هم په بیابان کې ځان ته متوجه شو او بیا یې لیلا په رښتینې مانا ولیده، د استاد مجروح لاروی هر کله چې غواړي د وجود پر حقایقو پوهیږي یا تحت الشعور ته لاره پیدا کړي نو له ښاره ووزی او د بیابان په لاره مزل پیل کوي، بیابان دلته زموږ د لاقیدي، خپلواکي او د ځان پر لور د سفر د لارې سمبول دی:

بیابان و ، تروږمۍ وه، توره شپه وه
خو له ما سره د ننه یوه ډېوه وه بلیدله...
... په دې شانې په هغې تورتم صحرا کې
پټه پټه غلې غلې
یوه رڼا شان دنیاګۍ مې وه ملګري
د خپل خیال په لومه ګیروم
په خپل ځان باندې کړۍ وړۍ چاپېروم
هی مزلې مې کولې

## د ورک سمندر غاړې:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمندر ډېر ځله د خوځندوالي يا تحرک، ژوند، لويوالي او پاکۍ سمبول دی، په لويديزو ادبياتو کې د حيرانتيا، ژور تفکر او فلسفي بحثونو لپاره هم کارول شوی دی خو هغه مفهوم چې د اروابناد استاد مجروح په ځانځاني ښامار کې «د ورک سمندر غاړې» ترکيب لري هم نوی دی او هم څېړنه غواړي چې ولې استاد مجروح دغه ترکيب دومره مهم کړی چې قهرمان لاروی يې په ټول اثر کې ورپسې ګرځي. د ځانځاني ښامار لاروی د ورک سمندر په غاړو پسې بيابانونه او ښارونه تر پښو لاندې کوي، په فارسي اژدهای خودي کې پخپله ليکوال د ورک سمندر غاړې داسې شرح کوي: «سواحل گمشده، ايام طفوليت عشق های جوانی». (۱۱ـ۴۱)

آيا دا سمه ده چې انسان دې په ماشومتوب او د ځوانۍ په عشقونو پسې دومره سرګردانه وي؟ زه فکر کوم د ورک سمندر غاړې تردې پرته نور مفاهيم هم لري.

دغه عبارت د هستۍ د اصلي ماهيت ورکه ده، ښايي د دې پوښتنې ځواب دی، چې موږ څوک يو، ولې راغلي يو او چېرته ځو ددغو پوښتنو له ځواب موندلو څخه لاروی ناهيلی دی ځکه خو د ورک سمندر غاړې همداسې ورکې پاتېږي او هېڅکله نه لاروی، نه شاليلا او نه ښامار وررسيدلای شي. لاروی يې له هر چا پوښتنه کوي خو بيا يې نه مومي، په مجموع کې دا د بشر ورکه ده او داسې ورکه چې موندل يې ناشوني دي وګورئ:

د تورتم او د رڼا دې تلو راتلو
ځغليدو را ځغليدلو
لاروی لږ خبرولو
چې شپې ورځې دې رواني د رومي د رومي
خو خبر له دې نه، نه و
چې له کوم ځايه راځي دوی
په دې هسې بيړه بيړه
چېرته ځي د څه دپاره؟
بيا به کله
يو احساس شبيه اميد نژدې اميد ته ور پيدا شو
نو خپل ځان ته به يې ووې
زه ګومان کړم چې آخر به
په دې سيمه څوک را پېښ شي
په دې خوا به ګوزر وکړي
له ملکونو دورې دورې دلته راشي مسافر کوم
د هغه دورې پراته هېواد کيسې به راته وکړي
ښايي ښايي چې د ورک سمندر
غاړو نه خبروي (۱۰ـ۱۱۴)

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لاروی:

د نیمو شپو لاروی د داستان اصلي قهرمان دی، دا په حقیقت کې یو شخص نه دی، دا د حقیقت لټونې تلوسه ده چې د انسان په رواني رمزو رازونو کې سرګردانه ګرځي لاروی کله متکلم دی، کله مخاطب، کله راوي او کله پخپله شاعر، د راوي لید لوری څو ځله بدلیږي او لاروی لا هم په حقیقت پسې ستړی دی. لاروی یو پاک کرکټر دی، شالیلا یو ازې دی پېژني او ښامار ورڅخه کرکه کوي، په زندان کې پراته رندان یې هر کلی کوي او ماشومان او غرڅنۍ ورسره مینه لري. لاروی د حقیقت نښه ده او غواړي د وجود بې خبره او سیدونکي د وجود له رازه خبر کړي. زما په ځانګړې تعبیر مونږ کله کله په یو ازیتوب کې پخپل ځان کې دننه له کوم چا سره خبرې کوو، رومانتیکه ژبه یې زړه بولي، اروا پوهان ورته بې طرفه ضمیر وایي هغه څوک چې مونږ ورسره خبرې کوو زمونږ په خپګان یا خوشالۍ پسې نه ګرځي او ډېر ځله هغه څه وایي چې توقع یې نه لرو، زمونږ په وجود کې همدغه څوک د حقیقت لاروی دی.

## ښامار:

ښامار افسانوي ځناور دی، د غټ مار مانا هم لري خو په دې تفاوت چې ځانګونه او پښې لري او له خولې څخه یې اور باديږي، ښامار د ظلم، زور، وحشت او حیوانیت سمبول دی، که څه هم په ځینو چینې روایاتو او افسانو کې د مثبت حیوان رول لري، بلکې په چین کې یو منل شوی ځواکمن سمبول هم دی خو له لرغوني زماني څخه ښامار په بېلا بېلو افسانو کې د وحشت د سمبول په توګه حضور لري. صوفیانو له ښامار، له غرونو، دښتو او ځنګلونو څخه را ایستلی دی او د انسان په روح کې یې ځای کړی، له پخوا څخه د انسان نفس له ښامار سره تشبیه شوی دی: مولانا جلال الدین محمد بلخي لیکلي:

ما در بت ها بت نفس شماست
زانکه آن بت مار و این بت اژدهاست
هفت دریار را درآشامد هنوز
کم نگردد شورش آن خلق سوز
دوزخ است این نفس و دوزخ اژدهاست
کو به دریاها نگرد کم و کاست «مثنوی»

ملا ارزاني خویشکی وایي:

دا نوسک یو لوی اژدار دی
په اووه سوو زر سره
هر سر یې پاس تر عرشه
کښته تېر تر تحت الثره

رحمان بابا ددې لپاره چې د جاهل همدمي ډېره وحشتناکه وښیي وایي:

د جاهل تر همدمیه به بهتر وي
که له چا سره همدم وي اژدها

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځانځاني ښامار کې «ښامار» عيني موجوديت نه لري دا کاملاً سمبوليک حضور دی ځکه چې د ښامار لپاره ځينې نور نومونه هم کارول شوی، لکه پهلوان، سترښلواک، قهرمان، زمامدار، واکدار، بادار، سردار، فرماندار، فرمانروا او نور. د استاد مجروح په کتاب کې ښامار پرته له يوه ځای څخه تر ډېره د يوه جابر انسان ځانګړنې لری، په مانۍ کې اوسيږي، کله کله پر آس سپور شي. د جګړې وسايل کاروي او انسانان خپل حضور ته مني. دا د سمبوليکو آثارو ځانګړنه ده چې يو کرکټر دې په څو ډوله هيئتونو کې را څرګند شي. د ګويته په «فاوست» کې مفستيو په څو ډوله څېرو کې ظاهريږي. او د فاوست معشوقه د لرغوني اسطوره يې څېرې يوناني «هلن» په څېره کې بيا را ژوندۍ کيږي.

د ځانځاني ښامار د فزيکي موجوديت تصوير په هغه برخه کې تمثيل شوی چې کله زيږي او رالوييږي وګورئ:

... بيا به ورو ورو په چيمجيانو کې يو غټ شو
نور چيمجيان به يې خوړل ډېر
بيا به نور هم غټيده قوی کېدلو
دا چيمجی به لوی ماهي شو، مار ماهي شو
جسامت به يې غرونه غرونه د نهنګ شو
هی چيمجيان به يې خوړل ټول
د تور ډنډ اوبه به يې څښلې
ولږه تنده به يې نوره زياتيدله
بيا پيدا به يې پښې کړې
هم تېرې تېرې منګولې، هم وزرې هم ښاګونه
هم اوربوز هم اوږدې داړې تېز غاښونه
دواړه سترګې به يې د وينوکټوري شول
له سپږمونه به يې د اور لمبې ختلې...

دا برخه د ښامار له هغه تصور سره مطابقت لري چې موږ يې په اساطيرو کې لرو، د اساطيرو او افسانو له لارې موږ د ديو، ښاپيرۍ، هما، عنقا، سيمرغ او نورو افسانوي موجوداتو بېلابېل تصويرونه لرو دا ذهني تصويرونه د ښامار په اړه هم شته خو په لږ او ډېر توپير د يوه غټ مار په توګه دی چې لاس او پښې لري او له خولې څخه يې اور راوزي.

خو نفس ولې ښامار ګڼل شوی، ښايي پخوانيو صوفيانو به له نفس سره په مخالفت کې غوښتل دغه حيواني ځانګړنه خورا وحشتناکه وښيي او د انسان له رحماني خصوصياتو دې يې بېل کړي.

نفس ته شيطان، ابليس، ديو، دښمن، دوزخ، نوسک او نور سمبوليک اصطلاحات هم کارول شوي دي. په يو شمېر افسانو کې ښامار عادت لري چې ښکلې نجونې او ناوه ګۍ وخوري. د مومن خان و شيرينو په کيسه کې په هندوستان کې دا سې ښامار اوسيږي چې هره ورځ د يوه اوښ بار خوراک ترخنګ يوه يوه پېغله هم غواړي او ښاريان مجبور دي چې ورته برابر يې کړي، له ښځمنو سره د ښامار علاقمندي ددغه موجود هغه سمبوليک اړخ څرګندوي چې په انسان کې له جنسي غريزې سره اړه لري، د صوفيانو له نظره

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفس د غریزي خواهشاتو مجموعه ده او جنسي غریزه یې په سر کې راځي، ښامار د جنسي غوښتنې لپاره سمبول دی او هره ورځ د خړوبیدو لپاره یوه نوې ځېره غواړي.

« د فروئیدیزم له نظره ښامار هغه خیالی ستونزه ده چې نو بالغه کسان له جنسي ژونده ویروي او د هغوی لېبیدو سختې مقابلې ته اړ باسي. (۱۸ـ ۲۸)

نو د اروا پوهنې له نظره هم داسې ښکاري چې پخوانیو صوفیانو او معاصر استاد مجروح ښامار هسې بیځایه د نفس لپاره سمبول نه دی ټاکلی.

**سمڅه:**

مغاره یا لوی غار په ځانځاني ښامار کې د لاروي د سفر یو مهم منزل دی، استاد مجروح د کتاب په لمن کې ورته لیکلي: «یعنې لاشعور» نو له همدې پیله پوهیږو چې سمڅه یا مغاره د تحت الشعوري دنیا لپاره یو سمبول دی خو ولې، سمڅه د خلوت لپاره، او د تفکر، شهود، الهام حتی وحي راتلو لپاره مناسب ځای ګڼل شوی دی. پیامبرانو او د خدای (ج) ولیانو به ورځې شپې په سمڅو کې تېرولې او د عروج پړاوونه به یې وهل، اصحاب کهف یا د سمڅې یارانو یوزاې د ظالمو حاکمانو لاسه نه، بلکې د لوی خدای د پېژندلو لپاره سمڅې ته پناه وړې وه، په زړو اساطیرو کې د مړیو، یا ارواحو دنیا ته د تلو لپاره افسانوي لارویانو د اوږدو تیارو سمڅو لار وهله، د اپلاتون مثل نظریه د غار د نظریې په نامه هم یادیږي ځکه په غار کې تړلي وګړي د هستۍ او نړۍ په اړه ژور فکر کوي. مغارې له بهرنۍ نړۍ سره د اړیکو د پریکولو مکانونه دي، هر څوک چې غواړي په خپل ځان کې ننوځي، سمڅې ته به ننوځي. د اروا پوهنې په نظر تحت الشعور په ذهن کې د هغې تورې مغارې په څېر دی چې پای یې نه دی معلوم او خدای خبر تر کوم ځایه به رسیږي دا ټولې قرینې ښیي چې هم په لرغونیو افسانو کې، هم په عرفاني متونو کې او هم د اروا پوهنې په نظریو کې سمڅې او مغارې د تحت الشعور لپاره سمبول ټاکل شوي دي، د همدې لپاره د ځانځاني ښامار لاروی هر ځل چې غواړي په ورکو حقایقو پسې لټون پیل کړي د یوې تورې سمڅې تر خولې ځان رسوي.

**غرڅنی:**

په ځانځاني ښامار کې غرڅنی د آزادۍ او محبت نښه ده، استاد مجروح په حاشیه کې لیکي:

«غرڅنی: آزاده او بې ګناه مینه او محبت، د استبداد لوی دښمن آزادي بې ګناهي او مینه ده» (۱۰ـ ۴۳)

غرڅنی داسې یو ژوی دی چې په دښتو، غرونو او ځنګلونو کې ژوند کوي ددې ترڅنګ چې ښکلې ده، معصومه او بې ګناه هم ده، ډېر ځله یوازې د ځان په ساتلو فکر کوي او دا یې په فطرت کې نه شته چې چا یا څه ته زیان ورسوي. په ادبیاتو کې د ښکلا، بې ګناهي او معصومیت په خاطر ستایل شوې ده. له خپلې آزادۍ سره مینه لري ځکه خو د آزادۍ دښمنان ورته دامونه ږدي، پخوانیو پاچایانو به د هوسیو او غرڅنیو ښکار کاوه. اروا پوهان فکر کوي چې پخوانیو پاچایانو غرڅنۍ او هوسۍ یوازې د هغوی د خوړېې غوښې لپاره نه ښکار کولې بلکې دا د قهارو او ځواکمنو انسانانو په نهاد کې د هغې وحشي ځانګړنې تلوسه وه چې د زور، قهاریت او وینې بهونې لپاره یې لري. د یوه آزاد، بې غرضه او ښکلي موجود وژل

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي همدغه رواني تنده خړوبوي. د ځانځاني ښامار قهرمان «خود پرسته شعور» چې ښار ته ننوزي نو لومړنی کار يې د غرځنۍ وژل دي، ښامار غواړي په دې حرکت خو څېزونه وښيي:

۱.دی بشپړ واکمن دی او څه چې غواړي هغه کولای شي.

۲.آزادي، ښکلا ، معصوميت او مينه يې نه خوښيږي.

۳.خلک بايد د هغه حکم ومني او که نه دی به يې په يوه غشي ووژني.

۴.د غرځنۍ په غوښه ځان مړوي.

دا په روان کې دننه د خود پرسته شعور حاکميت او قهار فطرت ته اشاره ده چې د احساساتو ، عواطفو او غريزو مخه نيسي او د آزادي، مينې او ښکلا هر تمايل وژني:

پهلوان په لور د خلکو ،
اشاره د نيزې وکړه په درې وارې
بيا يې ووې
هغه څوک چې مې فرمان وړي په سر سترګو
هغه ټول به په امان وي
زه د دوی د سرو سيوری
زه د دوی د ژوند ساتونکی
په دې وخت کې نژدې هلته
غرځنۍ وه ګرځېدله مسته مسته
ساده زړې، بې خبره، وه معصومه پاکه پاکه
قهرمان ژر په لينده کې غشی کېښود
په يو کش غشی روان شو
غرځنۍ زړګی شو څيرې
شوه خپره وره په خاورو
نو يې مخ کړلو د ښځو په طرف بيا ،
داسې ووې !
نن مې اوږد مزل کړی په دښتو کې
لږ ستومانه شانتې ښکارم
هم مې زړه کيږي خوراک ته،
ورځئ لاړې شئ پالنګ راته تيار کړئ !
او هم دغه غرځنۍ را وريته کړئ !
يو ځل لوی عظيم سکوت په هر خوا پلن شو
غرځنۍ لاړې په تېښته،
لو يو غرو ليرې دښتو ته
هم له دغه زمانې نه را په دېخوا ،

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا تر اوسه
غرځنی ببرته ستنې نه شوې ښارو ته،
ترېدلې رمېدلې له انسانه

### شالیلی:

په بیدیا کې، د هغې لارې په غاړه
هلته ناسته وه په خاورو
یوه پېغله نازنینه
زوړ کمیس یې اغوستلی شین بخن و
اوږدې زلفې پریشانې
نرمې نرمې د صحرا باد ښورولې
د غروب په سره رڼا کې یې د سرو زرو شغلې شغلې کولې
یو منګی ډک د اوبو یې خوا ته پروت و

دا شالیلا څوک ده، هغه له خپل شین کمیس، ځېرې ګریوان او له اوبو ډک منګي، موسکا پر شونډو او بې پروا حسن سره څو ځلې را ځرګندېږي او لوی رول لوبوي، دهغې په ځېره او نقش کې هم لږ و ډېر بدلون راځي خو زما په نظر یې رواني کرکټر هماغه یو دی. استاد مجروح په اژدهای خودي کې د دغه کرکټر په اړه لیکي: «الهه سبز پوش: غریزه جنسي آمیخته با محبت عشق و زیبایی». (۵۱.۱۱)

شالیلا د جنسي غریزې، مینې او ښکلا سمبول ده او په کیسه کې مثبت نقش لري. شرقي عارفان فکر کوي چې له غریزې تمایل پرته هم مینه یو کامل مفهوم لري، دوی هغې مینې ته چې د جنسي غریزې پر بنسټ بنا وي مجازي او که د یو عرفاني مقصد لپاره وي حقیقي عشق وايي.

د فروید اروا پوهنه چې وروسته د هغه د پلویانو او شاګردانو له خوا وپالل شوه فکر کوي چې عشق یوازې جنسي او غریزي بنسټ لري او د عشق لپاره کوم معنوي اصل نه شته. ځینو د نوې اروا پوهنې پر بنسټ د مجنون په مینه ملنډې وهلي او هغه یې اروايي ناروغي بللې، ددوی په فکر که مجنون نه شوای کړای لیلا تر لاسه کړي بله نجلۍ به یې موندلې وه، نه دا چې په هغې پسې یې ځان واژه.

د استاد مجروح شین کمیسې لیلا ددې دواړو مزج او ګډو له ده. دا د عشق او مینې سمبول ده خو د مینې لامل یې غریزي او جنسي میلان دی. که دا سې نه وای ولې شاعر دهغې ښکلا تمثیلوي او ولې یې د نارینه اتل په وړاندې یوه ښکلې پېغله ټاکلې ده؟که څه هم چې شالیلا د پاکۍ، سپېڅلتوب او ساده والي نښه ده، رڼې اوبه «د ژوند، روڼوالي او ښیرازۍ سمبول» ویشي او تږي مسا پران خړوبوي. شالیلا له لاروي سره مینه لري او کلونه کلونه یې په انتظار ناسته وي.

شالیلا له لاروی سره یوځای د ښامار دربار ته ځي او د حقیقت له ویلو څخه باک نه لري. شالیلا ښکلې هم ده او د شرقي صوفیانو د عشق د سمبول په څېر د معنوي ارزښتونو یوه نښه هم ده.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شالیلا د عرفاني معشوق په څېر لاروی «سالک» د حقیقت لوړو مدارجو ته رسوي خو د نوې اروا پوهنې له نظره د هغه غریزي تمایل ښکارندوی هم ده چې پرڅان مین شعور یې د مقابلې وس نه لري او په لاشعور کې پټو غریزو او غوښتنو ته د وررسیدو لپاره د لاروي لارښوونه کوي. سړی ویلی شي چې شالیلا د هغې معنوي مینې سمبول دی چې د جنسي غریزې پر بنسټ رامنځ ته کیږي او ورو ورو په انساني روح کې ریښې غځوي، یو مهال دومره پیاوړې شي چې د صوفیانو د معنوي معشوق ځای ونیسي. له شالیلا سره مینه د انسان قدیمه تلوسه ده، د نړۍ لویې کیسې، شعرونه، هنري آثار حتی روحي پېښې خامخا په داسې یوې مینې پورې تړلې وي، آدم (ع) د حوا لپاره ځمکې ته راغی او د هابیل او قابیل ترمنځ د مینې په خاطر لومړنۍ وینه وبهیده. له ادمه تردې دمه شالیلا زموږ د رواني تندې لویه برخه ده، استاد مجروح وایي:

تابه وې چې:
له کوم وخته چې عالم را پیدا شوی
دغه پېغله نازنینه هلته ناسته
د خپل ورک مسا پره لاره یې څارله
د خپل ژوند او د هستۍ له ژور تل نه
تمه تمه منتظره وه دیدار ته
ددې هسې سرګردانه مسا پر خپل

لاروی د شالیلا په عشق کې دومره ژور شي چې بلاخره فکر کوي د هغه ورکه «یعنې د ژوند ریښتنې مانا – د ورک سمندر غاړې» دهغې په سترګو کې دي:

لاروي نه څاپه ولید
چې د ورک سمندر غاړې
دهغو آبي چشمانو په دریاب کې
نژدې هلته ښکاریدلې

عشق هغه پیچلې معما ده چې له بشر سره یوځای زیږیدلې او تر څو بشر وي ورسره به وي، خو دا معما هېڅکله نه ده حل شوې، چا د دنیا د ټولو ښځو بدن ته سفر کړلی او چا د نر او ښځې ترمنځ له مجازي مینې څخه ډېر لوړ او الهی سوغات بللی.

استاد مجروح وایي چې عشق غریزي سرچینه لري خو معنوي مدارجو ته د وررسیدلو هغه ځواک دی چې که له لاروي سره مل نه وي هېڅ ځای ته به ونه رسیږي. په ښامار کې شالیلا همداسې یو سمبول دی.

په ځانځاني ښامار کې یو بل سمبول «ټولواکمنه د مارانو» دعشق او سرسبزۍ د نښې په توګه شالیلا ته ورته هغه سمبول دی چې په ځانځاني ښامار کې د یوه روحي بحران « سیلاب او باران» پرمهال له روح څخه وځي. دا په سیند کې پر یوې ګرګې پروت هغه کړۍ کړۍ شین مار دی چې په سر یې یو سور ستوری ځلیږي دا پېښه سړي ته د هندي ارباب الانواعو ببلا بېل ظهور او غیبتونه تداعي کوي چې کله د یوې ښځې، نر یا کوم ژوي په توګه را څرګندیږي. البته زه نه پوهیږم، چې د ژوند په یوه ځانګړي پړاو کې د روحي بحران له امله هماغه د عشق او محبت الهه « شین کمیسې شالیلا» څنګه د یو کوړۍ کوړۍ مار په

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسم کې حلول کوي ما د هند په ځينو زړو روايتونو کې دې ته ورته پېښې لوستلي يا اوريدلي دي. خو دلته يې پر اساطيري او سمبوليک شاليد يا سابقه څه نه شم ويلای.

## د اژدها ستاينځای:

هر هغه څه چې د انسان ايډيولوګ شي په روان کې ځانته ځای مومي. ايډيولوګونه يا په ميراث پاتې کيږي، يعنې کسبي وي يا د يوې عقلي او فکري پروسې په پايله کې ترلاسه کېږي. د ميراثي اعتقاد د تثبيت لپاره اول باور کېږي او بيا د باور لپاره دلايل په لوی لاس رامنځ ته کېږي، حال دا چې عقلی باورونه د دلايلو پر بنسټ وروسته د عقلی ځواک له حکم څخه رامنځ ته کېږي. باورونه او اعتقادات هم په شعور او هم په تحت الشعور کې ژورې ريښې لري.

کله کله ځان «خود» يا «زه» د همدغو اعتقادونو مرکز ګرځي او ځان ستاينه پر ځان لمانځنه بدليږي. د ځان لمانځنه «پرستش خود» د نرسيسيزم وروستی حد دی، په روح کې د همدغه حالت لپاره «د اژدها ستاينځای» نښه ده.

په ځانځاني ښامار کې اژدها حکم کوي، چې په ښار کې د هغه لپاره معبد جوړ کړي:

ستر ټولواکه پهلوان بيا
خپلې هسکې مانۍ خواته
آبادي يې بله وکړه باشکوه
نوم يې شو د عبادت ځای
دا معبد و، ستاينځای و، د ښامار مار
د ټولواک مجسمه وه
له ډبرې جوړه شوې
نيم وجود يې د انسان نيم اژدها و،

پر ځان مين شعور دغه معبد د ځانلمانځنې لپاره جوړوي، عجيبه ده، استاد مجروح ليکلي دي چې د ښامار مجسمه داسې جوړه شوې وه چې نيم وجود يې د انسان او نيم نور د اژدها و، ددغې هيولا انساني بدن په شعور کې واقع دی او هغه نيمه برخه يې چې د ښامار بڼه لري په تحت الشعور کې ده تحت الشعور د ځانستاينې اصليت ښيي او د ښامار اصلي څېره انځوروي.

په عامه وينا کې خلک وايي: فلانی له دې يا هغې مسئلې، فکر يا شخص څخه بت جوړ کړی او لمانځي يې، په لرغونو زمانو کې انسانانو چې د هر څه فنا ليدله نو تمثالونه جوړول يې پيل کړل دغو تمثالونو د داسې څېزونو استازيتوب کاوه چې خلکو ته په ايډيولوګونو بدل شوي وو، د بتانو جوړولو او بت پرستۍ له همدې ځايه وده وکړه، په تاريخ کې وينو چې قهارو، جابرو او پر ځان مينو واکمنانو خپل تمثالونه جوړول او خلک يې د هغو ستاينو ته رابلل، دا د ځانلمانځنې اجتماعي بڼه ده.

راهب د هغو دلايلو نښه او سمبول ده چې نور حواس، غرايز، افکار او روحي تمايلات ځانځانۍ ستاينې ته رابولی او ددغې ناسمې ګروهې لپاره عقلی دلايل جوړوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوزخیان:

زموږ شاعر د دوزخیانو لپاره په حاشیه کې لیکلي: «د ژوند قدرتونه، طبیعي غریزې، عواطف او هیجانونه» خو تردې مخکې چې پر دغو مفاهیمو غور وکړو، ښایي په یاد ولرو چې په ځانځاني ښامار کې یو ډېر په زړه پورې تمثیل چې د ځپل شویو عواطفو لپاره او په تحت الشعور کې د هغو د زنداني کیدو د تصویرولو په نمت راغلی ددغو دوزخیانو انځور دی.

دوزخیان د ښامار د ماڼۍ تر ځمکې لاندې زندانونو کې په زنځیر او زولنو تړل شوي دي او کله چې په شور راشي نو ټوله ځمکه خوځوي آن تردې چې ښامار هم په خپله ماڼۍ کې د هغو زوږ احساسوي.

ځانځاني ښامار په وجود کې له موجودو ځواکونو او احساساتو څخه یوازې عقل او فکر استخداموي او له ځان سره یې ملګري کوي، نور عواطف، هیجانونه، احساسات، غرایز، غوښتنې، ښکلا خوښوونه، هنري تمایلات عشق او محبت ټول ځپي او د تحت الشعور کندو ته یې استوي که څه هم دغه ځواکونه په اسانۍ نه ځپل کېږي، ځکه د تحت الشعور لویه برخه له هغو څخه ډکه وي او د «ایګو» د غوښتنې پر خلاف د انسان په شخصیت جوړونه کې کاري ونډه لري خو اروا پوهان فکر کوي چې ددغو عاطفي ځواکونو ځپل په روح کې د خطرناکو ګرومونو «عقدو» د رامنځ ته کیدو لامل هم ګرځیدلای شي.

استاد مجروح دې پېښې ته داسې اشاره کوي:

قدرتونه د تعمیر د ابادۍ اوس<br>
قدرتونه د تخریب د خرابۍ دي<br>
ځکه ډېر کلونه کیږي<br>
دوی پراته دي، په تورتم بندیخانو کې<br>
پر زنځیر باندې تړلي<br>
پیدا کړي دوی بل شان نوې څېرې دي<br>
اروا ګانې د دوزخ ترې جوړې شوې<br>
کوم قدرت چې نوم یې «مینه محبت» و<br>
اوس یې نوم د «تنفر» دی غوره کړی<br>
پرونی قدرت د «عشق د جذباتو»<br>
نن هغه ځانته «روحي اضطراب» وایي

خو استاد ولې پر دغو ځواکونو د «دوزخیانو» نوم ایښی؟ پر ځان مین شعور ددې لپاره چې عواطف وځپي او له خپلې مخې څخه یې لرې کړي نو د عقل او فکر په مرسته دا باور رامنځ ته کوي چې غرایز د ګناه سرچینې دي، ځکه خو د دوزخیانو نوم ورباندې ږدي، د منځنیو پیړیو په یو شمېر مذهبي متونو کې موږ وینو چې جنسي غریزه له دوزخ سره تشبیه شوې بلکې جنسي روابط د دوزخ د دروازې ننبې ګڼل شوي دي. داسې انځور شوې تابلوګانې لیدل شوي چې ښځینه جنسي غړی له سرو لمبو څخه ډک د مرګ د تنور په بڼه راښیي. دا بیله څېړنه غواړي چې ولې د منځنیو پیړیو په اروپا کې مذهبي باورونه دومره ډېر د جنسي تمایلاتو پر ضد وو.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرښته د ترور‌میو:

په ځانځاني ښامار کې يوه زړه بوږنوونکې ده چې د ترور‌میو پرښته هم ګډ شوې، دا د مرګ نښه او سمبول ده، د فنا، ورکېدو او له منځه تللو استازې ده. خو دا عجيبه مرګ دی، زړه بوږنونکی ناڅاپه وارنه کوي بلکې په پسته ژبه له خپل قرباني سره خبرې کوي او مرګ ته يې وربولي، دا هم نه دد‌ې لپاره چې پر هغه د مرګ سختی اسانه کړي بلکې دا پخپله يوه شکنجه ده او غواړي د ځانځاني ښامار قهرمان «ښامار» په دې وپوهوي چې له ټول زور او ځواک سره سره بالاخره په فنا محکوم ده او مرګ بايد د يوه واقعيت په توګه ومني.

استاد مجروح دغه زړه بوږنوونکې داسې انځوروي:

هم په دې ورځ، چې ماښام شو توره خړه
را پيدا شوه له کوم ځايه
را روانه، پټه پټه، غلې غلې
يوه ناشنا زړه بوږنوونکې وه
د ښار لويې دروازې ته ودرېدله
څېره بده، هم مرموزه
هېولا وه بدمنظرې
تورکميس توريې پرتوګ توريې زړوکی د لوګي وو

بوږنوونکې هېڅ څوک نه شي ايسارولای، ټولې دروازې پخپله ورته پرانيستل کېږي او مخامخ ځان خپل قرباني ته وررسوي. دغه مرموزه بوږنوونکې د هېڅ چا نه خوښېږي خو هر چا ته ځان رسوي، هغه ډېره ځواکمنه ده، ښامار، واکمن او اتل يوازې همدې ته د زاريو ګونډه وهي خو دا هر څه بې فايدې دي، ځکه انسان په مرګ محکوم دی.

«کل نفس ذايقة الموت» سورة ال عمران

په پخوانيو افسانو کې زړه بوږنوونکې، کوډګره بوږنوونکې او تورکميسې بوږنوونکې د مرګ او جاسوسۍ نښه وه.

په پښتو فولکلوريکه حماسه «موسی خان او ګلمکۍ» کې يوه مکاره بوږنوونکې دوه ځلې را څرګندېږي يو ځل پاچا ته د ګلمکۍ پټ ځای وربښيي او بل ځل په خپلو نوکانو کې زهر پټوي چې د ګلمکۍ په لاس پاخه شوي خواږه پرې ولړي او موسی خان او وليخان دواړه پرې مړه کړي.

د دغې حماسې بوږنوونکې چې مرګ او تباهي پخپلو نوکانو کې ليږدوي کټ مټ د ځانځاني ښامار د ترور‌میو هغې ښاپيرۍ ته ورته ده چې د مرګ استازې ګڼل شوې ده. په ګڼو اروپايي افسانو کې پر جارو سپره کوډګره بوږنوونکې د قهرمانانو د مرګ چلونه سنجوي او د مرګ زيری راوړي.

د ځانځاني ښامار دغه بوږنوونکې په انساني شعور کې هغه تريخ باور دی چې موږ يې د خپل مرګ په اړه لرو. ټول پوهيږو چې مرو، ټول د خپلې فنا شاهدان يو، حتی پر ځان مين شعور هم باور لري چې بلاخره مري، موږ له خپل دغه باور څخه ځورېږو هم، په تخيل کې ارمان کوو، چې د تل پاتې ژوند پرچينه وربېښ شو، زموږ د همدغه زوږ او جمعي تخيل په نتيجه کې داسې افسانې لرو چې انسانانو د دغې چينې ناکامه لټې پيل کړې، خو مه دې شه! مرګ او بيا هم مرګ. پر مرګ تريخ باور زموږ په دننه کې پټ دی زړه بوږنوونکې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په ناخودآګاه کې ناسته ده او کله کله مو شعور مرورې، خو بیا هم ځانځاني ښامار «پرځان مین شعور» خپل استبداد ، تکبر او ځان ستاینې ته دوام ورکوي. د تروږمیو پرښته همدا پیغام له ځان سره لري خو پر ځان مین شعور یې په اسانه نه مني بالاخره زاری کوي چې بیا ژوند ورکړي خو بدرنګه بوډۍ ورته وايي:

خبر نه یې؟
اوس خو وخت ناوخته شوی دی بې شانه
په شاتګ هم بې فایدې دی ستا دپاره
ځکه ته به بیا تکرار کړې
کړي کړي ګناهونه
بیا به درومې، ځغلې ځغلې
ځانځاني پسې د ځان خپل... (۱۰ـ۱۰۱)

زړه بوډۍ یوازې د مرګ سمبول نه ده، دا پر مرګ د ترخه باور نښه هم ده او د هغې شکنجې رمز هم چې مرګ یې انسان ته د خپل حقیقت په وریادولو ورکوي، مرګ را روان دی خو تر رارسیدلو مخکې یې خپل باور زمونږ په ذهن کې کرلی دی، ددې بوډۍ غږ تل او هر ځای اوریدل کېږي.

* * *

ځانځاني ښامار ګڼ نور قراردادي او نوي سمبولونه لري چې خورا ډېر څه پرې لیکل کېدای شي، خو زه فکر کوم چې په دغه بحث کې د ټولو پېژندنه نه ځایېږي او له بلې خوا له ټول کتاب څخه همدا څو یې د کتاب د سمبولیک ارزښت د ښوولو لپاره کافي دي، خو هېره دې نه وي چې د هنري سمبولونو تعبیر متفاوت وي، کېدای شی درانه لوستونکي له ځینو دغو تعبیرونو سره نه وي موافق. خو زمونږ هڅه دا وه چې د اروا پوهنې له مخې ځینې هغه سمبولونه معرفي کړو چې د روحي بحران د ځینو برخو تمثیل یې کړی دی.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پينځم فصل

## په «ناآشنا سندرې» کې د کيسو رواني اړخ

له ځانځاني ښامار پرته اروابښاد پوهاند مجروح يو شمېر نور شعرونه هم لري چې ځينې يې په يوه بله مجموعه «ناآشنا سندرې» کې خپاره شوي دي. په دې شعرونو کې يو څو سياسي – ټولنيز پيغامونه لري، په ځينو کې د تاريخ د ترخه طنز نښې وينو او ځينې يې ټولنيزو نيمګړتياوو ته ګوتنيونه ده، يو يا دوه يې د اتلو او حماسو شخصيتونو په ستاينه کې ليکلي دي. موږ به يوازې د «ناآشنا سندرې» منظومو ته کتنه وکړو، چې له اروا پوهنې سره ارتباط لري.

ناآشنا سندرې د «شاعر» او «زماني» ترمنځ د مرکو هغه مجموعه ده چې د زاړه يونان له اساطيرو او افسانو (Myths) څخه غوره شوي دي. پيل يې د شاعر او زماني ترمنځ د يو رومانتيک او تغزلي بيان په راوړلو شوی دی بيا د «اورفيوس» او «اوريديسه» کيسه پيلېږي. د کيسې لنډيز دا سې دی: په قديم يونان کې يو شوريده شاعر اوسيده چې «اورفيوس» نوميده او يوه ښکلې پېغله چې «اوريديسه» نوميده پرې مينه شوه دوی سره واده هم وکړ خو يوه ورځ په يوه پېښه کې اوريديسه مار وچيچله او مړه شوه د هغې مين شاعر اورفيوس ډېر وځوريد او ژړا انګولا يې پيل کړه اسمانونو او ځواکمنو اروا ګانو ته يې زارۍ پيل کړې چې اجازه ورکړي د خپلې معشوقې د ليدو لپاره د مړيو دنيا ته سفر وکړي. اورفيوس دا سفر پيل کړ او د تناروس غار ته ورننوت، په خپل سفر کې يې ډېر ځواکمن ارباب الانواع وکتل او زارۍ يې ورته وکړې چې اجازه ورکړي اوريديسه بېرته د عشق د احترام په خاطر ورسره دنيا ته ستنه شي. د شاعر عاشقانه نغمو او ويرونو د هغو زړه نرم کړ او اجازه يې ورکړه چې اوريديسه ورسره ولاړه شي خو شرط يې دا و، چې په بېرته تللو کې به اورفيوس مخکې او اوريديسه به ورپسې وي او تر هغو چې د ژوند او مرګ له پولې نه وي اوښتي شاته به خپلې معشوقې ته نه راګوري، شرط ومنل شو او دواړه روان شول، خو اروفيوس چې د خپلې معشوقې وصال ليونی کړی و شرط يې هېر شو او په لاره کې يې مخ راواړه چې ووينې اوريديسه شته که نه، بس همدا کتل و او د شرط ماتيدل ناڅاپه يې مينه له مخې ورکه شوه، چې بيا يې هېڅکله ونه ليده شاعر له دې غمه ليونی شو او دنيا ته په راګرځېدو يې دا سې سوې نغمې پيل کړې چې کاڼو، بوټو او مرغانو ورته ژړل، د اورفيوس په نغمو نجونې او پېغلې مينې وې خو ده هېڅ توجه نه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته کوله بلاخره نجونو ورڅخه د کسات اخیستلو هوډ وکړ؛ ډبرې، نیزې او چړې یې راواخیستې خو هره وسله به د اورفیوس شاعر د نغمو په مقابل کې ویلې شوه او کار یې نه کاوه، نجونو چې دا حال ولیده نو شور ماشور یې پیل کړ او د شاعر د نغمو غږ یې ورک کړ، بالاخره غشې، نیزې او ډبرې په شاعر ولګیدې او هغه یې له پښو وغورځاوه، قهرجنو پېغلو د شاعر اورفیوس بدن ټوټې ټوټې کړ، د هغه سر یې په سیند کې وغورځاوه خو نغمې او شعرونه یې لاهم غلي نه شول آن چې ونو، اوبو او هر شي دغه نغمې تکرارولې بالاخره د ځنګلونو او سیندونو الهې د هغه د بدن ټوټې را غونډې کړې او په «لیبترا» نومې ځای کې یې خښې کړې. د هغه پر قبر یوه ونه شنه شوه او یوه بلبل په کې ځاله وکړه ویل کیږي چې د نړۍ تر ټولو خوږ غږی بلبل پر همدې ونه چغیده او د اورفیوس د مینې ترانې یې ویلې، ښایي شاعر به په هغې دنیا کې له خپلې معشوقې سره یوځای شوی وي خو نغمې یې دلته جاویدانې پاتې شوې.

* * *

بله کیسه د انګۍ او نرګس ده. انګۍ په یونان کې یوه ښکلې الهه وه او مور یې پرې انګۍ «انګازه» نوم ایښی و، دغې ښکلې او بې پروا شهزادګۍ یو بد عادت درلوده چې خبر لوڅه وه او ډېره به غږیده، د هر چا وروستۍ خبره به یې تکراروله، یوه ورځ په یوه پېښه کې ددې د ډېرو خبرو له امله ارباب الانواع پرې وخښمیدل او هغه یې له ژبې څخه محرومه کړه داسې چې یوازې وروستۍ خبره یې تکراروله او بس، نور یې څه نه شو ویلای، د انګۍ همدا جزا بس نه وه یوه ورځ په یوه ښکلي زلمي ورپېښه شوه چې نرګس (Narcissus) نومیده، نجلۍ زړه بایلو ده خو نه یې شو کولای دغه زلمي ته خپله مینه اظهار کړي ځکه ژبه یې بنده شوې وه، نرګس چې په ښکار وتلی و نو په خپلو ورکو ملګرو پسې یې غږ کړلو انګۍ د هغه غږ تکراراوه، نرګس حیران و چې دا څوک ده، بالاخره نجلۍ وغوښتل ښکلی نرګس په غیږ کې ونیسي خو کبرجن زلمي کبر وکړ او له هغې څخه یې ځان لرې کړه، انګۍ له دې غمه پر ځنګل ننوته، ورکه شوه خو غږ یې د تل لپاره پاتې شو، نن هم چې تاسو په غره کې ناره وکړئ نو د خپلې نارې انګازه به واورئ، دا هماغه انګۍ ده چې ځواب درکوي. ښه، انګۍ خو ولاړه خو راځئ وګورو چې د نرګس برخلیک څه شو، هغه چې خپل حسن ته ډېر مغرور و نو نه یوازې د انګۍ بلکې د ډېرو ښکلو نجونو زړونه یې ورمات کړي وو او د ټولو ښیرواې ورپسې وې بالاخره د انتقام الهې دغه ښیراوې قبولې کړې او نرګس یې په غم اخته کړ، هغه داسې چې، یوه ورځ نرګس غوښتل اوبه وڅښي، کله چې چینې ته ورکوز شو په اوبو کې یې خپل مخ ولید، ګومان یې وکړ، چې بل څوک دی بس زړه یې پرې بایلود، نرګس پر خپل عکس مین شو او دې مینې یې پر ژوند اور ولګاوه، نرګس د خپلې مینې له غمه خواریده او چیغې به یې وهلې، خوارې انګۍ به د هغه چیغې تکرارولې او نرګس به ویلې کیده بالاخره د هماغې چینې پر غاړه د عشق له غمه مړ شو، پر چینه یو ګل را وټوکیده چې سپینې پاڼې او ژیړه سترګه یې درلوده، دغه ګل اوس هم نرګس بولي چې لکه یوه سترګه دې بې وفا دنیا ته حیرانې حېرانې ګوري.

دا کیسې د (Mythology) یا اسطورو د منطق له نظره د پخواني یونان عقاید او له تخییلی ارباب الانواعو سره د انسانانو د اړیکو څرنګوالی ښیي او له ادبي – هنري پلوه د هغه مهال په زړه پورې روایات دي ځکه موږ وینو چې عشق، طبیعي انځورونه، او رومانتیک مناسبات او عالي تخییل په دغو کیسو کې له ورایه ښکاري، د کیسو جوړښت په خپل افسانوي انداز کې خپل ادبي ارزښت هم لري. خو موږ په

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې بحث کې پر دغو ارزښتونو نه غږېږو او حتی د استاد مجروح د شاعرۍ په رنګینیو او سبک هم بحث نه کوو. زما په نظر «ناآشناسندرې» د اروا پوهنې له نظره هم د اهمیت خاوند اثر دی، د دغه شعر ځینې سمبولونه موږ د اروا پوهنې دنیا ته بیایي او د انسان په دننه کې پېښې تداعي کوي. د اورفیوس، انګۍ او نرګس د کیسو پېښې که له یوې خوا په بهرنۍ دنیا او د طبیعت په غېږ کې پېښیدلای شي یو بل تصور یې دا هم دی چې هر شخصیت او کرکټر د انساني روح او یوې ښکارندې سمبول وي او پېښې دې په بهرنې چاپېریال کې نه، بلکې دننه په انسان کې پېښې شي او شاعر دې وغواړي چې دغه اروا ییې رمزو راز او پیچلې اړیکې د داسې خوږو کیسو په مرسته تمثیل کړي. راځئ وګورو له همدې اړخه د ناآشناسندرې اثر څنګه تعبیرولای شو.

د اورفیوس او اوریدیسه د کیسې لویه برخه هغه پېښې دي چې اورفیوس شاعر یې د مړیو په دنیا کې ویني. اورفیوس د خپل تخیيل په مرسته د تناروس غار ته ننوځي او هلته د ماورالطبیعه شخصیتونو سره ملاقات کوي.

نه پوهیږم ولې، له ډېر قدیمه انسان تلوسه لري، چې د هغې دنیا په راز پوه شي او وپوهیږي چې وروسته له مرګه پر انسان څه راځي او څه ډول ځای ته ورځي. ګېل ګمېش همداسې تلوسې د بلې نړۍ سفر ته اړ یوست، دو شیانته پاچا له شیطانانو سره د جګړې په پلمه اصلاً د خپلې محبوبې «شکونتلا» مینې اسمانونو ته ورساوه او هلته یې خپله شکونتلا بیا ومونده، سړی ویلی شي چې د اورفیوس کیسه د شکونتلا د افساني بل وریانت دی.

دانته هم د خپلې معشوقې «بیاتریسه» په مرسته د بلې دنیا سفر پیل کوي او دوزخ، برزخ او جنت ګوري. (۱۹-PP)

په شرقي عرفان کې پیر د خپل مرشد لاس نیسي او د مانا دنیا ته سفرونه کوي، او په «حال» کې د ملکوت د دنیا سیاحت کوي.

اروا پوهنه په دې نظر ده چې داسې اروا یي سفرونه د تحت الشعور ساحې ته د ورتللو په مانا ده، ځینې به په وجد او جذبه کې ورځي او شاعر و لیکوال به د تخیيل او تفکر په مرسته ورځي.

د تحت الشعور دنیا خورا مهمه ده، هلته د مړیو په اړه خاطرات او تصورات خوندي دي.انسان چې له چا سره مینه لري او دغه مینه یې عاطفي، غریزي او په مجموع کې رواني ځواکونه تر اغیز لاندې نیسي نو د مینې ګڼ خاطرات د تحت الشعور ساحې ته رسوب کوي، چې بیا ببرته د فوران پر مهال د انسان شخصیت، اعمالو، کړووړو، تفکر او احساساتو ژور غیزښندي.

موږ مخکې هم اشاره ورته وکړه، چې فروید باور لري چې جنسي تمايلات او غرایز تر ټولو اغیزمن ځواک دی چې د انسان تحت الشعور او شعور دواړه تر اغیز لاندې لري، ځکه خو ډېر ځله انسان په خپلې هغې ورکې پسې ګرځي چې د غه تلوسه یې په روح کې خروب کړای شي، انسان په خپله ناخودآګاه کې د خپلې ورکې معشوقې لټه پیل کوي د هغې خاطرات را سپړي او غواړي بیا څو شیبې له هغې سره واوسي. د اورفیوس کیسه ښیي چې ورکې معشوقې ته رسیدل به ممکنه وي خو د لنډې مودې لپاره. تحت الشعور ته د ورتللو لارې ارادي نه دي، هلته چې هر څه پیښیږي هغه هم زموږ په اراده کې نه دي، اورفیوس ونه شو کړای له اوریدیسې سره ډېر وخت تېر کړي هغه ورځخه ورکه شوه او دغه دوهم ځل ورکیدو د شاعر روح

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې وځاپه چې د سويو کړيکو او سوځوونکو نغمو شور يې دنيا ليونۍ کړه. دعالي هنر او شعر سرچينه همداسې سوز او شور دی. که موږ غواړو د ادبياتو او هنر ارواپوهنه وڅېړو نو بايد د انسان دغه ډول رواني خصوصيت ته پام وکړو.

د اورفيوس د سفر دغه برخه ولولئ:
چې پيدا کړي خپله ورکه «اوريديسه»
نو روان شو د تورتم جهان په لوري
د ارواحو د امواتو قلمرو ته
«تناروس» د غار له خولې نه
ښکته لاړ د ځمکې تل ته
لومړی تېر شو د ارواحوا د اشباحو له هېواده

د استاد مجروح يو بل اتل « د ځانځاني ښامار لاروی» هم کټ مټ همداسې يو سفر پيل کړی او د تحت الشعور سمڅو ته ننوتلی و، يوازې په دې توپير چې هغه د ژوند مانا لټوله او اورفيوس خپله معشوقه غوښته، دواړه پلټنې په تحت الشعور کې ترسره شوې، هلته هم د شين کميسې شاليلی وجود تر سترګو کېږی او دلته هم شاعر اورفيوس داوريديسه ديدن کوي.

عجيبه ده چې اوريديسه په هغې دنيا کې هم ګوډه ګوډه ځي ځکه په دې دنيا مار په پښه چيچلې وه.
اوريديسه يې احضار کړه
د ارواحو له کتاره
اوريديسه مار چيچلې
ګوډه ګوډه را نږدې شوه... (۷.۲۰)

شاعر اورفيوس د خپلې معشوقې مرګ هومره ځورولی چې د خپلې معشوقې وروستی تصور يې د يوه رواني ګروم په توګه خپل کړی دی، اوريديسه د هغه په تحت الشعور کې هم ګوډه او سيږي او دا ده د شعور او تحت الشعور ترمنځ د يوې مخامخ اړيکې يوه غوره بيلګه.

د ناآشنا سندرې لومړۍ برخه د ارواپوهنې له نظره د تحت الشعور يو په زړه پورې تمثيل دی. د زاړه يونان راوي په دې نه پوهيده چې شاعر اورفيوس بلې فزيکې نړۍ ته نه دی تللی، بلکې هغه په ځان کې ننوتلی، خپل لاشعور ته ورغلی او هملته يې خپله غريزه «اوريديسه» ليدلې ده.

خو د انګۍ او نرګس کيسه بيا بيله ده، دا کيسه د نرسيسيزم (Narcissism) د مهمې رواني ځانګړتيا ريښه را پېژني او يو ادبي روايت يې د زړو يوناني اسطورو له منځه را اخيستی دی. تردې وړاندې چې د نرسيسيزم په اړه بحث ته راشو، وبه ګورو چې انګۍ څه ډول يو سمبول دی. په کيسه کې مو وليدل چې انګۍ ښکلې الهه ده خو يو څه شوخه او خبرلوڅه ده.

له رواني پلوه انګۍ او نرګس د انسان دوه متضاد خصلتونه ښيي. انګۍ نورو ته پام ساتي، څاري يې او د بل په خبرو کې ورلوېږي، انګۍ د بل غږ تکراروي او تر څو «بل» څه ونه وايي دا چوپه وي، د بل عيب لټول د انسان يو منفي عادت دی، که انګۍ د نورو په چارو کې غرض نه کولای د ارباب الانواعو په ښېرا به نه اخته کېده، راځئ د استاد مجروح له خولې يې واورو چې انګۍ ولې په ښېرا اخته شوه:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ د ورځ «ژونونو»
مقتدره رب النوعه چا خبر کړه
چې مېړه یې «ژوپیتر»
د ځمکو اسمانونو خود مختاره زمامدار
چېرته پټ پټ د ځنګلونو او چینو له الهو سره
کوي بوس و کنار
«ژونونه» شوه حسوده
تروره ګرځېدله خپل مېړه یې لټولو
مخامخ شوه له انګی سره
«انګی» پیل کړو په خبرو
«ژونونه» دومره شوه په سوال ځواب مصروفه
چې الهو فرصت پیدا کړو
زر زر لاړې شولې پټې هره خوا
چې «ژونو» شوله خبره له احواله
نو له قهره یې انګی ته داسې وویل:
ای بې شرمی خبر لوځې... (۲۰ـ۱۴)

وايي «چې نه کار هلته دې څه کار» د انسان له ناسمو عادتونو څخه همدا دی چې د نورو په چارو کې ځان بوختوي خو ډېره ځله د نورو منفي چارې پلټي، انګی د همدې عادت سمبول دی. خو نرګس ددې پر عکس پر ځان مینتوب، له ځانه د رضایت او په خپلو ښېګڼو کې د ورکیدو نښه ده.

دغه افسانه وايي چې دواړه عادتونه ښه نه دي او نتیجه اخلي چې هم د نورو په چارو کې منفي لاسوهنه او هم پر ځان غره توب د جزا وړ دي، تاسو ولیدل چې انګی او نرګس دواړه د ارباب الانواعو له خوا مجازات شول.

* * *

خو راځئ وګورو چې پر ځان مینتوب (Narcissism) څه ته وايي؟ ویکیپېډیا پر لیکه دایرة المعارف یې داسې پېژندنه را اخیستې ده:

Narcissus, the Greek hero after whom narcissism is named became obsessed with his own reflection.

The term narcissism means love of one self, and refers to the set of character traits concerned with self – admiration, self – centeredness and self – regard.

The name was chosen by Sigmund Freud, from the Greek myth of Narcissus. Who was doomed to fall in love with his own reflection in a pool of water?

While almost everyone is narcissistic to some degree, certain forms of narcissism can be highly dysfunctional, and are classified as pathologies such as the Narcissistic personality disorder and malignant narcissism.

***<u>http;//en.wikipedia.org/wiki/Narcissism.</u>***

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: « نرګس يوناني اتل دی چې ترده وروسته نرسيسيزم دهغه په نامه شو ، چې د خپل تصوير په ليدو رنځور شو «رواني عقده يې واخيسته». د نرسيسيزم د کلمې مانا له خپل ځان سره مينه ده او د انسان په شخصيت کې د هغې ځانګړنې «خصيصې» نوم دی چې ټول پام يې د ځان ستاينې او ځان ته د حيرانتيا په اړه وي. ځان د هر څه مرکز ګڼي او غواړي نظر او پام پر ځان ولري. دا نوم زيګموند فرويد ايښې دی. هغه دا نوم له هغې يوناني اسطورې څخه اخيستی و چې په هغه کې نرګس ته پر ځان د مينتوب جزا ورکړل شوه، هغه خپل مخ د اوبو په ډنډ کې وليد او په ځان يې زړه بايلوده.

د يادولو وړ ده چې هر انسان له ځينو اړخونو څخه پر ځان مين (Narcissistic ) دی. د نرسيسيزم بېلا بېل ډولونه د يوې نميګړتيا «معلوليت» يا روحي ناروغۍ په توګه يادولای شو.

د آسيب پېژندنې «طبي علومو» له نظره په بېلا بېلو ځانګو دغه ويشل شوې ناروغي ګواښمنه ده او د يوه اختلال او روحي بې نظمۍ بڼه لري».

همدې انسايکلوپيډيا يې لنډ تعريف داسې را اخيستی:

«د ځانځانۍ، ځان ته د پام د معلوليت پر اساس بې حده او افراطي پر ځان مينتوب ته نرسيسيزم وايي چې د انسان يو رواني ځانګړتيا ده».

پخپله د نرګس پښتو کلمه هم د يوناني (Narciss) څخه اخيستل شوې ده، نو کولای شو په پښتو کې دغې رواني ځانګړتيا ته «نرګسيت» هم ووايو.

د شخصيت جوړونې پوهان او د ټولنپوهنې هغه متخصصان چې د فرد او ټولنې پر اړيکو څېړنه کوي په دې باور دي چې د منفي نرګسيت يا نرسيسيزم لوی عيب دا دی چې وګړی د شخصيت جوړونې په بهير کې د ځان اصلاح ته پام نه کوي. ځکه پر ځان مين شعور يا په نرسيسيزم اخته روان په ځان کې کمی او نيمګړتيا نه شي موندلای ځکه خو د اصلاح لټه نه کوي. نامتو شخصيت څېړونکې ميرمن هيلن چاکټر په خپل کتاب «شخصيت څنګه وده کوي» کې په دې بحث کوي چې څنګه بايد ځان ته له يوې بې غرضې زاويې وګورو او پرته له دې چې پر ځان مين شعور مو مخه ونيسي تل د ځان د اصلاح لپاره هڅه جاري وساتو:

«خپل ځان په داسې حيث مطالعه کړه لکه يو «بېل» شخصيت چې دی او ځانته خصوصيات او مقومات لري.

پخپل ځان کې په دايمي ډول تغيرونه راوله، هغه تغيرونه چې ته يې لازم او ضروري بولې او ددې مشق او تمرين څخه هېڅ کله غافل مه اوسه او کهالي مه په کې کوه». (۲۲ـ۲۴)

خو هغه څه چې د يوه علمي اصل په توګه مهمه ده او مخکې د نرسيسيزم په تعريف کې اشاره ورته وشوه هغه داده چې هر انسان له يوه اړخه نرسيسيت دی، يعنې په هر شخصيت کې دغه رواني ځانګړنه شته، صوفيانو به ويل چې د نفس زنداني کول هم د ځان دمعنوي ګټې لپاره يوه هڅه ده، مانا دا چې بيا هم د «زه» لپاره کوښښ کول دي.

له «خودي» سره د نرسيسيزم توپير دا دی چې لومړی هغه يو فلسفي مفهوم دی، خو نرسيسيزم د اروا پوهنې يوه داسې اصطلاح ده چې د انسان په شخصيت، کړو وړو او روحي عکس العملونو کې يې علايم او نښې د پېژندلو وړ دي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فروید فکر کاوه چې په یوه عادي فرد کې نارمل نرسیسیزم ورانوونکی نه دی او ټولنې ته د زغملو وړ وي. خو دغه رواني ځانګړنه که په یوه برخه کې د افراط تر بریده ورسیږي چې یا خپله د انسان نور استعدادونه، توانمندۍ او روحي سلامت وران کړي یا خو بل وګړي او ټولنې ته زیان ورسوي، بیا نو د یوې روحي ناروغۍ نوم ورکولای شو.

د نرسیسیزم لپاره یو وګړي په خپل ځان کې بېلا بېل څه موندلای شي. څوک له خپلې څېرې او ښکلا سره، څوک له جامو سره، څوک له خپل کوم استعداد سره او څوک له خپلې روغتیا یا کوم بل عادت سره افراطي مینه لري. اروا پوهان وایي چې د وخت په تېریدلو سره دغه مینه په روحي وسواس بدلیدای شي.

د څېرې – استعداد یا ظاهري کړو وړو په اړه نرسیسیزم د نورو د نظر له مخې هم رامنځ ته کیدای شي، د یوې مشهورې فلمي ستورې په اړه یوه کیسه شته چې ټولو یې د مخ د ښکلا او سپین والي صفت کاوه، دغې اداکارې له خپل پوستکي سره دافراط تر بریده احتیاط کاوه، د خپل جلد بیمه یې له یوه لوی شرکت سره په لکونو ډالره کړې وه، یو ځل د شوټنګ پر مهال د لرګي یوه وړه ټوټه یې پر وچولي ولګیده او لږ یې مخ ټپي شو.

ددغې فلمي ستورې د بیمې شرکت یو میلیون او اته سوه زره ډالره ولګول چې پر وچولي یې د ټپ داغ پاتې نه شي، ددغه ټپ اندازه د یوه نوک نیمایي هومره وه خو دغه مشهوره اداکاره ورته څو میاشتې وځوریده.

په ټولنیزو چارو کې پر خپله مفکوره ودریدل او ټینګار او ځانته حق په جانب ښکاریدل هغه مهال په منفي نرسیسیزم بدلیږي چې شخص ښه باور ولري، چې دده خبره ناسمه ده او علمي اساس نه لري خو بیا هم ماته نه شي زغملای او د خپلې ناسمې خبرې د زباد ولو لپاره سل ډوله دلایل راوړي. دا د غیر نارمل نرسیسیزم یو شکل دی.

را به شو د استاد مجروح «نا آشنا سندرې» ته، کیسه په پوره خوږلنۍ او هنري ژبه موږ ته د نرسیسیزم یوه ابتدایي بیلګه را پېژني او په خورا په زړه پورې ډول یې له یوه بل رواني خصوصیت «په نورو پسې خبرې کول او یا یې په چارو کې بې ځایه ځان ښکېلول» سره یو ځای راوړي، د دواړو عادتونو انجام هم ښیي، دا په حقیقت کې د انسان پر ځان مین شعور، د نورو په چارو کې بې ځایه غرض، دننه په ځان کې سقوط او له ټولنې سره پر اړیکو یې اغیز په تمثیلي او هنري ژبه ارائیه کول دي چې زموږ پیاوړي اروا پوه شاعر په بریالیتوب ترسره کړي دي.

## پایله:

اروا پوهنه نوی علم دی. خو په نورو علومو او هنرونو کې یې ریښې خورا لرغوني دي. په زړو اساطیرو او افسانو کې د انسان د رواني ځانګړنو په اړه څرګندونې شته. په شرق کې عرفاني ادبیات د انسان د رواني تمایلاتو، غوښتنو، پوښتنو او ځینو انګیزو رمزونه منعکسوي. په هغه ډول چې ځینې مهم فلسفي افکار په عرفاني او ادبي آثارو کې راغلي د انسان یو شمېر رواني ځانګړتیاوې هم معرفي شوې دي، چې د تحت الشعور د ساحې نښې، عشق، غریزي میلان، غمونه، خوښۍ، هیجانات او نور احساسات یې د یادولو وړ دي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معاصرو پښتو ادبیاتو کې استاد مجروح لومړنی یا په لومړنیو لیکوالو او شاعرانو کې تر ټولو وتلی شاعر او لیکوال دی چې د اروا پوهنې د نوي علم مسایل یې په خپلو ادبي لیکنو او شعرونو کې شامل کړي دي.

ځانځاني ښامار د اروا پوهنې له نظره هغه ادبي اثر دی چې د دغه نوي علم یو شمېر ارونه او بحثونه یې د هنر په ژبه را پېژندلي دي.

د فروید او د هغه د پیروانو د ځینو نظریاتو او موندنو په اړه په ځانځاني ښامار کې په زړه پورې تمثیلونه شته، مثلاً موږ چې د غه اثر لولو نو پوهیږو چې «زه» (Ego) څه ډول رول لري، اید (ID) او Super (Ego څه دي او څه ډول د انسان پر روحي نړۍ کې موازنه ساتي. استاد مجروح په ځانځاني ښامار کې د ځینو نامتو فیلسوفانو، لکه اپلاتون او ژان پل سارتر نظریات هم څېړلي او شک یې پرې کړی دی.

په ځانځاني ښامار کې هڅه شوې ده چې عشق، خودي، عقیدې، غریزو، ځپل شویو عواطفو، زړو او هېرو شویو خاطرو او نورو ته له نوې زاویې څخه وکتل شي او معرفي شي. په دغه اثر کې د روح او د هغې د جوړونکو عناصرو ترمنځ خورا پېچلې او نه لیدل کېدونکې اړیکې څېړل شوي دي، چې بشر یې له آدمه تردې دمه د پېژندلو هڅه کوي.

په ځانځاني ښامار کې وینو چې زړو یادونو څنګه زموږ په شخصیت کې ځان پټ کړی او موږ په کرار نه پرېږدي، کېدای شي د داسې یادونو او خاطرو عمر زرګونو کلونو ته ورسیږي. په ښامار کې د شعور او تحت الشعور په زړه پورې تمثیل شوی دی او د روحي پېښو، انګیزو او پدیدو پېژندنه د په زړه پورې سمبولونو په مرسته شوې ده. ددې تر څنګ د استاد مجروح ناآشنا سندرې هم داسې یو هنري اثر ګڼلی شو چې د اروا پوهنې ځینې آرونه یې تمثیل کړي دي.

دا بحث یو ځل بیا ثابتوي چې د اروا پوهنې د پېچلیو مسألو د معرفي لپاره ادبیات ښه وسیله ده او دا د ادبیاتو هغه رول دی چې له پېړیو پېړیو راهیسې یې لري. اروا پوهنه چې د هر فرد لپاره مهمه پوهنه ده او د ځان پېژندنې لپاره غوره وسیله ګڼل کېږي بشپړ ساینسي زده کړه یې د هر وګړي لپاره مقدوره نه ده، ځکه خو یې د عمومي بحثونو د پېژندلو لپاره د ځانځاني ښامار په څېر آثار خورا په زړه پورې او ګټور دي. ځوان نسل که غواړي د انسان، ټولنې او طبیعت د پېژندلو لپاره ادبیات استخدام کړي نو ځانځاني ښامار او د استاد مجروح نور شعرونه ورته ښه موډولونه ګڼل کېدای شي.د استاد مجروح په آثارو کې د روحي بحرانونو دلایل، څرنګوالی او پایلې په هنري ژبه څېړل شوي دي، ده د انسان وجود او روحي دنیا داسې تمثیل کړې ده چې پېښې یې په بهرنۍ دنیا کې هم پېښېدلای شي او که د اروا پوهنې له زاویې څخه ورته وکتل شي نو دانسان د روحي دنیا جوړښت هم را پېژني.

زما په ګومان د استاد مجروح یاد شوي آثار له یو بل اړخ څخه هم ګټور دي او هغه دا چې که زموږ ځوان شاعران، لیکوال او هنرمندان غواړي علمي بحثونه او داسې مسایل چې دانسان په روحي جهان پورې اړه لري په خپلو پنځونو کې مطرح کړي نو د ګڼو نړیوالو شهکارونو تر څنګ دې د اروا ښاد پوهاند سید بهاؤالدین مجروح پښتو آثار هم نه هیروي. چې مطالعه یې کړي او دا زده کړي چې څنګه دا مسایل په ادبیاتو او هنر کې وپیې.

پای

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځونه:

۱. اپلاتون. ***جمهور***. فواد روحاني «ژباړه». شرکت انتشارات علمي و فرهنګي. شپږم چاپ. ۱۳۷۴هـ ش. تهران.

۲ـ پرتوي، م. ***زیبایي شناسي نوین***. کمیته دولتي. طبع و نشر. مطبعه دولتي. ۱۳۲۳هـ ش. کابل.

۳. چاکټر، هیلن. ***شخصیت څنګه وده کوي***. د م. عبدالخالق واسعي ژباړه. پښتو ټولنه. ۱۳۴۰هـ ش. کابل.

۴ـ خټک، خوشال خان. ***کلیات*** «دوهم ټوک». د افغانستان د علومو اکاډمۍ، آریانا مطبعه، ۱۳۶۹هـ ش، کابل.

۵ـ خټک، خوشال خان: ***د خوشحال کلیات***، د افغانستان د علومو اکادیمي، دولتي مطبعه، ۱۳۵۹هـ ش، کابل.

۶ـ دانته، ***کمدي الهی*** «۳جلده»: شجاع الدین شفا «ژباړه» څوارلسم چاپ، موسسه انتشارات امیر کبیر، ۱۳۸۴، تهران.

۷ـ روهي، محمد صدیق: ***ادبي څېړنې***، دانش خپرندویه ټولنه، دوهم چاپ، دانش مطبعه، ۱۳۸۲هـ ش، پېښور.

۸ـ شاملو، احمد. ***ګیل ګمېش***. نشر چشمه، څلورم چاپ، ۱۳۸۵هـ ش، تهران.

۹ـ غضنفر، اسدالله: ***پیغامونه پټ پراته په افسانو کې***، څولۍ «مجله» دویم کال، لومړۍ او دویمه ګڼه، ۱۳۸۲هـ ش، کابل.

۱۰ـ فروید، زیګموند: ***داستایوسکی و پدر کشي***، حسین پاینده «ژباړه» ارغنون «مجله» ۳مه ګڼه، ۱۳۷۳هـ ش، تهران.

۱۱ـ فروید، زیګموند: ***روانشناسي***، مهدي افشار «ژباړه»، لومړی چاپ، انتشارات کاویان، تهران.

۱۲ـ کالیداس. ***شاکونتالا***. د مونیرو ویلیمز ژباړه «انګریزي» د م.ع. صدیقي ژباړه «فارسي». د اطلاعاتو کلتور وزارت. ۱۳۴۲هـ ش. کابل.

۱۳ـ ګردر، یوستین: ***دنیای سوفي***، حسن کامشاد «ژباړه»، شپږم چاپ، انتشارات نیلوفر، ۱۳۸۱هـ ش، تهران.

۱۴ـ مجروح، سیدبهاالدین: ***اژدهای خودي*** «دفتر اول و دوم»، اداره نشر کتب کلید، ۱۳۸۵، کابل.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۵ـ**مجروح، سیدبهاالدین: ***ځانځاني ښامار***، د کلید د کتاب خپرولو اداره، دوهم چاپ، **۱۳۸۵**هـ ش، کابل.
**۱۶ـ**مجروح، سیدبهاالدین: ***د جبر او اختیار دیالکتیک***، دوهم چاپ، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، **۱۳۵۳**هـ ش، کابل.
**۱۷ـ**مجروح، سیدبهاالدین: ***ناآشنا سندرې***، د کلید د کتاب خپرولو اداره، **۱۳۸۵**هـ ش، کابل.
**۱۸ـ**مورنو، انتونیو: ***یونګ و خدایان انسان مدرن***، داریوش مهرجویي «ژباړه» **۱۳۷۶**هـ ش، تهران.
**۱۹ـ**یوریپډس، د ټرای ښځې، (د اسد آسمایي او عبدالغفور لېوال پښتو ژباړه) د افغان کلتوري ټولنو جرګه، دانش مطبعه، ۱۳۸۷هـ. ش کابل.
**۲۰ـ**یونګ، کارل ګوستاو: ***انسان و سمبولهایش***، ابوطالب صارمي «ژباړه»، موسسه انتشارات امیر کبیر، **۱۳۵۲**هـ ش، تهران.

Downloaded from: Ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**